شهامت

دیارلسم کال، دویمه، پرلپسې۸۲مه ګڼه،
محرام الحرام ۱۴۴۲هـ ق، اګست –۲۰۲۰م

هو! سوله بښه نيت اوسپېڅلي اراده غواړي!!

- د اشرف غني اسره تر چا ده ؟
- په ليبيا کې د مصر او ترکيې مخامختيا
- معامله امارات و اسرائيل بر لاشه فلسطين

د مرحوم ستر مجاهد الحاج مولوي

جلال الدين حقاني رحمه الله

د دويم تلين په اړه ځانګړې مقالې :

- مرحوم حقاني صاحب، د حقانيت حقه لار!
- د وفا، تقـوا او سـخاوت مـنار
- يو نابغـة الزمـان حقاني...
- د ملت افتخار او د تاريخ وياړ حقاني
- د جهاد له نوم سره به يې نوم تل ژوندى وي!
- تاريخ جـوړوونکى پلار!
- د حقاني صاحب رحمه الله څو خاطرې او يادابښتونه!
- حقانی صاحب بزرګ از نګاه يک جوان افغـان
- حقانی بزرګ؛ رادمردی از تبار قدسيان

يهودان فلسطين ته څنګه او له کومه راوړل شول ؟

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

ديارلسم کال، دويمه، پرلپسې۲مه گڼه، محرم الحرام۱۴۴۱هق، اگست ۲۰۲۰م

دامتيازخاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنگي چارو کميسيون

مسؤل مدير :

ابو ظهير

کتنپلاوی :

لطيف عزم
حسن '' علوي'' بلال ''وحيد''
نعيم '' صافی '' عابد مجاهد
قاري حبيب

بيه :

يوه گڼه ۳۵ افغانۍ او ۶۰
کلدارې په پاکستان کې

تخنيکي مسؤل :

تخنيکي څانگه

يادونه

شهامت له سرمقالې پرته دنورو
ليکنو مسؤليت په غاړه نه اخلي.

لړليك

گڼه	عنوان	مخ
۱	سرليکنه..	۱
۲	مرحوم حقاني صاحب، دحقانيت حقه لار!	۲
۳	د وفاء ، تقوا او سخاوت منار....................................	۴
٤	يو نابغة الزمان حقاني!	٦
۵	د جهاد له نوم سره به يې نوم تل ژوندی وي!..................	۱۰
٦	د ملت افتخار او د تاريخ وياړ حقاني............................	۱۲
۷	ما درته ويل ندې مثله	۱۷
۸	د اشرف غني اسره ترچا ده ؟	۱۸
۹	معامله امارات و اسرائيل برلاشه فلسطين	۲۰
۱۰	يهودان فلسطين ته څنگه او له کومه راوړل شول ؟	۲۲
۱۱	دردوونکی ترون او مظلوم فلسطينيان	۲۵
۱۲	وروستی مرموزې وژنې ولې او د چا لخوا؟	۳۰
۱۳	دکابل وحشي عسکر...که د امريکايانو تبرونه ؟....................	۳۱
۱٤	جايگاه علمی ام المؤمنين عائشه رضي الله عنه	۳۳
۱۵	په ليبيا کې دمصر او ترکيې مخامختيا	۳۵
۱۵	گلورينې پاڼې	۳۸
۱٦	تاريخ جوړوونکی پلار!...	۴۰
۱۷	حقاني بزرگ؛ رادمردی از تبار قدسيان	۴۳
۱۸	حقانی صاحب بزرگ او زنگاه يک جوان	۴۴
۱۹	دحقاني صاحب رح څو خاطرې او يادابنتونه	۴٦
۲۰	د فکري جگړې اصول ، اهميت او ضرورت!..........................	۵۰
۲۱	ترکان، تر عثماني خلافته!..	۵۷
۲۲	غامديت د اوسني عصر لويه فتنه......................................	٦۰
۲۳	دشهيد مولوي قاري سيد آغا يعقوب ژوند ته کتنه	٦۴
۲۴	د سوداگرۍ او اقتصادي ودې په اړه د اسلامي حکومت مسئوليتونه	٦۷
۲۵	په قلم د ليکلو کتې	۷۱

ادرس : کابل کارته پروان عقب سينمای بهارستان بريښناليک : Sham.shahamat@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

هو! سوله ښه نیت او سپېڅلې اراده غواړي!!

تیر (۱۳۹۸)ل کال، دکب په ۱۰ مه نیټه دامریکا او د افغانستان اسلامي امارت ترمنځ دشوې تاریخي هوکړې له مخې ټاکل شوې وه چې د کب په ۲۰ (دمارچ په لسمه) مه نیټه به بین الافغاني مذاکرات شروع کېږي، لیکن کابل اداري په نامشروع دلایلو، جعلي بهانواو مجرمانه ناغیړیو دبین الافغاني خبرو د پیلیدو پروسه د اوږده ځنډ ښکار وګرځوله

اوس چې له اوږده انتظار اود زیاتو فشارونو وروسته ټول بندیان پریښودل شوي، د دواړومتخاصمو خواوو ترمنځ دمخامخ مذاکراتو پیلیدو پر وړاندې پراته خنډونه له منځه تللي دي، تمه ده چې ډېر ژربه هیوادته دسرتاسري سولې راوستلو او د اشغال دبشپړې خاتمې لپاره بین الافغاني ډیالوګ هم رامنځته اوشروع شي

بل پلوافغان ولس لپاره د ډاډ وړ ده چې د دوحې هوکړې له هغه ژمنې سره سم چې امریکایي ځواکونه به د ۱۴ میاشتو په موده کې په مکمله توګه افغانستان تخلیه کوي، پرته له کوم توقف څخه عمل روان دی او د امریکایي ځواکونو د انخلاء لړۍ په تیزۍ سره جریان لري، او په دې لړکې د امریکا د دفاع وزیر دا اعلان "چې په نږدې راتلونکي کې به امریکا خپل نور درې زره پوځیان له افغانستانه وباسي"دکتونکو په اند لا ډاډبښونکی دی؛ ولې که امریکایان همداسې د دوحې هوکړې ته په ژمنتیا لرلو دخپلوعسکرو د انخلاء بهیر روان وساتي نو باور شته دی چې افغانستان به ډېر ژر د اشغالګرو له نحوست څخه ازادي ومومي اوپه هغه صورت کې دکوم شک اوشبهې پرته یقین کېږي چې بین الافغاني مذاکرات او ډیالوګ به بالاخره هیوادته د دایمې سولې اوثبات په راوړلو منتج شي .

البته دبیطرفه سیاسي چارو له کتونکوسره دا اندیښنه شته چې دکابل اداره د تلپاتې سولې اوثبات په اړه صادقانه اراده اومخلصانه نیت نلري ، دهغوی په نظر دارګ دقول اوعمل ترمنځ زیات تضاد لیدل کیږي، دمذاکراتي پلاوي په ترکیب کې د کمزوریو او کم واکه اشخاصو خایول دا پیغام لیږدوي چې په ارګ کې ناسته دسولې ضد مافیا دسولې سبوتاژ کولو لپاره د نورو بهانو اوپلمو په تراشلو بوخت دي، او غواړي د کمزورو او بې واکه خلکو په نوملو سره د کلیدي موضوعاتو واک او اختیار بیا هم له ځان سره وساتي.

هرچې دافغانستان اسلامي امارت دمذاکراتي پلاوي دواک په اړه پوښتنه ده، دسیاسي کارپوهانو په وینا: دامارت په ممکنه پلاوي کې به یوشمیر لوړ پوړي مشران هم ګډون و لري، چې دا کار پخپله د مذاکراتو د اهمیت او دسولې د ضرورت درک کولو په اړه د امارت واقعبینانه کردار او ښه نیت څرګندوي .

ولې جوته ده له کله راهیسې چې دسولې لپاره کوښښونه پیل شوي اسلامي امارت په ټولو پړاونو کې دجعلي پلمو یا بهانو دتراشلو پر ځای د سولې په ارتباط مسؤولانه ګامونه پورته کړي دي اوپه ډېرښه نیت اوسپېڅلې اراده یې د سولې خبرو او بحثونو ته اهمیت ور کړی دی، ځو په راتلونکي کې له ګران هیواد څخه د اشغالګرو د شړلو سره سم داسلام عادلانه نظام ترسیوري لاندې افغان زوریدلي ولس ته د سرتاسري سولې او دایمي ثبات ارمغان وړاندې کړي، او دشک پرته چې د اسلامي نظام نفاذ او دسرتاسري سولې راتلل، دهرافغان وګړي لوی ارمان او هیله ده، ولې چې دا دواړه هغه ستر ارزښتونه دي چې دافغانانو د ملي نجات او بریا ضامنان دي، نو اړتیا ده چې د افغانستان داسلامي امارت مخالف جهتونه هم ددې څرګند حقیقت په درک کولو سره دنورو بهانو اوپلمو جوړولو پر ځای داشغال دپای ته رسیدو او داسلامي نظام په وړاندې دشکو بندونو له اچولو لاس واخلي او دسولې په اړه د مذاکراتو میزته په صفا نیت او رښتینې اراده راشي، دجعلي څیرو اونمایشي کردارونو له وړاندې کولو څخه په ډډه کولو دې د څلور لسیزو جګړو ځپلي هیواد او ولس باندې ترحم وکړي د اسلامي نظام دنفاذ اوسولې ضد مجرمانه کوښښونه او نه بښونکې جنایتونه دې ترک کړي، کنه د افغان ولس لخوا به دیو داسې پراخ قهرجن غبرګون سره مخ شي چې له ډاره به یې په ټوله دنیاکې څوک دوی ته د پناه اوځای ورکولو جرئت هم نشي کولی .

مرحوم حقاني صاحب، د حقانیت حقه لار!

لیکنه: ذبیح الله مجاهد(د اسلامي امارت ویندوی)

شوروي کمونیزم په افغانستان لومړی فکري، بیا فیزیکي یرغل وکړ، زموږ ملت د سیلاب په مخ کې قرار درلود، د نجات لپاره یې د دې ملت اصلي غمخوړونکي دیني علماء چې د تاریخ په اوږدو کې یې په کراتو دا ملت له بحرانونو څخه ژغورلی او د برم او عزت پګړی یې په سر ورساتلې وه، هغوی بیا د دې ملت د دین، عزت، ناموس او آزادۍ د ساتنې په موخه مبارزې او جهادي میدان ته را ووتل.

په هغو مبارزو او ریښتونو میړنو کې یو هم الحاج مولوي جلال الدین حقاني (رحمه الله تعالی علیه) وو چې له دیني علم څخه تر فراغت وروسته یې د کمونیزم په ضد د جهاد په نیت ټوپک په اوږه کړ، د مسجد، مدرسې او خانقا پرځای یې د غره سخته او اغزنه لار ونیوه.

حقاني صاحب پوره ۱۴ کاله له شوروي یرغلګرو او د هغو له غلامانو سره وجنګید، خورا سترې او سختې پړې تیرې شوې، تنده، لوږه، بې کوري، مهاجرتونه، مزلونه، شبګیرۍ او زر ډوله مختلف خطرونه دا یې ټول صرف په یوه هدف په غاړه واخیستل، هغه د الله تعالی د فرض حکم جهاد پرځای کول او د الله تعالی رضا حاصلول.

کله جهاد بریالی شو، حقاني صاحب رحمه الله په هیڅ ځای کې او د یوې ورځې لپاره هم د قدرت، واک، څواک او نفساني غوښتنو د پرځای کولو هڅه ونه کړه، له تنظیمي ګډوډیو سترې، خفه او نا امیده خپل اصلي ټاټوبي خوست ته ولاړ هلته یې د یوه قومي سپین روبی، عالم او مخور په حیث په خپلو خلکو کې ژوند غور کړ.

د طالبانو اسلامي تحریک راغی، حقاني صاحب مرحوم چې د تیر انقلاب آرمانونه یې له خاورو سره خاورې شوي وو، دا ځل یې د طالبانو په وجود کې د خپلې ډوبې شوې بیړۍ (اسلامي حاکمیت) د نجات امید پیدا شو، له طالبانو سره د یوه مجاهد په حیث یوځای شو.

د اسلامي امارت په مهال یې د مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله علیه تر قیادت لاندې، هم د شروفساد په ضد مسلح جهاد کاوه او هم یې بې له کومې غوښتنې او شخصي تمایله د امارت په کابینه کې خدمت کاوه.

امریکایي یرغل وشو، حقاني صاحب له امریکایانو سره د جهاد د پیل په شپو کې ښه په نره د خلکو په آماده کولو، ذهن سازۍ، روحیه ورکولو او تحریضي جهاد کې ونډه واخیسته.

حالات سخت شول، امریکایي ځواکونه په هیواد راننوتل، ظاهرا اسلامي امارت له کابل او د ولایاتو له مراکزو ووت، حقاني صاحب مرحوم، په داسې حال کې چې د شپه تیر ځای یې نه درلود، مسلسل تر امریکایي ښار او بمبار لاندې وو، بیا یې د جهاد اغزنه لار اختیار کړه، له چا سره یې هیڅ ډول معامله ونه کړه، د کور، اولادونو، مال او هیڅ شي غم دې ته اړ نشو کړای چې د الله تعالی جل جلاله لاره، رضا او حکم (فرض جهاد) پریږدې او د وخت جبر ته غاړه کیږدي.

حقاني صاحب مرحوم د وفات تر ورځې د امريکا ضد جهاد په سنګر کې پاتې شو، له خپلې کورنۍ او اولادونو سره د قرباني په لومړي صف کې حاضر وو، ځکه هغه پوهيده چې د نجات، عزت او وياړ لاره همدا يوه ده چې د الله تعالی د رضا او د الله تعالی د دين د اقامې لپاره بايد جهاد او مبارزه وشي.

حقاني صاحب مرحوم پخپل ژوند کې يوه ورځ هم هيله ونښوده چې زه خو د جهاد مشهوره څېره وم يا يم، نوم او برم مې درلود يا يې لرم، زه بايد هغه څوکۍ باندې پاتې شم، يا دغه موقف خپل کړم، يا خپل خپلوان په څوکيو وګمارم، يا بل کوم دنيوي منصب او جلال حاصل کړم، استراحت وکړم، مزې وکړم او د دنيا له نعمتونو لذت حاصل کړم. الحمدلله

هغه پوهيده چې جهاد، قرباني، خطرونه ګالل، او دومره ستره ستوماني او سترړيا د دې لپاره نه وي چې يو مجاهد امتيازات په کې تر لاسه کړي، نوم په کې ولري، د پيسو خاوند شي او خامخابه له نورو خلکو بر ناست وي!!؟

هغه مرحوم مجاهده او سترې په دې منظور کوله چې الله تعالی رضا کړي، معامله يې له الله تعالی جل جلاله سره وه، ځکه خو د هر نيک، صالح، مخلص او خدايي کس په زړه کې د مرحوم حقاني صاحب مينه موجونه وهي.

په داسې حال کې چې نن د مرحوم حقاني صاحب رحمه الله تعالی عليه تلين لمانځو، يوه ټکي ته د ټولو مجاهدينو او مؤمنو ورڼو پام را اړوم:

حقاني صاحب (نورالله مرقده)د خپلې مبارزې او تګ لارې په پرېښودو سره هر مجاهد ته خپل اصلي هدف ور په ګوته کړ اودا درس يې راکړ چې د خپل جهاد، خدمت او ناچيزه سترې ستوماني عوض او بدل په دنيا کې له چا څخه ونه غواړو، که د الله تعالی مخلوق مو خدمت ته ضرورت لاره بايد لاس نيوی يې وکړو، د الله تعالی د رضا د حاصلولو لپاره يې کومک وکړو او که چا مو خدمت ته اړتيا نه لرله، موږ بايد هيڅ کله هم د خدمت په نامه د دې دني دنيا د مؤقتي نعمتونو د حصول هڅه ونه کړو، په دنيا کې هر مسئوليت مأخذه لري، ځکه د مسئوليت په معنا کې دا پرته ده چې په دې اړه به په دنيا کې خپل مافوق پوښتنه درڅخه کوي او هم به په آخرت کې مالک الملوک ذوالجلال و الاکرام قهار ذات ته د خپلې ذرې ذرې کړنې ځواب وايې، چې دا کار ډير سخت، ډير خطرناک او ډير هلاکونکی ده.

له دومره لوی خطر او لوی امتحان سره سره بيا ولې بايد همدا ګرداب ته ځان واچوو؟

ولې بايد د الله تعالی په لاره کې کړی جهاد او عبادت د دنيا د متاع د حصول ذريعه جوړه کړو؟

ولې بايد په زړه کې د چوکۍ، قدرت، واک او ځواک شوق ولرو؟

ولې خپل رب ناراضه او خفه کړو، هغه ذات چې د دې ټولو عباداتو، کمالاتو، خدمتونو او ثوابونو زرينه زمينه يې راته مساعده کړې، عمر يې په جهاد کې را باندې صرف کړ، له زرو بيلاربوڅخه يې را وګرځولو او د حق په لاره يې روان کړو.

آيا د الله تعالی نعمتونه، ژوند، ځواني، سالم اندامونه، صحت، عزت، علم، په جهادي لاره د تلو توفيق دا ټول انعامات د شکر تقاضا نه کوي؟

راځي چې هر مجاهد د حقاني صاحب مرحوم په حقه لاره تګ وکړو، د خپلو اعمالو رقيب ووسو، خپل نفس، خپل او نيت کنترول کړو او لکه مرحوم حقاني صاحب غوندې په داسې حال د الله تعال لقا ته ورشو چې هيڅ تور داغ په سپينه لمن ونه لرو، يواځې مو عندالله خپل مکلفيت ادا کړی وي او د خپل محبوب رب رضا حاصله کړو. والله المستعان وهو ولی التوفيق

۱۴۴۲/۱/۱۵هـ ق ۱۳۹۹/٦/۱۳هـ ش

الحاج مولوي جلال الدين حقاني رحمه الله

م. عزیزي

د وفا، تقوا او سخاوت منار

زه چې کله دمرحوم مولوي جلال الدين حقاني نورالله مرقده جهادي عظمت، ديني او ملي غرور، اجتماعيت او بيساري عملي تقوا ته وگورم حيران شم چې الله تعالی دهيواد په يوې ورسته پاته او له عصري او علمي ترقی محرومي سيمي کې ددين، جهاد ، هيواد او امت ددفاع لپاره ستر حقاني له سترو افتخاراتو سره څنگه ولوراوه ؟

نه داچې خپله سيمه يې په علم، نورانيت ،ميړانه روښانه اومنوره کړه بلکې الله تعالی ټول هيواد ددغه حقپالي عالم، او دأشداء علی الکفار رحماء بينهم په معيار استوار قائد د توري او خواخوږی په مټ وځلاوه

حقاني صاحب دمدرسی او حجري په غيږ کې پالل شوی او فارغ شوی عالم وو خو دروسانو او کمونيستانو په خلاف يې چې کوم موثر اومنظم جهاد، معرکه اومبارز سرته ورسوله له کومو تکتيکونو او معيارونو څخه يې استفاده وکړه نه دروس دجنرالانو ذهن وررسيده، نه دامريکا او نه هم دکوم گاونډي هيواد

دتير جهاد دزياتره مجاهدينو به په ياد وي چې دهرې جگړې دقومندي واگی به دميړني حقاني صيب په لاس کې وی په داسې ډول چې دتر ټولو لوړې څوکې په مورچه کې هغه ناست وو وړه او غټه مخابره به يې په لاس کې وه له هماغه ځايه به يې مجاهدين پرمختگ او استقامت ته سوقول، روحيه به يی ورکوله ديني وردونه او جهادي ملغرلی به يی ورته بيانولي

نو چې افغان مجاهد ولس به داتل حقاني دجنگ په ړومبی کرښه کې حضور او شتون وليد نو بيا به هغه څوک وو چې له ځانه به يې فدايان نه جوړول او غورځنگ به يې نه کاوه

دجومات اوحجري حقاني تنها ديني مدرسي نه لرلي، دهجرت ديار اوداخل مفتوحه علاقو کې يې لسگونه مجهز عصري پوهنتونه، سلگونه ليسي، جوړي کړي وي، دمهاجرينو دعامه خدماتو لپاره يې بې شميره صحي مراکز تاسيس کړي وو، کومو جهادي غونډونو ته به چې ورغلي هلته به دافغانستان دهرولايت او سيمي روزل شوي مجاهدين ديره او موجود وو

مرحوم حقاني صاحب هغه څوک و، چې د روسانو او کمونيستانو په وړاندې يې د چريکي جگړې ترڅنگ د جبهه يي او تهاجمي حملو اساس کيښود او تر رهبري لاندې يې د ټول افغانستان له هر ولايت او قام څخه زرگونه تنه مجاهدين راټول اومنسجم وو.

د خوست په څېر ستراتیژیک ولایت، چې دښمن یې د دفـاع لپـاره سـخت امنیتـي تـدابیر نیـولي وو، او لســګونو زروعسکرو ترې ساتنه اوڅارنه کوله، لومړی ولایت و، چې د الله تعالی د ځانګړې مرستې او د حقاني صاحب د مدبرانه سیاست او رهبري له امله فتح شو او د خوست د فـاتح لقـب یې خپل کړ.

حقاني صاحب هغه ستره هستي وه، چې ترپایه د جهـاد په لـوړ دریـغ ولاړ پـاتې شـو، د امریکـا او نـورو ملګـرو د سیسو او حربو سره یې مبارزه وکړه او ترپایه یې موقف داو، چې روسان باید له هـر ډول شرط پرتـه لـه افغانسـتان څخـه ووځي، کمونیسـتي رژیم سقوط شي او پـر ځـای یـې سـوچه اسـلامي نظـام اقامــه شي. او د خپـــل منځـــي جګــــړو او رقابتونوڅخه یې په توله معنا ځان پاک وساته.

دحقاني صاحب دحقانیت او سـپیڅلتیا بـه تـردې لـویّ او تـل پاتې مثال بل کـوم وي چې کلـه مجاهـــدین کامیـــاب شـــول کمونیسـتي رڼـګ شـو تـرده وړو قومنـدانانو دقـدرت او امتیـازاتو دترلاسـه کولـو لپـاره سـیالی او جنګونه شروع کړل حتی ددفاع په وزارت یې هم سترګي نـه ډکیدلي؛ ولې داسلام دغه نومیالی غازي دجنګیالیو رهبرانـو او قومنداناتو دروازی ورټکولي خـولی ورتـه غوړولـه چـې ځاني غوښتني او خپل منځـي اختلافـات پریـږدي داسـلامي نظام دجوړیدو لپاره سره متحـد شـی، تـردې چـې عبـدالعلي مـزاری تـه هـم ځـو ځلـه ورغـی اوترینـه وي غوښـتل چـي دافغانستان دلوړو ګټو لپاره قومي سمتي ،مذهبي او نـژادي توپیرونه شاته وغورځوي

مرحوم حقاني صاحب ځان د شـوروي پـر خـلاف جهـاد باندې خلاص نه کړ، بلکې کلـه چـې امریکـایی طـاغوت او متحدینویې په افغانسـتان یرغل ته ملا وتړله؛ نو یوځل بیایې میدان ته راودانګل او اعلان یې وکړ چې له امریکایانو او د هغوی له غلامانوسره به داسې وجنګیږي، لکه له روسانو او کمونیستانوسره چې جنګیدلی و.

د امریکـا او نـاټو د یرغـل پـه خـلاف یـې د اسـلامي امارت تر سیوري لاندې په خپلـه د جهـادي امـورو د تنظـیم لپاره ملاوتړله او په دې سـپیڅلې لاره کـې یـې د خپـل زړه ټوټې هم قرباني ته وړاندې کړې، خپل ټول اولادونه یـې پـه جهادي او اسلامي تربیه وروزل، خلیفه سراج الـدین حقـاني حفظه اللـه ، شـهید ډاکټرنصـیرالدین حقـاني ، شـهید حـافظ بدرالدین حقاني ، حافظ انس حقاني او حافظ عزیزحقـاني پـه

څېر نومیالي زامن یې ترشا پرېښـودل او لکـه څنګـه چـې د مشرحقاني صاحب توقع وه، له هغوڅخه زیات الله پـاک دده په زمریالیو حقانیـانوکې لـه صـلیبي طـاغوت سره د مقـابلې توان او صلاحیت پیدا کړ.

د غیرت، شهامت او ویاړونو ډک ژوند څخه وروسـته، د ۱۳۹۷ل کال د وږي/سبنلې میاشتې په ۱۳مه نیټـه، دغـه د کلک عزم خاوند، ددوو جهادونو سالار، د جهـاد او مبـارزې سرلاری او درې شهیدانو پلار د تل لپاره لـه دې فـاني نـړی څخه سترګې پټې کړې او د ابدي ژوند پر لور وکوچېـد؛ خـو تر شا یې راتلونکو نسلونو ته داسې له ویـاړونو ډک تـاریخ پرېښود، چې تل به یې د لارې مشال وي.

الحاج مولوي

جلال الدين حقاني

يو نابغة الزمان حقاني ...

ابوظهير

هو! مسلمانان تل پخپلو میړنیو،با ضمیره اوباصلاحیته اشخاصو وياړي او هغوی ته له خلوص، محبت او احترام نه ډکې پيرزوينې وړاندې کوي يو عرب وايي:

ولاتزال هذه الأمة تفتخرعلى مفاخر الرجال

ترقيامته به مسلمانان پرخپلو مفاخرو خلكو وياړي

زمـوږ هيـوادچې د سـترومیړنیو،باتورانو اوزړورو قهرمانانو زانگو اوکوريادېږي،دتاريخ په بېلابېلو دوروكې يې پخپله پاكه غيږ كې په لوی شمیر نوميالي، علماء، سربښندونكي مجاهدين، میړني مشران اوباضميره اشخاص پاللي دي، چې بيا دهغوی په كارنامو،لاسته راوړنو،بریاوو او په بيساري قربانيو يـواځې زموږ دافغاني تاريخ شمله هسكه اوزرينې يـې پاڼې يې نـدي ښايښته شوي ،بلكې هغوی د ټـول اسلامي امت دسرلوړی او وقار ساتونكي قهرمانان هم پيژندل شوي دي.

مرحوم مولوي جلا ل الدين حقاني رحمه الله چې دوفات يې دويم تلين دی زموږ دنیږدې تاريخ دمفاخرو او نومياليوشخصيتونو دډلې سرلاری اومخكښ بلل كېږي، په جهادي كارنامو،فتوحاتو او خدمتونو يې يواځې افغانان نه وياړي ؛ بلكې دنړۍ نور مسلمانان هم ورباندې معترف اوقايل دي ترڅې چې زموږ دملت پخواني او اوسني دښمنان (شوروي او امريكا) دواړه دنوموړي په همت،زړورتيا، اوپه بيساري جنگي مهارتونو اوتجربو اقرارلري.

كله چې موږ دمرحوم حقاني سوانح اويا بيوگرافي لولو،دهغه زياتره هم عصر علماء اواشخاص وينو چې دهغوی په نظركې حقاني نه يوازې له قوي علمي استعداده برخمن مبارز اومجاهد و، بلكې هغوی په دې هم داډ ښكاره كوي چې مرحوم د جهادپشان دستونزوڅخه په يوه ډكه لار كې هم كماحقه د شريعت په احكامو،اصولو او ضابطو باندې عمل كولو ته په كلكه ژمن اومتاعهد و. اودجهادپه اوږدو كې يې له هر ډول نامشروع عمل،وينا اوكردار څخه په كلكه ډډه كوله، دهغوی په اند: تل به نوموړي هڅه اوهاند كاوه چې د الله تعالى له حكم څخه ديوې زرې برابر هم انحراف اوسرغړونه ونكړي. يا په بل سپيناوي د مرحوم حقاني جهادي او شخصي ژوند «داحقاق الحق او ابطال الباطل» څخه داسې عبارت و. چې په دې مسير كې يې هيڅ ډول غفلت،تنبلي اوتسامح نشواى زغملی، دحق په دفاع او دباطل په سركوبی،يا ځپلوكې يې د چا دملامتيا پروانه كوله

حقاني ددې ترڅنگ چې يوښه جيد اوقابل عالم و، هغه يوداسې نه ستړي كيدونكی مبارز اونه ماتيدونكی مجاهد هم و چې دعلم،علماوو،مدرسو اوطالبانو سره به يې بې پايه محبت لاره،دخپلونـورو گټوسياسي بوختياوو اوجهادي مصروفيتونوباوجود يې علماوو، ديني مدرسوته زياته پاملرنه كوله،په دې سربيره چې هغه خپله گڼ شمير ديني مدرسې اوعلمي ادارې جوړې كړې اوپاللې يې، دنورو مدرسواوعلماوو دخدمتونو هم قدردان او پرهغوی مهربان

و،دوامدار پر علماووګرځېده او دهغوی دروغ رنځورپوښتنه یې کوله، دې لړکې یوځوی شهادت دپاکستان کراچۍ ښار دیوې مشهورې مدرسې(جامعه احسن العلوم)د مهتمم اوشیخ الحدیث مولانا مفتي زرولي خان له خولې نقل کوم نوموړی وایي: شهید شیخ الحدیث مولانا حسن جان چې د وخت نومیالی محدث او استاذ کل و،کیسه کوله یوه ورځ جلال الدین حقاني د جمعې لمانځه وروسته راڅخه وخت وغوښت، ما ورته وویل وخت نه شته؛ هغه تر څه وخت پورې منتظر ناست و، کله چې ولاړېد،زما یو معتمد شخص ته یې یو کاغذ ورکړ اوهغه ته یې وویل:چې شیخ صیب لپاره ما یو موټر اخیستی دی، قیمت مې ور کړی دی،تاسو پلاني بارګېن ته ورشئ هغه راولئ!مفتي زرولي خان صیب وایي: مولانا حسن جان شهید به چې کله دا کیسه کوله، نوتر ډېره پورې به یې په سترګو کې اوښکې غړېدلې،ویل به یې زموږ سلوک ګوره! او د دوی کریمانه و رحیمانه اخلاق اوبرخورد!

ددیني مدرسو له طالبانوسره یې هم محبت درلود او پرې لورینې یې پټې نه وې، مشهور مجاهدشاعر اولیکوال عالم مولوي بدرالدین حقاني لیکلي زه (بدرالدین) طالب وم،یوه ورځ په پېښورکې دحقاني صیب سیاسي حویلۍ ته لاړم ،نوموړی دغه مهال له کوم خارجي سفرنه تازه راستون شوی و،ماته دجیب خرڅ راکولو سربېره یې وویل طالبه!اوس لاړ شه!خو شپې ته بیا بل خوا مه څه. زکه په تکلیف به شې بېرته هم دلته راځه. ما ورته وویل: زه طالب یم، هسې نه څوکیدار مې بیا راپرېنږدي! ژر یې په خپل لاس په یو وړوکی کاغذ ولیکل :

" محترمو څوکیدارانو! بدرالدین طالب چې هر کله هم وغواړي راتللی شي،مزاحمت به یې نه کوئ".

پورته واقعات ښیي چې مرحوم حقاني صیب څوراعلم دوست اوعلم پال شخصیت و،او په علماوو او طالبانو بیحده مهربان اوزړه سواند و،کنه!هغه مهال نورداسې جهادي قومندانان هم ډېر وو چې هغوی دیني سبقونه ویلي وو اوله دیني مدرسونه فارغ شوي وو، خو په هغوی کې شاید دډېرو کمو په باب دې څوک دیته ورته خاطرات اویادابښتونه ولري،زکه هغوی له آراه دکمزرو شخصیتونو خاوندان وو،هغوی یواځې د خپلوشخصي ـ ګټووتوته ډېرولوته خېروو،دنورو ورسره پروا نه وه، زکه نن تاریخ هم هغوی له یاده ویستلي اوپروایې نلري، یعنې هغوی چې دخدای تعالی دمخلوق پروانه لرله، نن تاریخ اوخلک دهغوی پروا نلري تردې چې دنوموتو اخیستوبې هم څوک نشته...

دیوبل معتمد اومعتبر عالم(مولانا منظور مینګل) په وینا:

مولوي حقاني لوی انسان و،کارنامې او خدمتونه یې هم لوی دي، چې زما د پوهې مطابق زموږ د اکابروعلماوو په ټول تاریخ کې یوه هم دومره طویل وخت په جهاد کې صرف کړی نه دی،څومره چې حقاني صیب په جهاد کې صرف کړ،تردې چې جهادي کارنامې یې په الفاظو کې نه بیانېږي او نه یې څوك بیانولی شي.زکه مجاهد چې د جهاد په میدان کې کوم تکلیفونه زغمي؛نورخلک یې له پوره بیانولوعاجزان وي؛زکه جهادیو داسې میدان دی «من لم یذق لم یعرف» چا چې دیوځېز خوند څکلی نه وي، دهغه ذایقه نه پېژني .نو هغه څوک دیوچا جهادي کارنامې نشي ـ بیانولی چې هغه په عملي جهادکې برخه نه وي اخیستي ، یعنې دحقاني دخدمتونو بیانولو ته مجاهدانه هوډ اومجاهدانه عزم لرل ضروري دي.

رازو دیته چې حقاني صیب زموږ دهیواد هغه جامع اومقبول شخصیت و چې پخپلوټولو هم عصرعلماوو اوصلحاوو کې مقتداګڼل کیده،اوبله خانګړتیایې داوه چې نه یواځې دافغانستان دعلماوو په نظرونوکې محترم او مکرم و، بلکې له هیواد ه بهر له جهاني شهرت اومقبولیت نه هم برخمن و،دپاکستان او عربو علماوو ورته زیات احترام او درناوی درلود،که داوواېو مبالغه به مو نه وي کړې چې زموږ دتاریخ په نژدې ماضي کې دهیواد په سطحه هغه یواځینی عالم اوجهادي مشرچې د ګاونډي هیواد(پاکستان)

دټولوجیدو علماوو او جامعاتو لخواورته تل تـودهرکلی ویـل کیـده او هغـوی بـه پـه خـورا نـوازش خپلوغونـډو او اجتماعاتوته دروندمیلمه په توګه وربللو، له پیښوره ترلاهور اوکراچۍ پورې علـماوو اوروحـانیونوورسره مینـه اومحبـت کاوه. هغه مولوي جلال الدین حقاني و؛ بل پلو حقاني صـیب هم دمتقابل احترام په رموزو او اصـولو پوهیـدونکی و،هغـه دخپل چم واوګاوند خصوصاً لـه پښـتنوعلماووسره نیـږدې او دوستانه تعلقات پالل،او ورتـه یـې دارزښـت پـه نظـر کتـل غرض داچې حقاني صـیب کـې د اصـلاحیت اوجامعیـت پـه کامله توګه موجودوو چې دخپلې سیمې اومنطقې دخلکوپه عامه مزاجونو اودودونو هـم پوهیـده،اود اهمیـت اوضرورت څخه یې اګـاهي درلـوده، پـه بـل تعبیـر یعنـې دخپـل عصر-اوزماني خلک(رجال) یې هم پیژندل؛ او دخپلـې (زمـانې) د احوالو اوظروفو ادراک یې هم درلود،داسې نـه وچـې دخپـل چم اوګاونډله احوالو یې خپلې سترګې پټې کړې وې او ټول پام یې دجهاد په لورو؛ هواجهادي چاروته یې پر نوروکارونو اولویت ضرور ورکاوه او په اړه یې ادنی درجـه غفلـت،تنبلي اوتسامح نه برداشتوله،خوترڅنګ یـې ددیـن نـورو سـیاسي ،علمي، اقتصادي او اجتماعي شعبو ته داهمیت په نظرکتـل، او دټولو په اړه یې بیداري درلوده،دخپل هیـواد دمـلي ګټـو ژغـورنې ترڅنـګ دسـیمې اوټـولې اسـلامي نـړۍ پـر حالاتو،حساسیتونو او نزاکتونو یې ژورنظـر و،او هـم دخپـل بصیرت اوفراست په رڼاکې یې دمسلماناتوزعماووته وخـت پـه وخـت ارزښـتمنې رایـې اومشـورې ورکـولې،هرچې زموږنور جهادي مشران یاقومندنان وو هغـوی پـه دې برخـه کې کمزوري او هومره فعال نه وو،هغـوی نـه دخپـل هیـواد مـلي ګټوخونـدي کولوپـه اړه هغـومره حسـاس اوبیـداروو څومره چې مرحوم حقاني صیب و، اونه یې دسیمې دحـالاتو اوحساسیتونوپه باب هومره ادراک لاره،څـومره چـې حقـاني صیب لاره.

حقاني صیب دخوشک مزاج اوتوند طبعیـت لرونکـی عالم نه و، اونه سوړمزاج لرونکی ملا و، چې ددین په اړه یـې خدای مکړه له مداهنت څخه کاراخیسته هغه د معتـدل نظـر اوسـوچ خاونـد و،داسـلامي شریعـت پـه اصـولو اوفروعـو دوارو خبیر عالم و،هره وینا اوخطبه یـې لـه مقتضـی الحـال سره موافق کوله،که کـومې علمـي جـامعې یـا مدرسـې تـه دوینالپاره به وبلل شو، هلته یې دوینا لهجه به یومخ عالمانه اوعارفانه وه،کـه دولسـونو پـه غونـډو کـې بـه غږیـده، تـو دولسونو په ژبه غږیده،که دسیاست له دریخ نه یې ویناکوله دبابصیرته سیاستوال په لهجه به مخاطِب و اوکه دجګړې په ډګر کې دجنګ قومنده به یې پر غاړه درلوده، نودیـو تجربـه کـار او زړورقومنـدان لـه ټولوصـلاحیتونو اوکمالاتـو څخـه برخمن بریښیده، دعلماوو په مجلسونوکې به علمي بـاریکیو او ادابو ته متوجه و، خالي الذهن نه و،په قرآن اوسنت ،فقه ، تـاریخ اونـورو علومـو کـې یـې پراخـه مطالعـه اوپریمانـه معلومـات درلـودل، ددې اوصـافو اوکمالاتـو پـه درلـودو لـه خپلوټولو هم عصـرعلماوو او جهادي مـشرانو څخه ممتـازو، اودهمدې ځانګړتیاووپه وجه له هیواد څخه دباندې په علمي حلقو او اشخاصوکې مقبول اومنلی و، لنډه داچـې مرحـوم د ښـه علمـي استعداد، سـیاسي تـدبر اوجهـادي تجربوڅخـه

برخمن شخصیت و،او تول ژوندیې د اعلاءکلمة الله څخه عبارت و او په دې لار کې هرډول تکلیفونه، زحمتونه او مشقتونه په ورین تندي اولوړه حوصله ګالل یې خصوصیت و.

حقاني صیب په عربي هیوادو او دهغه ځای په خلکو کې هم مقبول او مشهورو، عربانو یې وعظونه اوخبرې په ډیر شوق سره اوریدې، دخپل علمي تبحر په مټ یې په عربي هم خاص عبور درلود، کومو ثقه اوجیدو علماوو چې عربي کې دمرحوم ویناوې یا عربانو سره د هغه مخامخ مجلسونه لیدلي هغوی اعتراف لري چې دوی ته دحقاني صیب استحضار او علمي تبحر دقدیمې او جدیدې عربي سره بلدتیا یې حیرانوونکې او خوښوونکې وه اوعربانو ته جالبه وه، ډیرو عربو ورته د محبت نه د «الرجل المیداني» لقب کاروه.

حقاني تش دګفتار قهرمان یاغازي نه و بلکې نوموړی دکردارغازي او دعمل قهرمان و، چې د الله تعالی د دین د سرلوړۍ لپاره یې هیڅ قسم قرباني نه دریغوله، هرې فداکارۍ اوسرښندنې ته به په سرومال سره حاضرو، دپېښور د شاندارو کورونو په نرمو اوپستو بسترو دخوبونو کولوپرځای یې سنګرکې په خاورو اوتیږوخوبونه کول، دخپل ژوندزیات وخت یې مجاهدینو سره یوځای په جبهاتوکې تیراوه، اودغرونواومره لوږ او دنګ مشکلات یې په خورا صبر او استقامت سره حل کول، او په دې باب ورته خدای پاک لویه حوصله او ارادي قوت ورکړی و، دجهاد په لار کې چې به دهرڅومره مشکلاتو سره مخ کید،روحیه یې نه بایلله په همت او استقامت سره به پخپل مسیر روان و ترې په بله نه اوښت.

پخپلوکشرانو اومشرانو مجاهدینو بیحده مهربان اونرم خویه و، او دکفر په مقابل کې دپولادو په څیرسخت اوکلک و، ددښمن لخوا د هیڅ خطر او تکلیف نه، نه مرعوب کیده، اوهمیش خپل مرام او هدف ته څیرو، اوهدف یې کوم دنیاوي غرض یا لالچ نه و بلکې د الله تعالی ددین سرلوړې یې عمده هدف اوستر منشور وه او د همدې لپاره یې تول ځان ،مال او هرڅه نذرانه کړي وو

ددې لپاره چې لیکنه اوږده نشي- خپلې خبرې د دې توروپه لیکلوراتغاړم چې مرحوم ردالله تعالی ددین رښتینی خادم اومجاهدو، دهغه ددین دسرلوړۍ لپاره یې په ځان اوملګرو زیاتې تودې اوسړې وزغملې الله تعالی دې ورته دټولو په اړه اخرت کې لپې لپې اجرونه اوثوابونه ورکړي.

په خاصه توګه کله چې امریکا زموږ په هیواد دیرغل جسارت وکړ، او په وړاندې یې امیر المؤمنین ملا محمد عمرمجاهد رحمه الله دجهاد اعلان وکړ، دهیواد په سطحه دوهم بانفوذه شخص حقاني و چې دخپل امیر په اطاعت کې یې دجهادبیرغ پورته کړ اودنورو پخوانیو جهادي مشرانو اوقومندانانو پشان دامریکا په تانګونو اوالوتکوکې سپورکابل ته لانړنشو بلکې دکابل نه دامریکا پرضد دجهادکولو په قوي عزم اواراده سنګرته وخوت او امریکایانویې دوژلو اویا ژوندي نیولو لپاره په ملیونو ډالر انعامونه وټاکل، حتی دنوموړي دزامنوپه سرونو یې هم ملیونونه ډالر اعلان کړل خو ددې ټولو باوجود هغه دخپل مسیرنه په بله روان نشو اوترننه یې دجهادي عزم زورځیرې او دقربانیو بڼ یې په بهار راغلی، هیوادکې داسلامي نظام دنفاذ او اشغال دپای ته رسیدو شیبې رانږدې دي، چې په دې سره به یقیناً دمرحوم روح ته تسکین رسیدلی وي او خوشال به وي له الله تعالی څخه ورته دټولو جهودو اوقربانیو په بدل کې دخپلې رضا دعاکوو! الله تعالی دې ترې راضي شي او الله تعالی دې زموږ دوطن اودین دښمن دتل لپاره ناکام او نامراد کړي. امین

☆☆☆

د جهاد له نوم سره به يې نوم تل ژوندی وي!

الف لام

پرته له دې چې دمجلې د محترم مدير صاحب غوښتنې ته ځواب ووايم د دغه ستر شخصيت نوم اوياد پخپله ديوځه ليکلو مسؤليت راپه غاړه کوي که څه هم زمونږ ليکل به دهغه په شان کې کمال نه، بلکې بې ادبي وي، خو په يادکې يې زمونږ دغه ناچيزه ونده هم مونږ ته ډېر وياړ دی .

مرحوم مولوي جلال الدين " حقاني رح" په افغانستان کې دهغه طبقې سرې دی چې تل يې په کارنامو خاورې اړول شوې او هيڅکله نه دي خلول شوي، ملايان، علماء او طالبان دافغانستان په تېر تاريخ کې هغه محروم او بې برخې خلک دي چې تل يې په حق کې جفا شوې او ډېرو سترو شاهکاريو ته يې هم په کمه سترګه کتل شوي، مرحوم حقاني صاحب خپل حقاني کردار تر دې ور اړولی او داسې يوې مرحلې ته يې رسولی چې ديوچا له خلولو پرته پخپله وځليږي او څوک يې دتاريخ په پاڼوکې په راټه اورساکرکتېر خاورې نه شي اړولی.

زمونږ دغه دعوه چې له خپلې خاورې او هيواد سره دنورو په پرتله د ملايانو، طالبانو او علماوو مينه او وفاداري ډېره رښتوني او حقيقي ده، د حقاني صاحب ژوند اوتاريخ يې لا ښه ثابتوي اوپه داسې يو مهال چې داسبابو او وسايلو په لحاظ تش لاس واو په لنده ماضي کې ورته کومه بېلګه هم موجوده نه وه دهيواد دخپلواکۍ اوسياسي استقلال لپاره په وسله واله مبارزه پيل يې؛ دعزم او رسااستدراک دليل وړاندې کوي او هغه څه چې نوموړي اسلام ته دخدمت په لاره کې ترسره کړل دتل لپاره به پرې جومات او مدرسه سرلوړې وي .

په افغانستان کې دکمونستي سيلاب په وړاندې مبارزه او جهاد هم دافغانستان په تاريخ کې يو ستر باب دی، په دې مبارزه کې د هرې لوستې طبقې خلکو پراخه ونډه لرله چې په نهايت کې يې قيادت د اوو جهادي رهبرانو په لاس کې ولوېد، خو که د دغو جهادي رهبرانو تاريخ، خدمتونه، کارنامې په بې پرې ډول وارزول شي، دنتيجې په لحاظ په دوی کې اسلام او هيواد ته صادق او رښتوني يواځې هغه څوک ثابت شول، چې دحقاني دمکتب دلارې پيروان ملايان اوعالمان و، په هغه وخت کې چې مرحوم مولوي جلال الدين " حقاني رح" کوم شهرت، اعتبار، ځواک او امکانات لرل، دنورو ډېرو جهادي قوماندانانو په څېر يې کولای شوای ده هم يو جلا تنظيم اعلان کړی وای، خو دجهاد اوعقيدې اهدافو ته په سپېڅلتياله دې کاره تېر شو اود ملنګۍ په خرقه کې يې خپل جهاد ته دوام ورکاوه .

همدلامل دی چې د نوموړي تاريخ د دې دورې له ټولو داغونو اوتورونو ډېرپاک او سپېڅلی دی او نن يې کورنۍ او پيروان هم د نن په جهادي مسير کې دخپل دغه اسوه اوقدوه په قدم روان دي، سره له دې چې د دغسې شهرت، اعتبار

اونوم شرایط به اوس هم برابر وي اوبایه زیات وي، خو مرحوم حقاني صیب نه یواځې دا چې خپلې کورنۍ اوقوم ته نېک سلف اوقدوه دی، بلکې مونږ ټولو ملایانو، طالبانو اوعلماوو ته په دغسې شرایطو کې دلارې بل مشال دی په تېره د نن پـه دې ترینګلو او ازمایښتي شرایطو کې بیاد مرحوم حقاني صیب د سیاسي درایت، له ننګونو سره دمقابلې، عزم اواستقامت سیرت خورا په زړه پورې لارښود دی .

د مرحوم په قاندانه صلاحیتونو کې به ډېر مثبت ټکي لیکل شوي او راټول شوي وي، خو د ده دتېر ژوند تاریخ ته په کتو چې ما کوم مثبت ټکی په نښه کړی او ماته ډېر خوښ دی، هغه اهل ته دیو کار سپارل اوبیا ښېرته دهغه په کارونو کې نه تشبث دی، چې له لومړي سره به یې په انتخاب کې له دقت څخه کار واخیست بیابه یې دهغه دکارونو په تنظیم او ترتیب کې ګوتې نه وهلې او فکر کوم چې دایې دبریاوو پرمختګ په لاملونو کې یو عمده لامل و .

له روسانو سره دجهاد په دور کې چې زمونږ عمرونه کم و، خو دهجرت د دیار هر ګوټ له جهادي جـم اوجوش څخه برخمن و، څکه نو د هر کور په حجرو کې تر بلې هرې موضوع د روان جهاد جریانونه او قیصې خورا ګرمې وې، زمونږ ټول ماحول چې د جهاد، شهادت او اعداد څخه جوړ و، نو دجهاد کیسوته به ډېر لېواله و، په دې برخه کې مونږ ته زمونږ د ماما جګړن صاحب سلیمانزي رح (چې له حقاني صیب سره دژوره په غونډ کې رئیس ارکان و) کیسې او دجهاد نکلونه ډېر جالب و، مونږ چې اوس دهغه دهغه وخت په جهادي خدمت کې فکر کوو او ده ته د ده په کارونو کې دحقاني صیب مرحوم د پراخ لاس په پرېښودلو کې سوچ کوو، نو همدا مثبت ټکی پکې له ورایه بریښي ، دا خو به یې له ماسره دیوشته شاهد اولاسوند نمونه وي، که دمرحوم حقاني صیب په کردار کې فکر وشي دغسې یې دژوند په هره برخه کې اهل فن ته مخه خلاصه پرې ایښې وه .

په نویمو کلونو او دتنظیمي جګړو په وخت کې په څو څو خله دجنګ جګړو دمخنیوي او اصلاح مثبتې هڅې او دغه راز د تنظیمونو د یووالي کوششونه اوپه دې لار کې په خوست کې دوه خله د تنظیمي رهبرانو او قوماندانانو را ټولول او په لومړي ځل د مؤقت حکومت دکابینې غونډه هلته دا ثربدل دنوموړي دغیر متنازع شخصیت ښوونه کوي،همدا وجه وه چې دافغانستان په هر ګوټ کې هر قوم او دهرې ژبې خلکو ته ډېر محترم واو دجوړ جاړې په قضایاوو کې به یې چې هر لوري ته مخ واړاوه هیچا یې خبره ځمکې ته نه پرېښوده.

دمرحوم حقاني صیب په ژوند، کارنامو، خدمتونواو جهادي سرګرمیو به ډېر څه لیکل کیږي اوپه دې اړه به ډېر مواد او اسناد ترلاسه کیږي، زما په فکر دحقاني صیب ژوند، جهاد، مبارزه، خدمت، کارنامې او حماسې دې دبل هر لوري په نسبت له دې نظره وارزول شي چې دهغه د دغه تاریخ ساز دور ریښه او پیل له کوم فکر ي لوري اوبه اخلي او چاته یې نسبت کیږي، همدې ټکي ته دې وده ورکړل شي اوهمدا لوری یې په مبارزه اوخدمت کې باید ډېر روښانه وي، دحقاني صیب مبارزه او خدمتونه دې نه یواځې له روسانو سره ترجهاده منحصر نه وي، بلکې له امریکااو ناټو سره د جهاد په دویمه مرحله کې یې چې کوم کردار اداکړی اوپه دې برخه کې یې له خانه وروسته څه پرې ایښي که دجهاد تر لومړنۍ دورې زیات نه شي کم به هیڅکله هم نه وي .

دنوموړي په یاد اوخدمتونو په راټولولو کې که هرڅومره قلمونه ستړي کړو، بیابه یې هم حق ادا نه کړای شو، خو یوڅه چې ډېر روښانه دي هغه داچې له جهاد سره وفا، دجهاد په لارکې بې مثله قرباني، سربښندنې اودجهاد داهدافوته په رښتیني معنا ژمنتیا دمرحوم حقاني صیب هغه ځانګړتیاوې دي چې په افغانستان کې دجهاد له نوم سره به یې نوم تل ژوندی وي .

رحمه الله تعالی رحمة واسعة

د ملت افتخار
او د تاریخ ویاړ حقاني

حسن زوی

دوه کاله وړاندې دافغانستان اسلامي امارت او دمولوي جلال الدین حقاني رحمه الله تعالی کورنۍ اعلان وکړ چې مولوي جلال الدین حقاني صیب وفات شویدی؛ اعلان کې داوضاحت شوی و چې هغه دوږيږيښې ناروغۍ نه وفات شویدی ، ددښمن سره په مخامخ جنګ یا بمبار کې ندی شهید شوی .

هو! کابو له ۴ لسیزو راهیسې ددښمن په مقابل کې دشهادت په ارزو په لویې میړانې جنګېدونکی د ملت دالوی اتل لکه دحضرت خالدبن ولید دعلالت په بستر خپل روح دحق داعی ته وسپاره .

سره له دې چې هغه ددواړوجهادونوپه جریان کې دخوراخطرناکوحالتونوسره مخامخ شوخو

دالله تعالی حکمت به وچې ددښمن په لاس یې دشهیدکېدواو اسیرکېدو وساته .

دمسلمانېدو نه پس دسیدناخالدبن ولید رضی الله تعالی عنه ټول ژوند د اسلام دسر لوړۍ دفاع اوحاکمیت لپاره ددښمن په مقابل کې په مسلح جهاد کې تېر شوی و،داسلام دلومړۍ کرښې دسترو فاتحینو څخه و؛ په ګڼو غزاګانو کې یې کامیابه مشري کریده او په جهادونو کې یې دومره میړانه ښکاره کړې وه چې درسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري ورته دسیف الله لقب ورکړل شوی و.

خالد بن ولیدرضی الله چې وفات کېدلو نونږدې ناستوخلکوته یې وویل :څه ددښمن په مقابل کې په ګڼو جنګونوکې شریک شوی یم ډېر ځل دداسې خطرناکو حالتونو سره مخامخ شوم چې تري نجات مشکل ښکارېدلو خو دشهادت ارزومې پوره نه شوه ! په بدن مې داسې ځای نشته چې پرې دتورې ، غشي یانېزې خاپ نه وي خو ارمان ! مرګ په بستر راګېرکړم دجنګ ډګر کې مې شهادت په نصیب نه شو.

علماءفرمایي : داچې درسول الله صلی الله علیه وسلم له لوري ورته دسیف الله لقب ورکړل شوی و او ددښمن په لاس ددې توري ماتېدل الله تعالی نه غوښتل نو هغه په خپلې بسترې وفات شو او دوفات پرمهال یې د قیامت تروږځې راتلونکو د امت بزدلانو ځوانانو ته دا پیغام پرېښود چې مرګ په خپلې نېټې راځي؛دجنګ میدان کې که خامخا مرګ وای څه به اوس په خپلې بسترې نه وفات کېدای.

دکمونستانو دکودتا نه پس چې علماء کرامو دجهاد فتوی ورکړه او لروبر افغانستان کې جهاد شروع شو حقاني صیب هم په هماغو اوائلو کې په مدرسه کې ددرس تدریس دخدمت نه دجهاد عملي ډګر ته راووت دکمونستانو او بیا د شوروي اتحاد دیرغل په مقابل کې په داسې اخلاص،میړانې او کامیابۍ سره وجنګېد ، او دلوي شوروي اتحاد په مقابل کې دافغانانو په لوی جهاد کې دومره لوی قوماندان وګرځېد چې نړیوال شهرت یې ترلاسه کړ، نړیوال شخص وګرځېد او ټوله نړۍ یې دنوم او کارنامو سره اشنا شوه.

دامریکا په مشرۍ کې دجوړ شوي ستر غربي اتحاد په مقابل کې یې چې بیا له هماغه اولې ورځې نه دملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی په مشرۍ کې جهاد پیل کړ نودا جهاد یې هم د دومره اخلاص،ښه تدبیر ،کامیابو تاکتیکونو او دډېروزیاتو بریاونه ډک و چې یوځل بیا حقاني صیب نړیوال شهرت وګاټه؛ دټولې نړۍ په ژمنو مسلمانانو کې یې لوی محبوبیت په نصیب شو اوټول نړیوال صلیبي ځواک یې ولړزاوه .

هغه داسلامي امارت ترقیادت لاندې په روان جهاد کې د یو مهم جز په صفت ددښمن په مقابل کې جنګېدلو خو بریاوې یې دومره زیاتې او دلوي غاصب دښمن لپاره دومره ورخطا کونکې او ملا ماتونکې دي چې دښمن دحقاني شبکې په نوم دا اسلامي امارت نه جلا او مستقل قوت ګڼلو او همدا دحقاني شبکې نوم ورته دخوف او وېرې مستقله استعاره وګرځېده.

نو حقاني صیب ددې دواړو غاصبو زبرځواکونو پرضد مخامخ وجنګېد او ۴ لسیزې یې په جهاد کې دشهادت په ارزو او امید تېرې شوې خو دا چې دوخت سیف من سیوف الله و نو سره دډېرو زیاتو کوښښونو یې دښمن نه په ژوندي نیولو او نه هم په شهیدولو وتوانېد اوده هم لکه دحضرت خالد بن ولید دشهادت په ارمان په خپله بستره دحق داعی ته لبیک وویلو .

پـه خپلـو بسـترو وفـات کېـدونکو دشـهادت ریښـونو غوښتونکو ته رسول الله صلی الله علیه وسلم من جانب الله دشهادت د مرتبې ورکول کېدو زیری ورکړیدی؛ موږ دالله تعالی دلوی درنه حقاني صیب ته هم ددې مرتبې تمه لرو ؛ الله تعالی دې یې ورکړي .

داسې نده چې ګینې په ټول افغانستان کې حقاني صیب یواځنی ښه مسلمان، ښه مجاهد، ښه قوماندان او ښه جهادي قائد و.

ریښتیا دا ده چې دسور ښکېلاک او غربي اشغال پرضد دواړو جهادونو کې ډېر دیندار؛ باتدبیره؛ دښو استعدادونو نه برخمن،زړور او تکړه مجاهدین او جهادي قائدین راښکاره شول خو کوم ګڼ کمالات چې یواځې په حقاني صیب کې الله تعالی ایښي وو هغه ټول به شاید په بل کوم قوماندان کې نه وو.

په افغانستان کې دجهاد دپیل ورځې دهغه دځوانی ورځې وې خو دځوانی په هماغو ورځو کې دا دخپل دین،ملت او خاورې ته ددفاع لپاره دیو داسې ژمن مشر په څېر راوړاندې شو چې هغه ددین،ملت او خاورې درې واړو سره بې حده زیاته مینه لرله ؛ په یوې خورا لویې مدرسې کې دتدریس خدمت باندې یې دخاورې او دین دفاعي خدمت ته ترجیح ورکړه اودهمـدې دفـاع پـه لارکـې دسـرجارولودلوړعزم سـره دسرولښکرویه مقابل کې دجهاد ډګر ته را ووت .

څو کلونه وړاندې ما او همدرد صیب دوخت دپیاوړي ادیب،شاعر لیکوال او ددارالعلوم حقانیه ممتاز مدرس عبدالله فاني صیب دلیدو په موخه دارالعلوم حقانیه ته ورغلي وو؛ دفاني صیب پلار مولانا عبدالحلیم زرویوي دخپل وخت خورا ډېر ستر عالم و؛ دخپل وخت سترو عالمانو به دعلومو او فنونو غړ کېنلو؛ دا یواځنی هغه شخص و چې په دیوبند ثاني دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک کې به په صدر مدرس یادېدلو؛ درسول الله صلی الله علیه وسلم داحادیثو مشهور کتاب مسلم شریف یې دومره ښه درساوه چې په ټول پاکستان کې یې نوم ویستلی و نو څکه ورنه دخپل وخت داسلامي نړی یو ستر عالم اومدبر علامه یوسف بنوري رحمه الله سترې جامعې بنوري ټاون ته د راتللو او پکې دمسلم شریف د تدریس دعوت ورکړی و او ورته یې د دومره لوړ معاش وړاندیز کړی و چې په مدرسو کې د داسې لوړ معاش تصور هم نه شو کېدای خو هغه دورتلو نه معذرت کړی و او تر څنګ یې ورته په خط کې دا هم لیکلي و چې څه دشرعي علومو یو ادنی خادم یم؛ خپل عمر مې همدې ته بښلی؛ پدې تأسف کوم چې تاسې دلوړ معاش خبره کړی او پر ما مو دمادیاتو د خوښونکي سړي ګومان کړیدی.

فاني صیب هم د دارالعلوم حقانیه له مشهورو استاذانو څخه و؛ الله تعالی ډېر لوړ استعداد ورکړی و؛ د پښتو ژبې ډېر ښه شاعر و او تر څنګ یې دعربي، فارسي او اردو ادب سره هم ډېر ه نږدې علاقه او مهارت درلودلو؛ فاني صیب سره دهمدرد صیب ډېره نږدې ملګرتیا وه نو مجلس ډېر اوږد؛ ښه علمي او ادبي خو دتکلف نه خالي و؛ دهغه علمي او ادبي مجلس چې ډېر خوندور اوګټور و خوند یې لا پسې پدې زیات شو چې پکې دحقاني صیب ذکر هم راغلو؛فاني صیب به دچا ډېره ستاینه نه کوله خو د حقاني صیب یې ډېره ستاینه وکړه،ویې ویل هغه زما په اصول الشاشي کې استاذ و ؛ په طالبی کې یې دتکړه توب ډېر شهرت و چې دهمدې ډېر ښه استعدادله امله په خپل استاذ حضرت مولانا عبدالحق صیب ډېر ګران واو دفراغت نه پس یې په خپلې جامعې کې استاذ کړی و.

جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک چې دهند دتقسیم نه پس ددارالعلوم دیوبند نعم البدل ګڼل کېدله په لږ وخت کې یې په علمي ډګر کې دومره زیات پرمختګ وکړ چې علماء کراموبه دیوبند ثاني بللو. حقاني صیب دهمدغې دیوبند ثاني نه فارغ او همدلته یې دخپل استاذ لوی محدث حضرت مولانا عبدالحق صیب رحمه الله تعالی په حکم اوخواهش تدریس شروع کړ چې دا دده لپاره ډېرلوی اعزاز و ، اود لوړ علمي مقام ښه وه.

دپوهنتون یو اول نمره فارغ چې له فراغت نه پس په پوهنتون کې اسستانت استاذ مقرر شي پرې له حده زیات خوښ وي نو حقاني صیب چې په اکوړي کې یو مسافر عالم و په حقاني کې ورته استاذي په نصیب کېدل دده دلوړ علمي استعداد لوی دلیل و او دښه نصیب لویه نښه وه .

فاني صیب ویل حقاني صیب غالباً ایله یوکال په حقانیه کې تدریس کړی و چې په افغانستان کې دثور انقلاب نه پس جهاد شروع او حقاني صیب ترې خبر شو نو هغه دخپل استاذ حضرت مولانا عبدالحق رحمه الله تعالی حضور ته حاضر شو او ورته یې وویل چې زما وطن کې جهاد پیل شویدی څه نور خپل تدریسي خدمت جاري نه شم ساتلای ماته دتلو اجازه راکړه؛مولانا عبدالحق صیب رحمه الله تعالی ورته اجازه ورکړه ؛ دتدریس دنسبتاً آسان خدمت نه دجهاد دمشقتونونه ډک میدان ته ولاړ او چې یوځل یې دلویوقربانیوغوښتونکی دا

ډګرانتخاب کړ نو بیا راستون نه شو او ترمرګه یې دامقدسه فریضه جاري وساتله چې دا دده داولو العزمۍ،خپل دین ته دوفادارۍ او خپلې خاورې او ملت سره دمینې ډېره لویه نښه وه.

حقاني صیب دجهاد لپاره تدریس قربان کړ خو دعلم سره یې خپل تړاو پرې نکړ بلکې دجهاد سره یو ځای یې دعلومو او فنونو مطالعه هم روانه وساتله چې په برکت یې دده جهادي ژوند هم دشریعت داصولو سره برابر و.

ما دتصوف په اړه دهند دعالمانو کتابونه لېدلي او ددوئ اصلاحي وعظونه مې هم اورېدلي و خو په خپل هېواد کې مې تصوف یواځې د ذکرونو په صورت کې کتلی و؛ د تصوف په موضوع لیکل شوی کوم ځانګړی بـه کتاب مې هم نـه ولیـدلی ؛ کتـاب نـیم مې لـه نظـره تېـر شـوی و خـو متأسـفانه چې یکې دتصوف نه زیات دشدد، افراط او پر نورو دګمراهۍ فتوې وې، لکه په علم کلام کې لیکل شوي دمتأخرینو کتابونـه چې دعلم کلام نه یکې زیات منطق او حکمت وي.

نوماګومان کاوه چې په افغانستان کې بـه دتصـوف پـه اړه له ځو مشهورو صوفیاء کرامو پرته عـام علمـاء ډېـره مطالعـه نـه لري او عام خلک خو به ایله همدومره پوهېږي چې دا یوداسې ښه شی دی چې دالله تعالی دزیات ذکر باعث کېږي نور به یې ډېر څوک علمي مطالعې ته پاملرنه نه لري خو چې مې دمفتي حبیب الله صیب په قاسمیه مدرسه کې دتصوف په اړه دصدیقي صیب په نوم د افغانستان دیوعالم جوره عالمانـه وینـا واورېدلـه نو پوه شوم چې رایه مې غلطه وه او د افغانستان علماءو کې هم دتصوف مطالعه شته ؛په اصـل روح یـې پـوه دي اواهـل تصوف عام خلک دتصوف دحقیقت نه خبروي .

همدا راز به ما ویل چې دروساوپرضد په روان جهاد کې په قومانډانانو کې چې کوم علماء یادېږي ددوئ نه به هرځه هېر وي او داسې څوک به په دوئ کې نـه وي چې ښـه علمـي مـوت ولري خـو یـو ځـل چې حقـاني صـیب دپېښـور پـه امـدادالعلوم مدرسـه کې کومـه عالمانـه وینـا وکـړه نـو پـوه شـوم چې پـه علماءوقومانډانانو کې هم دلوړ علمي استعداد هغه څښتنان شته چې دجهاد په سنګرونو کې یې هم دعلمي مطالعې رواني ساتلو له لارې خپله ستره ارزښتناکه علمي پانګه خوندي ساتلې ده.

دې مدرسه کې دبخاري شریف ختم و او د وخـت دخـورا ستر عالم شیخ حسن جان شهید رحمه الله تعالی په شمول یکـې زیـات شـیوخ او ګـڼ شـمېر علمـاء اوطالبـان حاضـر وو؛حقـاني صـیب د جهـاد پـه کیسـو، دمجاهـدینو پـه جهـادي بریاوو؛ ددښمن د وحشت په بیانولو هم ځـان خلاصـولای شـو خو داسې یې ونکړل بلکې دعلم په فضیلت،مقام،اړتیا،غوښتنو؛ په ټولنه کې دعلماءو په کردار او پرعلم دعمل دضرورت په باره کې یې داسې اورد جامع بیان وکړ چې حاضر ټول شیوخ یې هک حیران کړل.

هو! که څه هم هغه دمدرسې دتـدریس نـه دجهـاد ډګـر تـه تللی و خو ددیني علومو مطالعه یې نه وه پرېښې؛په غرونـو کې به یې هم دمطالعې لپاره دځان سره دیني کتابونـه ګرځـول او پـه زړه کې یـې دعلـم دومـره لـوې مقـام و چـې دجهـادي خـدمت ترڅنګ یې په لویه سویه دعلم خدمت هـم روان سـاتلی و او ددې لپاره یـې پـه میرانشـاه کې دمنبـع العلوم پـه نـوم یـوه لویـه جامعـه جـوړه کـړې وه چـې دډاکټـر شـیرعلي شـاه او دشـیخ عبدالحق کوهستاني رحمهمـا اللـه تعـالی پـه څېـر دوخـت ډېـرو لویو علماءو به پکې تدریسي خدمت کاوه او زیاترو وختونو کې به پکې دطالبانو شمېر له زرو اوړېدلو.

حقاني صیب داطلاعاتو او فرهنګ په ارزښت او مقام هم ښه پوهېدلو او دخپل مشر مولـوي محمـدیونس خـالص رحمـه الله تعالی په څېر دی هم ښه فرهنګپالی قائد و نو ځکه یې خپل مستقل اخبار او مجله چاپ کوله او په هماغه تېره زمانه کې یې دنړۍ دمسـلمانانو دخبرولـو لپـاره د جهـادي عملیـاتو او سـحنو فلمونه جوړول او نړۍ ته به یې لېږل.

سره له دې چې هغه دشوروي اتحاد پرضدجهادکې نړیوال شهرت ترلاسه کړی و؛قومانداني یې دیو جهاد ي رهبر درهبرۍ نه کمه نه وه اوچې کله یې له مېړانې، اخلاص او خدا پرستۍ نه عرب مسلمانان خبر شول نو هم دده تر مشرۍ لاندې دعملي جهاد لپاره ډلې ډلې عربان رغلل او هم یې ورسره مخامخ مالي مرستې پیل کړې خـو هغـه پـدې لویـوالي هیڅکلـه هـم دغـرور ښکار نه شو او مولوي محمد یونس خالص صیب یې چې یـو ځل جهادي مشر ومانه نو ترپایـه یـې ورسـره وفـا وکـړه او خپل استقلال یې ترې اعلان نکړ چې دایې هـم د اصـیلتوب او وفادارۍ ډېر لوی دلیل و .

بیــا دطالبــانو داســلامي تحریــک درامنځتــه کېــدو او بریالیتوب پرمهال هم حقاني صیب خپل لویوالي دغرور ښکار نکړ بلکې خپل ټول لویوالی،مقام او مرتبه یې دحق او صـداقت نه قربان کړل او چې یوځل یې دملا محمد عمر مجاهـد رحمـه الله تعالی سره بیعت وکړ نو بیا پرې تر آخره دغر غوندې کلک پاتې شو؛دشریعت دغوښتنې سره سم یې دهغـه کامـل اطاعـت وکړ او کټ مټ یې دهغه مسیر تعقیب کړ.

دبیعت ساتل څه اسان کار نه و؛ دبیعت ساتلو سره خورا ډېر ستر مشقتونه اوخطرونه ملګري وو؛ په ډېرو عادي وسلو او وسایلو دامریکا په مشرۍ کې دنړۍ دلوي زبرځواک په مقابل کې دجنګ ډګر ته راوتل و؛پدې ډګر کې هره لحظه ددښمن په لاس دوژل کېدو یا ژوندي نیول کېدو وېره وه؛ددښمن په مقابل کې دجنګېدلو او ځان دعام محضر نه دلرې او پټ ساتلو اړتیا وه ؛ ددښمنانو دشرونو نه دځان ترڅنګ دکورنۍ دساتنې فکر و؛ناموافق چاپېریال و او نیږدې په ټولې نړۍ کې دنظامونوله لورې دټولو مجاهـدینو سره ددښـمنی فضاوه .

خو دبیعت مانولو(الله تعالی دې تـرې هرمجاهدوساتي) او ددښمن په مقابل کې دجهاد پرېښودلو په صورت کې بیا دعیش او عشرت او ددنیـا دټولـو رنګینیـوو نـه ډک ښـه ژونـد و او دغتو چوکیـو وړاندیزونه وو.

دحقاني صیب اولوالعزمۍ ته سلام چې دې یو شي هم دخپل موقف او مسیر نه وا نه اړولو او داستقامت داسې مثال یې قائم کړ چې تاریخونه به یې یاد ساتي.

لکه موچې وړاندې عرض وکړ نړۍ به هغه داسې وړاندې کولو لکه چې د ټول اسلامي امارت دبرابر غورځنګ او نظامي طاقت مشر وي او دا غورځنګ یې دحقاني شبکې په نوم یادولو خو هغه یخیله ځان دامیرالمؤمنین ملامحمد عمرمجاهد سره دبیعت لـه امله دهغه او روان جهاد یو عـادي مجاهد بللو او همدا یې دځان لپاره دآخرت لویه توښـه او دنجات ذریعه ګڼله نو ځکه یې دامیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی دوفات نه پس ډېر ژر دشهیدامیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور رحمه الله سره او دهغه دشهادت نه پس بلا توقفه دشیخ الحدیث مولوي هبت الله آخندزاده سره بیعت وکړ.

حقیقت دا دی چې واحد قیادت ،واحده قومانده او په کشرانو کې دشرعي بیعت له مخې د خپلو مشرانو اتباع داسلامي امارت اصل روحاني طاقت اودبریالیتوب راز دی چې داسلامي امارت دښمنان ترې بې برخې دي.

دشوروي اتحاد پر ضد په جهاد کې شریک شوي ټول هغه مجاهدین چې له انحراف نه بچ شول ډېر دقدر وړ دي او یقیناً چې ملت هم ورته ډېر دقدر په نظر ګوري خو متأسفانه چې ګڼ داسې وړه او غټ قوماندانان شته او هېوادوالوته معلوم دي چې په خپلـو ولایتونـو ، پلازمېنې کابـل اوحتـی په بهرنوهېوادونو کې ډېر لوی او د لوړ قیمت کورونه لري.

حقاني صیب سره له دې چې ډېر لوی قوماندان و اومخامخ ورسره عربو مسلمانانو دجهاد لپاره مرستې هم کولې خو چې دجهادلپاره دورکړل شوو مالونوسره یې احتیاط کولواو خپل شخصي مال یې نه ګڼلونو نه یې دخوست ښارکې کور ولرلواونه هم په کابل کې چې دایې په تېر جهادکې د مادیاتو نه داستغنا او په مالي چارو کې داحتیاط ډېر لوی دلیل اوزموږ لپاره مشعلِ راه دی .

حقاني صیب نړۍ لیدلې وه او دنړۍ دلویو عصري پوهنتونونو نه هم خبرو؛ که غوښتلای دنړۍ دې مشهورو پوهنتونوتو ته یې خپل بول زامن لیږلای شول خو دهغه کمال دا و چې دنړۍ رڼا او پړقا چې تولـه یې لیدلې وه پرې یې داسې اغېزې نه وې کړې چې دملاتوب نه یې بې زاره کړی یا یې پرې پښېمانه کړی وای بلکې کوم ملاتوب چې په برکت یې هغه ته ددین، خاورې او ملت دا دومره لوې خدمت نصیب شو پرې خوښ و نو ځکه یې خپل زامن دنړۍ دپوهنتونونو پرځای دقرآنکریم دحفظ او دیني علومو د زدکړې په موخه خړو مدرسو ته ولیږل او د دین خدمت ته وښیل.

بیا له دې هم انکار نه شي کېدای چې زموږ مشهور او لوی علماء چې په خپلو زامنو دیني زدکړې کوي نو لویه هیله یې دا وي چې تکړه عالم او مشهور مدرس جوړ شي تر څو دخپل پلار ځای ونیسي او دنېک نامۍ سبب یې شي؛ طبعي ده چې دحقاني صیب به هم همدا طبعي هیله وه خو په الو العزمۍ یې صد آفرین چې هغه له خپلو طبعي هیلو تېر شو دشریعت غوښتنې ته یې وکتل او چې امریکا او اتحادیانو یې پر هېواد یرغل وکړ نو داسې یې ونکړل چې نورو ته دجهاد دعوت ورکړي او خپل بچیان چرته په خوندي ځای کې د جهاد له لیکو لرې وساتي بلکې دهغه چې د دې پاک جهاد په فرضیت کامل ایمان و نو دې ایمان چې ترې څه غوښتل دا غوښتنه یې پوره کړه او یو یا دوه نه بلکې ټول زامن یې داسلامي امارت تر قیادت لاندې دجهاد پاک صف ته ولیږل.

رښتیا ده چې داباءو اثار په ابناءو کې ښکاره کېږي نو دحقاني صیب جرأت،شجاعت، عالي اهدافو ته ژمنتیا او پدې لارکې دقرباني احساس پدوئ کې راښکاره او څلورو زامنو یې یاني عمرحقاني ، محمدحقاني ، بدرالدین حقاني اونصیرالدین حقاني پدې لار کې خپل سرونه قربان کړل، انس حقاني زندان ته ولاړ .

او پدې ۱۹ کلن عملي جهاد کې دسراج الدین حقاني (خلیفه صیب) اتلولي، حیرانونکي تدبیرونه او دښمن لره عاجزه کونکي تاکتیکونه دومره مخ پر وړاندې ولاړل چې یې په نوم اورېدلو د اشغالګرو ماني لړزېږي.

د امیر المؤمنین نایب کېدل ډېر لوي خدمت دی چې خلیفه صیب ته الله تعالی په ځوانه ځواني کې نصیب کړی .

دې ته وایې ددین ، ملت اوخاوري سره ریښتینې مینه اوریښتینې قربانۍ .

دا شهادتونه که له یوې خوا دحقاني صیب کورنۍ او پخپله دحقاني صیب لپاره د آخرت ډېره لویه نوبه ده نو زموږ دټول مسلمان ملت لپاره ډېر ستر افتخار هم دی.

زموږ دښمن که زموږ په مقابل کې خپل جنګ حق ګڼي نوداسې څوک یکې شته چې خپل یوځوی زموږ مقابلې ته راوړاندې اودخپلې مبارزې نه یې قربان کړي ؟

نه ! هیڅکله هم نه ځکه چې زموږ دداخلي اوخارجي دښمن هرڅه دمادیاتو لپاره دي اودمادیاتو عاشقان دقرباني له احساسه محروم وي نوځکه کامیابېدای هم نه شي .

برعکس دحقاني صیب برابر یا تري کم او زیات ډېر مشهور قوماندانان تېر شویدي خو چې دشریعت حکمونو او جهادي اهدافو ته یې ژمنتیا ترآخره پاتې نه شوه؛له مادي ګټو او په غلامي اداري کې یې له چوکیو اخستلو خپلې قربانۍ جار کړې او خپل بچیان یې له سنګر او مدرسې لرې وساتل نو نن دهغوئ همدا بچیان د هغوئ لپاره دلوي شرم سبب شویدي.

دحقاني صیب تېر جهاد چې له اخلاص نه ډک و او دچوکیو او منصبونو شوق ورسره نه و نو الله تعالی پرې مضل وکړ او دخپلمنځي جنګونو نه یې ځان لرې وساتلو او دځان لرې ساتلو په موخه یې دځان نه دډېرو کمزورو حلکو سره هم ډېره ګوزاره وکړه.

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې په مخکې جهاد کې خوست هغه وخت فتحه شوی و چې لا کابل کې د ډاکټر نجیب اداره فعاله وه؛هرڅوک پدې پوهېږي چې دخوست فاتح حقاني صیب و خو دفتحې په شپه چې دګر ته له نوروسیموګن شمېرد حزب اسلامي مجاهدین راغلل نو حقاني صیب یې هیڅ ممانعت ونکړ؛ له ځان سره یې په فتح کې شریک کړل اوددې لپاره چې اختلاف رامنځته نه شي اودکوم مسلمان بې ځایه وینه توی نه شي نودحزب اسلامي په غوښتنه یې ولایت هم هغوئ ته ورکړ چې دا یې داعلی ظرفیې ډېره لویه نښه وه .

په عربي نړۍ کې تر تولوزیات شهرت اومقبولیت حقاني صیب درلودلو اودجهادپه سنګرکې هم ورسره ښه ډېر عرب مجاهدین وو چې ښه ډېر قدریه یې کېدلو خو دحقاني صیب په تصلب صد آفرین چې هیڅ ددوئ تراغېزې لاندې رانغلو؛ په فکري ، عقیدوي اوعملي لحاظ دتشددښکارنه شو اونه هم دشریعت داصل مزاج نه واوښت .

په زره پورې داده چې دحقاني صیب دالوړجهادي اوعلمي مقام الله تعالی تولو خلکو ته ښکاره کړ ؛له چا پټ پاتې نه شو اودنړۍ په داسې ځایونوکې به یې هم ډېرزیات معتقدین ووچې هلته به یې ډېرګومان نه کېدلو.

دمجاهدینو په لاس دافغانستان دفتحه کېدونه پس هغه یوځل زما مادر علمي جامعه دارلعلوم کراچی ته راغلی و ؛ ددارلعلوم بولومشرانو استاذانو چې په کوم احسا س اولویه ولوله دهغه استقبال وکړ او ورسره یې دعقیدت اومحبت اظهار وکړ د زیاترو افغانانو طالبانوله سترګوپرې دخوښۍ اوښکې توی شوې .

په سبا بیازموږ یو استاذ(غالباً مولانا افتخار احمد اعظمي) وفرمایل چې ددې جامعې ته صدرضیاءالحق مرحوم هم راغلی و خوددې په نیمه استقبال یې هم نه و شوی ؛ هغه وویل :زموږمېرمنې هم ددې عظیم مجاهد له ورایه دلیدلو ارمانجنې وې اوهغه چې په جامعه کې دننه داستاذانودکورونو له مخې تېرېدلونو زموږ مېرمنو ورته ددروازو له وتونوراکتل.

حقاني صیب ته چې الله تعالی کوم مقام ورکړی زما په څیر دکمزورې سرې کمزورې قلم یې دحق دعشرعشیر له دا کولو هم عاجز دی ؛ داځومات ګوډ ټکې مې پدې هیله ولیکل چې کوندې څه هم دده سره دمینه کونکو په ستري قافلې کې ورګډ اودده په برکت زما دا څو مات ګوډ لیکلي ټکي دچا دتوجو وړ وګرځي.

الله تعالی دې یې دانبیاءو ، صدیقینو اوشهداءو سره حشر وکړي ؛په فردوس اعلی کې دې یې مقام په نصیب شي ؛ جهادي ارمانونه یې دې رب العالمین پوره کړي اوخیراوبرکت دې یې الله تعالی په کورنۍ او موږ تولو کې باقي پاتې کړي. آمین .

☆☆☆

ما درته ویل

ندې منله ...

خلیل ـ عزیز

افغان ولس او بیا په خاص ډول مجاهدو فرهنګیالو اوقلموالو په مسلسل ډول دکابل شړونګا بابا او دزژیم دارودستی ته یی وئیل چې هسې سرې کربنې مه کاږی داسې حالات او شرایط راروان دي چې هره کربنه به مو زیږبړې شرمنده کیږی به او هغه سه به منی چې سه اسلامي امارت درته وایی!!

خو هغه د پښتو دمصری په مصداق (مادرته ویل ندی منله ـ ازار ګټلي اوس وهه د چول مزلونه)

د کابل رژیم له ډول ډول تخلفونو او بهانو سره سره، د اسلامي امارت د پنځو زرو بندیانو د خلاصون پروسه نهایي کېدو ته نږدې شوې ده. د حوت په ۱۰مه د اسلامي امارت او د امریکا د متحده ایالتونو ترمنځ د اشغال د خاتمې د تړون تر لاسلیک وروسته ټه وه چې د باور جوړونې دا پروسه په لسو ورځو کې بشپړه شوې وای، خو د کابل رژیم ناغیړي او ډول ډول بهانو دا بهیر نږدې شپږو میاشتو ته وغځاوه.

کابل ادارې د اسلامي امارت او امریکا له هوکړې د نارضایتي ښودلو لپاره په لومړي سر کې د پنځو زرو بندیانو له خوشي کولو انکار وکړ، خو وروسته یې له ځانه تقسیم اوقات ورته جوړ کړ. د خپلو متحدینو او اسلامي امارت لخوا تر رد کېدو وروسته یې نن یوه او سبا بله بهانه کوله – خو د خپلو اصلي ملاتړو د فشار مقابله یې ونه شوه کړای او باالآخره یې، د نورو سرو کرښو په څېر، دا کرښه هم ماته شوه.

د بندیانو د خلاصون په پروسه کې په خند او ځند راوستلو سره کابل رژیم په نړیواله، سیمه ییزه او ولسي سطحه خپل څه اندازه پاتې حیثیت هم له لاسه ورکړ. بدلېدونکو بهانو یې تولو ته اصلي څېره روښانه کړه چې د بندیانو د نه خلاصولو لپاره کوم حقوقي او معتبر دلایل نه لري او یوازې د سولې د پروسې د ځنډولو په خاطر دا بشري موضوع جنجالي کوي. د بندیانو د نه خلاصون او سولې موضوع کابل اداره له خپل اصلي ملاتړي امریکا سره هم لاس وګریوان کړه – تر دې چې خبره ګواښونو ته سره ورسېده.

د سولې په لار کې په یوه او بله بهانه خنډونه اچول به، که د هر چا لخوا وي، یوازې د دافغانستان د ناورین په اوږدېدو منتج شي – هغه څه چې د هیچا په ګټه نه دي . د مقابل لوري لخوا له تخلفونو او نیمګړتیاوو سره سره، اسلامي امارت بیا هم چمتو دی چې د بندیانو د خلاصون د بهیر تر بشپړېدو وروسته راتلونکي پړاو بین الافغاني مذاکراتو ته ننوځي او هلته له تولو داخلي لورو سره د هېواد په راتلونکي بحث وکړي...

د اشرف غني اسره تر چا ده ؟

صارم

په افغانستان کې داشرف غني کړنو ته په کتو سړی حیران شي اویوځه یې دغرب په تزویرونو او دسیسو هم سرخلاص شي،چې ګڼه یې وي تو "غرونه به غوښې او سندونه به درته شوروا کړي" او چې نه وي بیا نه کوم نزاکت پېژني اونه سابقه یاري ورته کومه معنی لري . مخکې له دې چې اشرف غني ترارګه ورسېږي، دهغه شخصیت ته په خورا پریمانه تبلیغات کېدل اوداسې ښودل کېده چې که په علم، پوهه، مدیریت، او اقتصاد کې وي، نو په نړۍ کې همدا شخصیت دی اوبس، خوکله چې دعمل میدان ته راغی اودغه لباسي لباسونه یې له تنه ووتل نوپه اصلي بڼه بربنډ خلکو ته ښکاره شو چې حتی دپښتو لیک لوست دلوستلو هم نه دی.

هغه چې دکرزي په دوره کې کومې دندې ترسره کولې، له ورایه معلومېدله چې امریکایانو دغه سړی دخپلو اهدافو ترسره کولو ته دکرزي په ځای دویمه شتپنۍ ساتلی او د ده له حرکاتو هم داسې برېښېدله چې دهغه دغې ځوکۍ ته خوری غل دی .

دا خو دخدای کره دي چې دامریکایانو دېرې هیلې دلته خاورې شوې او داشرف غني سکه هم دلته ونه چلېده، کنه هغوی چې پرده کومه پانګونه کړې وه د دې نه وه چې په دومره اسانۍ دې لاس ترې واخلي، خو اوس چې دزماني ګردش بل ډول چرخ وخوړ، نو هغوی ته پرده دغه پانګونه نوره په تاوان تمامه شوه ځکه یې په ډېره اسانۍ لاس ترې واخیست او دی هم ترې ناهیلی شو، نوموړی چې امریکایانو په کومو خوړو کېنولی، ده ته یې هم پرېښودل ګران دي اوچې ترڅو یې وس وي په اسانۍ به یې ځوک ترې پورته نه کړي.

د دغې ککړې پاچاهۍ پرخوړو پرېوتی اشرف غني چې اوس ترډېره له امریکایانو او بهرنیو ملاتړو ناهیلی دی، نو ځان مجبور ګڼي چې دواک ساتنې لپاره ځانته یوه اسره پیداکړي، همدا لامل دی چې په هیواد کې دمسلکي، علمي، کدري، اکادیمکو، خواخوږو، وطن دوستو او دردمنو شخصیتونو په ځای یې توله تکیه په لندغرو، لوچکو، لوپرو، قاتلینو، غلو او دهیواد په دښمنانو ده .

د دې لپاره چې دطالبانو پـه وړانـدې کرکـه، نفـرت، اوتعصب راپورتـه کـړي دامرالله صـالح کورتـه ورځـي اوهلتـه دخپلـې چـوکۍ حيثيـت دخـو تنـو پـه پښـوکې غورځوي،هلته هغوی ته په ګـه او اميد دنفـرت پـارونې ويناکوي، په داسې حال کې چې له دې دوه ورځې مخکې په پنجشيرکې دکرام الدين کريم دنيولو رسوا عمليات هـم تېر شوي چې د ده د دولت په نامه بې روحه کالبوت ته يې هيڅ حيثيت نـه ويـړې ايښـی، خـو سره دهغـې هـم هلتـه ورځي اودسوال زارۍ لمن ورته نيسي .

همدا ډول کړنـې د ده اصليت روښـانه کـوي اوتـول هغه اکثريت له پامه غورځوي چې تريوځه حده يې ده تـه په اميدونو رايه ورکړې وه او يا يې پـه يـوډول د ده ملاتـړ کړی و، نن چې دی دولسي قهر څپو په مخ کـړی داهرڅـه ترې هېر دي، يواځې د يوڅو شپو دبقا لپـاره تـر تولـو پـه نامردو، اجرتي قاتلانو او سپي خويو خلکـو پسـې ګرځـي چې دولس په نوم د راتولو کړو يوڅو ډالرو په بدل کې به يې ګوندي وساتلای شي، سره له دې چې ږومبی لطمـه او ضربه به دهمدې خلکو له لوري خوري او دنجيـب ګـاو د تېښتې د داستان او بيرته راپاته کېـدو تـاريخ يـې پـه لنـډه ماضي کې په مخکې تېر شوی دی .

په هيواد کـې روڼ انـدو قلموالـو او لوسـتوالو تـه دا يوحقيقت روښانه کوو او پـه دې بايـد دوی خپـه نـه شي، بلکې د دغسې ډېرو بېلګو په ليدو يـې بايـد راسره ومنـي، هغـه داچـې **پـه افغانسـتان کـې ملايـان، علمـا، طالبان او دين دوسته خلک دبلې هرې طبقې په نسـبت هيـواد تـه ډېـر وفـاداره، رښـتيني او سرښندونکي ثابت شوي دي ، دانه يواځې د نن ورځې دعوه ده، بلکې دتاريخ په اوږدوکې په دې هيواد کې دغه خلک هيڅکله له پردیو په منفي تأثر دومره نه دي متأثره شوي چې له هيواد سره په دومره پيمانه خيانت ته زړه ښه کړي، برعکس يې دسرښندنې، فداکارۍ، ايثار او قربانۍ په ميدان کـې تربـل هرچـا ږومبـی ور وړانـدې شـوي**

او د روانشناسۍ يوه موندنه مې هـم مخ تېره شوې چې همدا خبره يې تائيدوله او ويلې يې و چې دهيواد مينه اولـه هيواد سره وفاداري دنورو په نسبت په ديـندارو خلکـو او ملايانو کې ډېره وي .

دا خبره مې د دې لپاره وکړه چې پـه لـومړي سر کـې داشرف غني او دده دامشالو فرشته صفته کرکتـر څـومره څلـول کېـده او پـه څـومره سـپېڅلو نومونـو اولفظونـو رامخته شو ، خو اوس يې پاتـه تـاريخ څـه ډول شـو او ورروستۍ اسره يې تر چا ده ؟ !!

معامله امارات و اسرائیل بر لاشه فلسطین

حبیبی سمنگانی

فرار از دین و مذهب از لازمه های مدرنیسم (modernism) یا نوگرایی پنداشته می شود. آنانی‌که ناگهان فریفته پدیده، مدرنیسم می‌شوند وابستگی با دین و مذهب را از نشانه‌های بنیادگرایی می‌دانند و می‌کوشند به عنوان لیبرال و سیکولار، چهره جدیدی از خود به نمایش بگذارند و پندار و باورهای خود را فراتر از دین و مذهب جلوه بدهند.

وحدت امت از درس‌های اساسی دین اسلام است و نصوص زیادی درین مورد وارد است. تاریخ اسلام نیز شاهد است که پیوستگی و همبستگی دینی مسلمانان، نقش های عمده‌ای در رویدادهای بزرگ تاریخی به‌خصوص فتوحات و جنگ‌های مسلمانان داشته است. بی قراری و بی‌تابی خلیفه عباسی معتصم بالله به صدای دردناک «وا معتصما» بیان‌گر این واقعیت تاریخی است. همچنان محمد بن قاسم ثقفی نیز به هدف رهایی چند تن بیوه زنان و کودکان مسلمان، منطقه سیند را فتح نمود.

اما اکنون اوضاع دگرگون شده است. حالا دولت‌مردان کشورهای اسلامی، که گرویده مدرنیسم شده‌اند، وحدت امت را بالاتر از قصه‌های پارینه ارزشی نمی دهند. اینکه بر مسلمانان فلسطین چه می‌گذرد، مسلمانان کشمیر چه حال و روز دارند، عراقی‌ها و شامی‌ها چه روزگار تلخی را سپری می‌کنند، یمنی‌ها و لیبی‌ها چه شب و روزهای فلاکت‌باری را پشت سر می‌گذارند و با مسلمانان روهنگیایی با چه مظالم وحشتناکی از دست بودایان میانمار مواجه هستند، برای این دولت‌مردانِ مدرنِ مسلمان اهمیتی ندارد.

بلی، دردسر برای این دولت‌مردان نازدانه اینست که نمی‌توانند خود را از بار همسایگی و هم‌مرزی این مسلمانان خسته حال نجات دهند و همه این مسلمانان آزرده و افسرده را بسیار دور از مرزهای خود، در دشت و بیابانی بیاندازند، تا گوش‌های شان از شنیدن آه و فغان این نابسامان ها هم، به راحت شود و زندگی آرام تر داشته باشند.

سیاست کنونی دولت های عربی به‌خصوص خلیجی همینست که باورهای «امت» و «ملت» دیگر معنای ندارد و هر کشور باید در موقف‌گیری‌ها، تنها منافع خود را ملحوظ بدارد. ایشان از موضوع فلسطین چندین سال پیش دست‌بردار شده بودند، اما نمی‌دانستند چگونه ابراز بدارند. حالا با ایجاد روابط رسمی میان امارات متحده و اسرائیل و رسمیت دادن اسرائیل، خود را از این بار گران سبکدوش ساختند.

سیکولاران و لیبرالانی که از یکپارچگی و همبستگی امت اسلامی خوار می‌خوردند، از این تمایل تازه دولت مردان کشورهای مسلمان خیلی‌ها خورسند اند و گویا آینده، سیکولاریسم و لیبرالیسم را در جامعه چند پارچه اسلامی، تابناک می‌بینند.

با رسمیت یافتن اسرائیل از سوی امارات متحده، اکنون سیکولاران سائر کشورهای اسلامی دولت و مردم خود را تشویق می‌کنند که ما نباید از استوارسازی روابط با جامعه پول‌دار و تجارت‌پیشه یهودی، که سبب خوشنودی بی حد امریکا هم می شود، عقب بمانیم و نباید تمام سود را شاهزادگان اماراتی از آنِ خود بسازند.

از میان کشورهای اسلامی؛ ترکیه در ۱۹۴۹، مصر در ۱۹۷۹، کشورهای آسیای مرکزی در ۱۹۹۲ و اردن در ۱۹۹۴ اسرائیل را به رسمیت شناختند. قزاقستان از متحدان

استراتژیک اسرائیل به شمار می رود. اکنون امارات متحده آماده عادی سازی روابط همه جانبه خود با اسرائیل است. نیز از بحرین، عمان و سودان انتظار می رود که روابط دیپلماتیک خود را با اسرائیل آغاز کنند. دولت های بحرین و عمان از آغاز روابط میان امارات متحده و اسرائیل استقبال کرده اند.

دونالد ترامپ به تاریخ ۱۳ اگست ۲۰۲۰ با کمال خورسندی از توافق «تاریخی» میان امارات متحده و اسرائیل خبر داد. امارات متحده پس از مصر، و اردن سومین کشور عربی است که با اسرائیل توافقنامه صلح را امضا می کند. بهانه‌ی امارات متحده اینست که در بدل عادی‌سازی روابط دو جانبه، اسرائیل را وادار ساخته است که برنامه ادغام بخش های بزرگی از کرانه غربی را، به تعلیق درآورد.

اما عجب اینست که هرگاه دونالد ترامپ در اواخر جنوری سال جاری میلادی، طرح خود را در قبال معضل فلسطین-اسرائیل به عنوان «معامله قرن» اعلام کرد، که کاملا به نفع اسرائیل و زیان فلسطین بود، همین امارات متحده، بحرین و عمان بودند که پیش از همه از آن استقبال کردند و با اعزام سفرای خود به مراسم رونمایی آن طرح فاشیستی، که ابتکار جرد کوشنر داماد یهودی دونالد ترامپ بود، از معامله‌گری خود بر سرنوشت مسلمانان فلسطین پرده برداشتند.

متاسفانه، ماجرای غم‌انگیز فروپاشی وحدت و اخوت اسلامی، به معضل فلسطین-اسرائیل خلاصه نمی‌شود. شاید به‌خوبی به یاد داشته باشیم هرگاه مسلمانان روهنگیایی از میانمار آواره و مهاجر شدند و به کشور همسایه اسلامی بنگلادیش پناه بردند، برخورد دولت بنگلادیش با آن‌ها اهانت‌بار بود، و به گفته خانم شیخ حسینه، نخست وزیر آن کشور : حضور تعداد زیادی از پناه‌جویان روهینگیا به یک مشکل بزرگ برای بنگلادیش تبدیل شده است.

همچنان درین ایامی‌که مسلمانان هند به خصوص کشمیر در اوج محکومیت قرار دارند و مسجد تاریخی بابری به معبد هندوها تبدیل می‌شود، روابط کشورهای مسلمان عربی با هند خوب‌تر و گسترده‌تر می شود. عربستان سعودی بالاترین مدال کشور خود «مدال شاه عبدالعزیز» را به نارندرا مودی، نخست وزیر هندوگرای هند می‌دهد و همچنان امارات متحده با دادن «مدال افتخار» و بحرین با دادن عالی‌ترین نشان کشور خود می‌کوشند از عربستان سعودی پس نمانند.

پراوین سوانی، تحلیل‌گر مشهور هندی، روابط هند و عربستان سعودی را چنین خلاصه می‌کند : هند از خریداران مهم نفت است، عربستان سعودی سرمایه گذاری بزرگی در هند کرده و همچنان می‌خواهد روابط هند و ایران را ضعیف بسازد.

اگرچه در باره مسلمانان کشمیر، چندان امیدی از جهان امروزی اسلام برده نمی‌شد، اما معامله زهرناک بر سر فلسطین پیام واضحی با خود دارد، که کشمیر هرگز در اولویت‌های سازمان و دولت‌های اسلامی قرار ندارد. زیرا هرگاه فلسطین و فلسطینیان را می توان به معامله گرفت، پس کشمیر و کشمیری ها چه ارزشی دارند.

از همینست که امروز زبان سیکولاران و لیبرالان در کشورهای غیر عربی اسلامی درازتر شده است، که هرگاه عرب‌ها از فلسطین دست‌بردار شده اند و دست دوستی به اسرائیل داده اند، پس ما چرا از اسرائیل فاصله بگیریم، در حالی‌که نزاع ما با اسرائیل بر سر فلسطین و عرب‌ها بود. حالا سیکولاران پاکستان استدلال می‌کنند که چیزی به نام «وحدت امت» دیگر وجودی ندارد و چنانکه عرب‌ها پروای کشمیر را ندارند، ما هم باید به واقعیت‌های زمینی تن بدهیم و با بازنگری بر پالیسی خارجی خود، از حمایت فلسطین و فلسطینیان دست بگیریم.

بعضی کشورهای که هنوز دم از وحدت امت اسلامی می‌زنند، توانایی دگرگون سازی اوضاع را ندارند. زیرا اغلب جهان اسلام یا به بلاک امریکایی وابسته اند، یا به چینایی و یا هم روسی. سازمان همکاری اسلامی نیز نه تنها اینکه افادیت خود را ثابت نتوانسته است، بلکه ازان برای خاک انداختن بر آرمان‌های مسلمانان کار گرفته می‌شود. عجب‌تر اینکه کسی اجازه هم ندارد، در فکر پیدا کردن بدیل آن باشد.

یهودان فلسطین ته څنګه او له کومه راوړل شول؟

دتېلو ستن مخ په ښکته تله،دغه مهال دمصر له بره و، که تیل یې نه اچول نوالوتکه غورځېده!

پیلوټ په یوېټ هدف و، هغه سره په الوتکه کې شاوخوا یونیم سل یهودان سپاره ول، کوم چې یې له یمن څخه پورته کړي وو او اسراییل ته رسول،دغه مهال دمسلمانانو اویهودانوترمنځ اخ و ډب وسخت روان و، ځای پر ځای یې ترمنځو جنګونه کیدل،چې پکې یوشمیر کسان وژل شوي هم وو، په دې وجه دالوتکې ښکته کېدو وروسته که خلکو ته معلومه شوې وه چې پکې یهودان سپاره دي! نوهرڅه پېښیدلی شول،لیکن بیا هم پیلوټ دښکته کیدو پرېکړه وکړه.

ځایي چارواکو سره دتماس نیولووروسته یې هغوی ته وویل:یواځې تېل اچول غواړي! ځنګه چې الوتکه ښکته شوه دهوائي ډګر امنیتي پولیس دالوتکې دتلاشۍ لپاره ورغلل، پیلوټ هغوی ته وویل:الوتکه کې سپاره مسافرروغتون ته ورسوئ!

ولې؟ ځواب کې پیلوټ وویل:تول دچیچک په ناروغۍ اخته دي، او د درملنې لپاره یې بوځئ، په دې ورخوکې یاده ناروغي دیوې وبا په څېرخوره شوې وه ، خلک ورڅخه په ډارکې وو،په دې وجه مصري پولیسوله مسافروڅخه په لرې تم کېدوکې دځانونوعافیت وګڼه اوژرېې تېل ورکړل اوبیرته یې واستول څوجراثیم ونه شیندي.

داوه د[میجک کارپټ] په نوم عملیاتودېې شمېره هیښوونکو واقعاتوڅخه یوه واقعه اوپیلوټ دامریکا(رابرټ ایف ایګوایر) څوک چې ددې عملیاتوقومندان و

یهودانو د ژغورنې پلان:

۱۹۴۸زکې دیهودي رژیم رامنځته کېدو په وخت کې نړدې لس لکه یهودان په منځنې ختیځ، افریقا، اودعربي هیوادونوپه مختلفو سیموکې میشت وو،او دزیاتوستونزو ښکار وو، په ۱۹۴۷ زکې چې کله ملګرو ملتونوفلسیطن په [یهودي او عربي] برخو وویشه، نوپه نورو هیوادوکې میشت یهودان له امنیتې پلوه د ګواښونوسره مخ شول.

څومیاشتې وروسته وضعیت دومره زیات خراب شوچې کله په یمن کې دوه مسلمان ځوانان ووژل شول نو تورېې په یهودو پورې کړ، اوپه دې سره بیا تاوتریخوالی رامنځته شو، په یهودانوباندې حملې وشوې چې له امله یې دامریکا او اسراییل حکومتونوپه ګډه اسراییل ته دیهودانو انتقالولو پلان جوړکړاو ددې

لپاره مالي مرسته { امریکن جیوشن جوائنټ ډستري بیوشن} کمپنۍ لخوا ورکړل شوه

پلان ته دحتمي شکل ورکولو لپاره امریکايي او اسراییلي چارواکو دیمن پاچاسره رابطه وکړه ، هغه ورته په دې شرط دانتقال اجازه ورکړه چې وروڼکي الوتکې به دیمن په ځمکه نه ښکته کېږي، بلکې دعدن ښارسره ملحق [گیولا]په نوم ټرانزټ کیمپ نه به یهودان پورته کوي کوم چې دغه مهال دانگریزي حکومت تر واک لاندې واودیمن څخه تقریباً ۳سوه کیلومتره لرې دی

دهغه وروسته دیهودانو دانتقال لپاره پټ عملیات شروع شول، دکوم نوم چې اپریشن میجک کارپټ کیښودل شو، هدف یې یمن څخه دټولویهودانوپه حفاظت سره ویستل او سراییل ته رسول و.

څنگه چې دایوپټ اپریشن و، نوپه په اړه یې اعلان هم ونکړای شو، چې ټول یهودان دې یوځای ته راټول شي! څو له هغه ځای نه انتقال کړای شي، بلکې دیمن حکومت په خوښه یوشمیره خلکوته دنده وسپارل شوه، چې هغوی به یهودان پیداکوي او ورته به تیاراوسیدو حکم کوي څو اسراییل ته لاړشي

ددې ترڅنگ هغوی ته داتاکید کول هم وچې چاته و نه وایي، دالړې ترڅو میاشتوروانه وه اوتقریباً ټولو یهوادنوته داپیغام ورسید چې تیار اووسي

له هغه وروسته دمختلفو سیمونه دډلو په شکل کې دټرانزټ کیمپ په لور روانگې پیل شوه ، لوی شمیر یکې دماشومانو اومیرمنو وو،دا چې د سورلیو انتظام نه وشوی اوبل په پټه وتل نوپه وجه یې په رسیدوکې له سختو مشکلاتوسره مخ شول.

دستونزو اواوږده سفر وروسته قافلې ټرانزټ کیمپ ته ورسیدې،هلته دامریکا او اسراییل حکومتونو له وړاندې څخه داستوگنې، روغتیا اوخوړو لپاره انتظامات کړي وو، د شمیررضاکاران یې پر دندو گومارلي وو،داچې په یهودو کې اکثریت ډېرغریبان وو، نو بیت الخلاء او نورې اسانتیاوې ورته حیرانوونکې وې

۱۹۴۹ز دجون پیل کې چې کله لومړۍ الوتکه هلته ښکته شوه نوغریبویهودانو چې وکتله نو ترې و ډارشول اوپکې له سوریدوڅخه یې انکار وکړ، رضاکارانوهغوی پوی کړل اوپه سوریدوېي قانع کړل نوپه لومړي پروازکې نږدې سل یهودان یې پورته کړل او تل ابیب ته یې ورسول، هلته دهغوی دښکته کولو وروسته الوتکه بیرته عدن ته راغله ، دالړۍ تر ۱۹۵۰زپورې روانه وه څو دیمن څخه یې ټول یهودان اسراییل ته ورسول

بیشکه دایوډېرپټ اوخطرناک اپریشن و، خوپه دومره مهارت سره یې ترسره کرچې په ترڅ کې یې یوانسان هم ضایع نشو

ددې لپاره د[دالاسکا ایرلائنز]۲۸ الوتکو مسلسل پروازونه کول او۵۰زره کسان یې ولیږدول ،الوتکو نږدې ۳سوه ساعته الوت وکړ، حال داچې امریکاکې ورته حد۹۰ ساعته مقررو، خو دغه مهال دټولو یهودانو ویستل لومړی هدف اوترجیح وه

د[ډگلس ډی سي فور، کرټس سي ٤٦] په نوم الوتکې دومره ظرفیت نه لاره چې دومره لوی اپریشن وکړي،نو دالوتکوپه ډیزاین کې یې تغیر وکړ اواضافي تېلو داچولو لپاره یې نوې ټینکۍ جوړې کړې اودناستې څوکۍ یې هم تنگې کړې او اضافي څوکۍ پکې ولگولې دهغه وروسته زیات نه زیات ۵۰ کسان وړونکو الوتکو له ۱۲۰ نه زیات مسافر وړلی شول او داضافي وزن پورته کولو باوجود هم تېلو ترزیاتو ساعتونوپورې کار کاوه، ددې اپریشن دتکمیل څخه څو میاشتې وروسته ټریوال خبرشول

اسرایيل ته درسیدو وروسته څه وشول ؟

اسرایيل ته درسیدو وروسته بیاهم ستونزو پرېنښودل، ځکه چې اسرایيل لړه زمانه شوې وه چې ازاد شوی و، اقتصادي کمزوری و، په لوی شمیرکې دنورو وګړو په ورتګ سره یې وضعیت نورهم خراب شو،لومړی یې ورتلونکي وګړي دلویوښارونوپه اطرافوکې جوړو شویو کمپونوکې ځای پر ځای کول چې څو میاشتوپورې هلته میشت وو.

ور ته خواړه اونوراړین توکي ورکول کیدل، دحکومت مسؤلیت دا و،کله چې حالت یوڅه ښه شو ،بیا یې هغوی کرهنیزوسیموته انتقال کړل، هلته هغوی کرهڼه شروع کړه او ورسره یې خپل اقتصادي وضعیت ښه کړ او دهغوی نه بیا یوشمیر دلویو ښارونو په لورمنتقل شول

هلته دیهودانو دنورو نسلونولخوا هغوی ته هرکلی وویل شو او دژوندپه ټولو برخوکې یې دهغوی لاسنیوی وکړ ورسره یې په لیک لوست او ترقۍ کې مرستې وکړې، ورته درایوکارولو حق ورکړای شو اودېر ژر په اسرایيلي ټولنه کې ضم شول یوبل سره دخپلوۍ او دوستۍ په مزو هم وتړل شول

نور عملیات :

ددې عملیاتو دبري وروسته اسرایيلي حکومت دنړۍ له نورو برخونه یهودانو د انتقال لپاره پلانونه جوړکړل اوځونور عملیات یې هم ترسره کړل، لکه عراق څخه یې یولک شل زره یهودان دالوتکو له لارې اسرایيل ته انتقال کړل هم دا راز په ۱۹۸۴ ځکې یې سوډان مهاجر کیمپ نه ۸زره ایتوپیایي یهودان اسرایيل ته انتقال کړل

په ۱۹۹۱ ځکې اسرایيلي الوتکو یواځې په ۳٦ ساعتونوکې دننه ۱۵زره ایتوپیایي یهود اسرایيل ته انتقال کړل نوپه دې توګه دڅوکلونوپه موده کې نږدې لس لکه یهود اسرایيل ته ورسیدل ، څو کاله وړاندې داسې خبرونه راتلل چې په پټه توګه دیهودو دانتقال لړۍ روانه ده اوپه دې لړکې داسرایيل یوه اداره مجاناً لګیاده دنړۍ له مختلفو هیوادونوڅخه اسرایيل ته دیهودو دانتقال چارې تنظیموي.

پای

دردونکی تړون او مظلوم فلسطینیان

حسن مومند

لارنس آف عربیه په ډېر چل او هنر په عربو حاکمانو کې د قوم پرستۍ زهر خپاره کړل؛ عربان دترکانو پرضد راپاڅېدل؛ مسلمانان دانتشار ښکار شول قوت یې ولاړ؛ ددښمن دمقابلې توان یې له لاسه ورکړ؛ دښمن پرې غالب شو عثماني خلافت رنګ شو؛ دمسلمانانو سیمې قبضه کړای شوې او مسلمانانو رومبی قبله له لاسه ورکړه؛ دنړۍ دهر ګوټ نه دفلسطین پاکې خاورې ته یهودیان راوستل شول؛ دمسلمانانو په منځ کې قابض اسرائیلي دولت رامنځته کړای شو او دفلسطین ښېرنه نیول او دخپلې قبلې ازادول دټولې نړۍ اوخصوصاً دعربانو لپاره دتل لپاره یوه ستره ننګونه شوه.

دعربي نړۍ اوسني زوال ته چې وګورو مجبور یو چې ووایو : هاغه هم ښه وخت و چې عربو حاکمانو د فلسطین د ازادۍ لپاره ناري پورته کولې؛ اتحادونه یې جوړول؛ د اسرائیلو پر ضد جنګونو ته تیاربدل او ټولو عربانو اسرائیل خپل تر ټولو ستر دښمن ګڼلو.

متأسفانه چې اوس دلته د حاکمانو حالت ډېر بدل شویدی اوس د عربو هېوادونو کابو هر مشر سره دخپل واک ددوام فکر دی؛ قومي او دیني حمیت له منځه تللی؛ دفلسطین دآزادۍ خبره یواځې کمزورو مظلومو فلسطینیانو ته پرېښودل شویده ؛له یو دوه هېوادونو پرته نېږدې ټولو د اسرائیلو په باره کې دریغ نرم کړی؛ او داسې عرب هېوادونه هم شته چې به یې اسرائیل خپل سرسخته دښمن ګڼلو؛ د فلسطیني مبارزینو نه به یې حمایت کاوه ، ورسره به یې مرستې کولې خو اوس یې حاکمانو اسرائیلو ته د دوستۍ لاسونه ور اوږده کړیدي او فلسطیني مظلوم مسلمانان چې دخپلې خاورې او رومبۍ قبلې لپاره سرونه قربانوي تروریستان یې ګڼي.

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دروانې اګست میاشتې په ۱۳مې نېټې داسرائیلو لومړي وزیر بن یامین نتن یاهو داسرائیلو ددولتي تلویزیون له لارې اعلان وکړ چې د عربو دمتحده اماراتو سره یې دامنیت تړون لاسلیک کړ.

نتن یاهوزیاته کړه چې داسرائیلو او دعربو دمتحده اماراتو د پلاوو ترمنځ به د سیاحت، پانګونې، دمخامخ پروازونو، امنیت، مخابراتو، ټیکنالوجۍ، انرژۍ، صحت، کلتور، چاپېریال، دسفارتونو دقیام او دخپلمنځي نورو ګڼورو چارو په هکله تړونونه رامنځته شي ؛ دمنځني ختیځ ددوه تر ټولو متحرکو ټولنو او نویو اقتصادونو ترمنځ دمخامخ روابطو قائمېدو له لارې به لوی اقتصادي پرمختګ رامنځته شي په نوې ټیکنالوژۍ کې به نوي ایجادات وشي او د ولسونو ترمنځ به د نویو روابطو د رامنځته کېدو له لارې سیمه بدله شي.

داماراتو له لورې داسرائیلو په رسمیت پېژندلو دا تړون چې دامریکا په منځګړیتوب رامنځته او اعلان یې هم دامریکا نه وشو دامریکا ولسمشر ټرمپ، د اسرائیلو لومړي وزیر بن یامین نتن یاهو او دابو ظهبي ولي عهد شهزاده محمد بن زاید نه شریکه مبارکي ورکړه او ویې ویل چې دا تاریخي پرمختګ به په منځني ختیځ کې د امنیت راوستلو په لار کې مرسته وکړي.

دیادولو وړ ده چې په تېرو وختونو کې دعربو رسنیو له لارې داسې راپوروننه هم خپاره شویدي چې پکې د ورکړل شویو معلوماتو له مخې لا ډېر وړاندې یانې د ۲۰۱۴م کال راهیسې دعربو په متحده اماراتو اوخصوصاً په دوبۍ او ابو ظهبۍ کې داسرائیلي یهودي سوداګرو سوداګریزې هلې ځلې روانې دي؛ خصوصاً دقیمتي ډېرو په کارو بار کې دوئ ډېر پرمخ تللي دي؛ دقیمتي ډېرو لېږ تر لږه ۱۱ ستر مرکزونه داسې دي چې ۴ ستر اسرائیلي یهودان یې مالکان دي.

په ۲۰۱۵م کې هم په رسنیو کې یو داسې لنډ ویډیو کلپ خپور شوی و چې پکې داماراتو پر یوې ودانۍ داسرائیلو بیرغ رپاند و چې پرضد یې په اسلامي نړۍ کې سخت غبرګون رامخې ته شو، خو بیا دا په رسنیو کې خپور شوی یو بې بنسټه خبر وګڼل شو او په پوره مهارت داخبره ورکه شوه خو له هغې بعد هم په عربو رسنیو او په ځانګړې ډول الجزیره کې ددواړو هېوادونو ترمنځ د پټو روابطو په اړه وخت ناوخت معلومات خپریدل چې اوسنی اقدام دخپرو شویو دې معلوماتو د کره توب ښه ثبوت دی.

په زړه پورې خو لا داده چې امریکا او نور لویدیځ ته دځان نېږدې کولو او د خپل واک ساتلو په موخه د شکست نه ډک دې رامنځته شوي تړون په هکله داماراتو دولت په مظلومو فلسطینیانو زیاتې کوي او دلیل دا وړاندې کوي چې پدې سره به هم په فلسطین او ټول منځني ختیځ کې امنیت تامین شي او هم به داسرائیلو له لورې دلویدیځ اردن دنوروسیمو دقبضې لړۍ تم شي.

د عربو دمتحده اماراتو دباندنیو چارو وزیر انور قرقاش خو لا دا وویل چې داسرائیلو په رسمیت پیژندل ډېر دجرأت نه ډک اقدام و ترڅو د اسرائیلو له لورې د لویدیځ اردن دسیمو دانضمام لړۍ ودرول شي؛ هغه وویل چې دعربو متحده ایالات دا د انضمام تعطل نه بلکې ودرول بولي.

خو د اماراتو له بده مرغه چې ډېر ژر وروسته د اسرائیلو لومړي وزیر نتن یاهو خپل دولتي تلویزون کې دویتا پر مهال د اماراتو خبرې رد کړې او ویې ویل چې په غرب اردن کې به دیهودانو لپاره دنویو کورونو دجوړولو لړۍ روانه وي.

دلته دا خبره ډېره خطرناکه ده چې پدې تړون کې داهم راغلي دي چې اسرائیل به دپاتې عربو او نورو اسلامي هېوادونو سره هم د ښو روابطو جوړولو هڅې کوي او امریکا او دعربو متحده امارات به ددې هدف لپاره شریکې هڅې کوي.

نو ځکه د منځني ختیځ دچارو شنونکې وایي چې دعربو دمتحده اماراتو او اسرائیلو ترمنځ رامنځته شوی دا تړون په اصل کې دسعودي عربستان او اسرائیلو ترمنځ د دیپلوماتیکو اړیکو دجوړولو لپاره له پخوا جوړ شوی پلان دی او ابتدائي قدم دی ؛ دا تړون یو دم ندی رامنځته شوی بلکې له ډېرې مودې راهیسې پدې کار روان و؛ شنونکې وایي لا محمدبن سلمان د سعودي ولي عهد شوی نه و چې دټرمپ یهودي زوم کوشنر ورسره پدې اړه په رابطه کې و او ددې تړون په رامنځته کېدو کې تر ټولو لوی لاس هم دهمغه دی.

اوس خو دامریکا له لورې په رسمي ډول دا دعوی هم شویده چې داسرائیلو او اماراتو تر منځ رامنځته شوی تړون دسعودي عربستان په خوښه رامنځته شوی دی.

هغه اسرائیل چې دفلسطیني مسلمانانو ځمکې یې قبضه کړیدي اوپه زور یې پکې خپل دولت اعلان کړیدی؛ دمسلمانانو قبله یې نیولې؛ دمېرمنو او کوچنیانو په شمول یې په زرونو مظلوم مسلمانان زندانونو کې اچولي دي؛ له یوې لسیزې زیاته موده وشوه چې دغزې مسلمانان یې تر محاصرې لاندې ساتلي دي؛ په مسلسل ډول پر مظلومو فلسطیني مسلمانانو درانده بمونه غورځوي او په خپلو کورونو کې یې وژني؛ نن عرب حاکمان دخپلو ورونو همدې قاتل دولت سره دخپل قدرت دساتنې او شخصي مادي ګټو په موخه دښو اړیکو دجوړولو په لټه کې دي؛ دمسلمان ملت اجتماعیت او اتفاقي پرېکړو ته تاوان رسوي ؛ امت دوه

توڼې کوي او هغه څه کوي چې تر ننه ترې عجم حاکمان ځان ساتي.

دوئ چې اسرائيل بې په رسميت نه وو پيژندلي بنه ژوند يې تيرېدلو اوس کومه داسې اړتيا رامنځې ته شوه چې له امله يې د اسرائيلو په رسميت پيژندل اړين شول ؟

که داسرائيلو نه دوئ دخير او په خپلو وعدو د وفا تمه لري نو دا به حماقت نه وي؟

د روسې، امريکا، چين، برتانيې، فرانسې، المان، کاناډا او هالنډ په څېر دسترو هېوادونو په شمول دنړۍ ۱۶۲ هېوادونو اسرائيل په رسميت پيژني.

خو سعودي عربستان، افغانستان، پاکستان، بنګله ديش، ايران، الجيريا، بحرين، کيمرون، جبوتي، عراق، کويت، لبنان، ليبيا، موريطانيا، مراکش، عمان، قطر، صوماليا، سوډان، شام، تيونس، يمن، بروناى، ماليزيا، اندونيزيا، مالي نايجر اودرې نااسلامي هېوادونويانې بوتان، کيوبا اوشمالي کوريا د اسرائيلو له منلو انکار کړيدى.

يادو هېوادونو چې داسرائيلو له منلو انکار کړيدي نوکوم مادي ستر تاوان ور رسېدلى ؟ اوکه په رسميت يې پيژندلي واى نو کومه ګټه به يې کړې واى؟

دفلسطين ولسمشر محمود عباس دا تړون خيانت ګڼلى او پرې يې سخت خفګان ښکاره کړى. دفلسطيني اداري دباندنيو چارو وزير له ابو ظهبي نه خپل سفير راغوښتى او ويلي يې دي چې دا تړون دفلسطين دمسئلې سره سخته غداري او دفلسطين په خېټه دخنجر ښخول دي.

حماس هم دا تړون په سختو ټکو غندلى او ويلي يې دي چې داسې تړونونه به دآزاد فلسطين درامنځته کېدو اميدونه ختم نکړي او نه به د فلسطين دمسلمانانو ازادي جدوجهد باندې کومه منفي اغېزه وکړي .

داسې اوازې هم روانې دي چې ددې تړون نه وروسته اماراتو دفلسطين نه دخپل سفير دراغوښتلو پرېکړه کړيده.

د يمن دباندنيو چارو وزارت هم ويلي دي چې دفلسطين دقضيې په هکله ديمن دريځ کې هيڅ بدلون ندى راغلى او نه به پکې راشي چې مور تل په عرب ليګ او اسلامي کانفرانس کې خپل دريځ په روښانه ټکو ښکاره کړيدى.

دايران ولسمشر حسن روحاني هم دا پرېکړه غندلې ده؛ ويلي يې دي چې په منځني ختيځ کې داسرائيلو دپښو کلکول به ډېر بد نتايج ولري؛داتړون خاص په داسې وخت کې ولې رامنځته شو چې په امريکا کې انتخابات راروان دي؟ که دا تړون سم و نو ولې يې اعلان په دريم هېواد کې وشو؟ هغه هم په امريکا کې ترڅو په راتلونکو انتخاباتو کې دواشنګټن هغه واکمن ته دبرياليتوب لارې برابرې شي کوم چې د دې تړون لپاره فشارونه وارد کړيدي.

دترکې ولسمشر طيب اردګان هم دا تړون غندلى حال دا چې دکمال اتاترک دوخت ترکيه داسلامي نړۍ رومبنى هغه هېواد دى چې اسرائيل يې په رسميت پيژندلي دي؛ واک ته داسلام خوښې طيب اردګان له رسېدو بعد هم د دواړو هېوادونو تر منځ ديپلوماتيکې اړيکې پرې نه شوې او تر ننه هم دا روابط قايم دي؛ هر کال ۲ سوه زره اسرائيليان ترکې ته سياحت لپاره راځي ؛ ددواړو هېوادونو ترمنځ د تجارت حجم ۲ مليارده ډالرو ته رسيږي او د دواړو هېوادونو فوځونه په خپل منځ کې مشترک تمرينات هم کوي.

په ۲۰۰۵م کال کې طيب اردګان اسرائيلو ته سفر وکړ او بيا په ۲۰۰۷م کال کې داسرائيلو دهغه مهال لومړي وزيرشمعون پيريزهم ترکې ته سفر وکړ؛ دترکې لخ لوړې غزې ته د خوراکي موادو او دوا وړونکې سمندري قافلې (فلوټيلا) باندې د اسرائيلو له لورې دحملې نه پس ددواړو هېوادونو ترمنځ ديپلوماتيکې اړيکې خرابې شوې خو داسرائيلو دمسلسلو هڅو په نتيجه کې دا اړيکې بېرته سمې شوې؛ په ۲۰۱۷م کال کې دامريکا له لورې د اسرائيلو لپاره دپلازمېنې په صفت دبيت المقدس د منلو له امله ترکې داسرائيلو سره د ديپلوماتيکو اړيکو دپرې کولو ګواښ کړى و خو بيا يې هغسې ونکړل او تر ننه يې لا وورسره اړيکې ټينګې دي.

مصر دوهم هغه اسلامي هېواد دی چې اسرائيل يې په رسميت پېژندلي دي او ورسره ډيپلوماتيکي اړيکې لري؛ د اسرائيلو سره په دوه جنګونو کې دماتې نه پس د امريکا په منځګړيتوب مصر د کيمپ ډيويډ کرغېړن تړون ته اړ او اسرائيل يې په رسميت وپېژندل.

په عربو هېوادونو کې اردن او عمان اسرائيل په رسميت ندي پېژندلي او ډيپلوماتيکي اړيکې يې ورسره نشته خو ياد دواړه هېوادونه د اسرائيلو سره پراخې سوداګريزې اړيکې لري.

ايران هم اسرائيل په رسميت پېژندلي و خو د ايران د انقلاب دبرياليتوب نه پس خميني د اسرائيلو سره ډيپلوماتيکي اړيکي پرې کړې چې تر ننه هم همداسې پرې دي.

په ګاونډ کې لبنان او شام دوه داسې هېوادونه دي چې د اسرائيلو سره يې اړيکې خرابې دي خو د داخلي جنګونو او نورو ګڼو مشکلاتو له امله دا دواړه هېوادونه اوس اسرائيل دځان لپاره کوچنی خطر هم نه ګڼي؛ اسرائيل چې کله نا کله پر شام بريدونه کوي نو دا يواځې د دې لپاره چې د سيمې پر هېوادونو خپله وېره خپره کړي او تل يې تر خپل رعب لاندې وساتي.

اوس مهال په عربو هېوادونو کې يواځې قطر هغه هېواد دی چې داسرائيلو سره يې اړيکې زياتې خرابې دي.

سعودي عربستان يا امارات يو هم د عربو او اسرائيلو ترمنځ په رامنځته شويو دوه جنګونو کې ګډون نه درلود خو په تېرو وختونو کې يادو دواړو هېوادونو اسرائيلو ته د دښمن په سترګه کتل خو له بده مرغه چې دايران او سعودي عربستان خپلمنځي اړيکي دومره خرابې شوې چې هر يو بل دښمن وګڼلو؛ ايران خپل نظامي ځواک او په سيمې کې خپل نفوذ زياتولو ته ډېره توجو وکړه؛ دلبنان اوشام ترڅنګ يې عراق اويمن ته خپل لاسونه ور اوږده کړل اوپه يادو څلور واړو هېوادونو کې يې خپل نظامي حضور بنه پياوړی کړ چې له امله يې سعودي عربستان او نېږدې اتحاديانو يې ايران دځان لپاره د اسرائيلو نه ستر خطر وګڼلو ؛امريکا او نورو غربي شيطاني قوتونو دهمدې حالت نه ګټه پورته کړه او اسرائيلو ته يې دسعودي اونورو عربو هېوادونو دنېږدې کولو هڅې وکړې چې په نتيجه کې يې دزياترو عربي هېوادونو او اسرائيلو پټې اړيکې جوړې شوې او دا دی دبعضو له لورې داسرائيلو په رسميت پېژندلو تر سرحده خبره را ورسېده.

نو د چارود شنونکو دا خبره پر ځای ده چې په سيمه کې د ايران دنفوذ زياتوالی، او په نورو هېوادونو کې لاسوهنې او پياوړی نظامي حضور او ترڅنګ يې دايران د عسکري ځواک په اړه مبالغې دهمدې لپاره وې چې ايران د عربي نړۍ لپاره د وېرې او خوف لويه علامه وګرځول شي او عربي نړۍ پرې بنه زياته وه وېرول شي ترڅو بڼای عربي هېوادونه دخپلې دفاع په نوم د امريکا او نور لويديځ نه بنې ډېرې وسلې واخلي؛ په اسلامي نړۍ کې خپلمنځي دښمنی او اوږدو داخلي جنګونو ته لار برابره شي ؛ عربان امريکا او نورغرب خپل نجات ورکونکي وګڼي او عربان دايران په دښمنۍ کې اسرائيلو ته نېږدېکت دځان لپاره ګټور وبولي.

له دې هم انکار نه شي کېدای چې امريکا ته اوس هم دسعودي عربستان اوځني نورو عربو هېوادونو نه په ډېر کم نرخ تېل روان دي خو امريکا دعربو هېوادونو تېلو ته دپخوا په څېر نده محتاج؛ د۲۰۱۸م کال پورې سعودي عربستان دنړۍ تر ټولو ستر توليدونکي او صادرونکي هېواد و؛ دتېلو دصادرونکو هېوادونو تنظيم اوپيک باندې دسعودي عربستان غلبه وه خو په ۲۰۱۸م کال کې امريکا دنړۍ تر ټولو ستر دتېلو توليدونکي هېواد وګرځېد.

په روان کال کې چې په نړۍ کې دکرونا دخپرېدا سره سم دتېلو په طلب کې کموالی راغلو؛ دتېلو نرخونه راوغورځېدل او سعودي عربستان د تېلو په توليد کې د کمولو پرېکړه وکړه او له نورو توليدونکو هېوادونو نه يې هم د ورته اقدام غوښتنه وکړه نو روسې يې غوښتنه ونه منله چې له امله يې د سعودي په پرتله ددروسې د تېلو توليد زيات شو او سعودي د اولې نه دريمې درجې ته راکوز شو.

په امریکا کې اوس دتېلو ډېرې زیاتې زېرمې کشف شویدي دنویو ترسره شویو سروېګانو له مخې د امریکا په زېرمو کې ۲۶۴ بیلیونه بیلره تېل شتون لري؛ روسیه په خپلو زېرمو کې ۲۵۶ ملیارده بیلره تېل لري ؛ دسعودي زېرمو کې اوس ایله ۲۱۲ ملیارده بیلره تېل پاتې دي؛ د کاناډا په زېرمو کې ۱۶۷؛ د ایران په زېرمو کې ۱۴۳ او د برازیل په زېرمو کې ۱۲۰ بیلیونه بیلره تیل شتون لري.

خو لنډه دا چې اوس امریکا دسعودي تېلو ته اړتیا نه لري بلکې دیو شمېر نورو عربي هېوادونو په څېر اوس سعودي عربستان هم امریکا خپل ځان ته په اقتصادي ډګر کې محتاج ګرځولی دی.

امریکا او نورو غربي شیطاني قوتونو دعربي نړۍ دخپلمنځي اختلافاتو او داخلي جنګونو له لارې عربي نړۍ دومره کمزورې کړه چې عربان اوس په دفاع او اقتصاد دواړو کې امریکا ته محتاج دي توځکه اوس عرب هېوا دونه دامریکا کوچنې فشار ته هم دتینګېدو ندي.

بل لور ته چې دایران او ترکې وېره وي او بل لور ته دامریکا فشار وي او پر اسلامي نړۍ دمسلطو حاکمانو دا حال وي نو خامخا به همداسې پرېکړې رامنځته کېږي

بې له شکه چې دا ترون یوه داسې ستره شیطاني هڅه ده چې دنړۍ ټول با وژدانه مسلمانان یې درد ولې دي خو داسې نه ښکاري چې ژر به په دواړو هېوادونو کې دیو بل سفارتونه جوړ او په بشپړ ډول به دیپلوماتیکې اړیکې پیل شي. پدې ترون کې یادې شوې مادې هم ژرعملي کېدونکې نه ښکاري؛ که اسرائیل په شویو وعدو وفا ونکړي نوځوک په نړۍ کې داسې نشته چې یې مجبور کړي.

هرچاته معلومه ده چې یهودیان ډېر غدار، خاین اومکار خلک دي؛ دخپلو پیغمبرانو او الله تعالی سره کړې وعدې به یې ماتولې نو دعامو انسانانو سره دکړو وعدو به څه پروا وساتي ؛بیا چې لا یولور ته داماراتو په څېر کمزوری هېواد وي اوبل لورته داسرائیلو اتومي ځواک وي او ترشايې لا امریکا او نور لویدیځ هم ولاړ وي؛ په نړۍ کې به ځوک داسې وي چې پدې ترون کې دشویو وعدونه د مخالفت پرمهال داسرائیلونه د مخالفت وجه وپوښتي؟

د امریکا، اسرائیلو اواماراتو له لوري په مشترکه خپره شوې اعلامې کې هم راغلي دي چې اسرائیل د غرب اردن د نورو سیمو دضم کولو پلان معطل کړي خو دا چې په نړۍ کې داسرائیلو نه ځوک دپوښتنې نشته نو لا به ددې ترون نه تولـه نړۍ خبره هم نـه وه چې داسرائیلو لومړي وزیر نتن یاهو خپلوهېوادوالو او د ټولې نړۍ یهودانو ته اطمینان ورکړ او په ډېرې بې شرمۍ یې وویل چې داسرائیلو دجغرافیایي حدودو د پراختیا عمل به روان وي؛ دغرب اردن دپاتې سیمو دضم کولو پلان به جاري وي؛ دا ترون به پدې پلان هیڅ منفي اغېزه ونکړي.

محترمو لوستوالو به له مطبوعاتو اورېدلي وي چې د دې ترون نه پس د دواړو هېوادونو دمشرانو ترمنځ ټاکل شوې لومړنۍ لیدنه اماراتو لغوه کړه ځکه چې د امریکا له لوري اماراتو ته د ایف ۳۵ ډوله طیارو د ورکولو سره اسرائیلو مخالفت ښکاره کړی.

امریکایي ایف ۳۵ ډوله جنګي طیارې خورا پرمختللې جنګي طیارې دي چې امریکا یواځې جاپان ، جنوبي کوریا او اسرائیلو ته ورکړیدي؛ امارات د امریکا نه دا طیارې اخستل غواړي او پدې اړه یې دامریکا سره خبره روانه ده خو اسرائیلو ورسره خپل مخالفت ښکاره کړی او له امریکا یې غوښتي چې پر اماراتو دې دا طیارې نه پلوري ځکه چې پدې سره به منځني ختیځ کې دطاقت توازن له منځه ځي.

بس د اسرائیلو همدا خبره داماراتو دنا رضایت سبب شو او د روانې اګست میاشتې ۲۸مه نېټه چې د دواړو هېوادونو دمشرانو ترمنځ دلیدنې لپاره ټاکل شوې وه اماراتو له خپل لوري د اعتراض په توګه دا لیدنه په داسې وخت کې لغوه اعلان کړه چې دامریکا دباندنیو چارو وزیر پومپیو اسرائیلو ته له سفر نه، نه و راستون شوی.

ورروستي مرموزي وژنې ولې

او د چا لخوا؟

عبدالولي خليل

د طالبانواوامريکا ترمنځ د اشغال د خاتمې تړون د افغانستان روانې غميزې دپای ته رسولو لپاره مهم چانس بلل کيږي، د نړۍ دګڼو هيوادونوله لوري هم وستايل سو او په افغانستان کې د امن او سوکالۍ لپاره په يوه مثبت ګام ياد سو،افغان اولس يې هم توند هرکلی وکړ اوورته يې خپله خوشبيني څرګنده کړه.

خو يوازې کابل اداره ده چې هغه ورته زړه نه ښه کوي او نه يې له ابتدا څخه د مذاکراتو پروسې ته کومه خوشبيني ښوودلې.

ارګ دسولې د سبوتاژ کولو لپاره بېلابېلې حربې په کار اچولې اودغه بهير يې له خنډونو سره مخامخ کړی، کومې دسيسې چې دوی پلان کړي اوسوله پرې سبوتاژ کوي،دهغوی له جملې يو هم مرموزي وژنې دي چې د کابل ادارې دملي امنيت له لوري تر سره کيږي او هغه کدرونه په نښه کوي چې په ټولنه کې کامل رسوخ لري او ترشاه يې په پوره پيمانه خلک ولاړ دي،هغه شخصيتونه چې د سولې لپاره هلې ځلې کوي اود راتلونکي ودان افغانستان هيلې پر مخ وړي لکه د جوماتونو امامان، مدني فعالان،سياسي څېړي اوآزاد ليکوالان .

مرموزي وژنې له نږدې يوه کال راپدېخوا دهيواد په ګڼو ولايتونو اوپه ځانګړې توګه په کابل ښار کې ډيرې ترسره سوي دي او ټول قربانيان يې د سولې فعالين دي، چې د بيلګې په توګه د وزير اکبر خان جومات امام ډاکټر آياز نيازی،د شير شاه سوري جومات امام مولوي عزيز الله مفلح، وحيد مژده او ... کدرونه يادولای سو همدا ډول په لسګونه سياسي څېړي له دا ډول بريدونو بچ سوي او يا ژوبل سوي دي.

له شک پرته د دې وژنو تر شا د ملي امنيت لاس دی چې پړه يې دنورويه غاړه ور اچوي، خو افغان مت پوهيږي چې د دادول پيښو عاملين هم دوی دي. دوې مياشتې مخکې طالبانو په لوګر ولايت کې د داعش دوه فعال غړي نيولي وو چې هغوی په خپلو اعترافاتو کې وويل چې د هربريد نقشه د ملي امنيت له لوري راکول کېدله، اکمال مو هم دوی کاوه او تر هدفه يې هم رسولو چې ځينو کې کامياب سو لکه د وحيد مژده قتل، د وزير اکبرخان جومات چاودنه او داسې نور....

له هغو دوو غړو د نيول کېدلو وروسته مرموزي وژنې د مخکې په پرتله څه موده کنټرول وې خو متأسفانه يو ځل بيا دغه لړۍ روانه سوه چې پيل يې د پوهنې وزارت دعلمي شورا رئيس او د قاصد په نوم د ستراتيژيکو مطالعاتو دمرکزمشر ډاکټر عبدالباقي امين څخه وسو، هغه يې د يوه چسپکي ماين په وسيله په يوه چاودنه کې وواژه، ډاکټر امين يوعلمي شخصيت او د سولې لپاره فعال کس و، سولې ته يې هڅې کولې او په افغانستان کې يې د أمن او ثبات راوستلو لپاره کار کوه خود کابل ادارې له لوري په مرموز ډول ووژل سو.

هېره دې نه وي چې دغه لړۍ به نور هم دوام وکړي، په کابل کې د هندوکش ويب پاڼې درې ورځې وړاندې يو جعلي مکتوب نشر کړی چې ګنې دوی ته يوې قوي سرچينې ليږلی دی، مکتوب کې يې ليکلي چې د افغانستان اسلامی امارت د مشرتابه او فرهنګي کمېسيون له لوري د استخباراتو کمېسيون ته هدايت کيږي چې په کابل کې لاندې کسان په نښه کړي او له منځه يې يوسې، په لست کې يې ډېر مدني فعالان، سياسي څېړي او سوله غوښتونکي مشران ليکلي. خو ددوی وژلو ته يې د پوزې جوړولو په خاطر د ځينو هغه کسانو نومونه هم ليکلي چې د ملي امنيت مشران تېر سوي دي او اوس هم د کابل ادارې پر سترو پوستونو ولاړ دي، مهمې دندې ترسره کوي، له دغه لړليکه جوتيږي چې دوی د نوروسياسي څېرو د وژلو پلان هم لري، خو دا چې پړه يې بيا د طالبانو غاړې ته واړوي خپل مشران يې هم ليکلي چې دا هم ټارګيټ دي.

لنډه دا چې د کابل ادارې لخوا په مرموزو وژنو اومدارسو،مساجدو،مکاتبو،ولسي تجمعاتو او سيميزو ميلو باندې د بريدونو موخه دا ده چې سوله چيلنج او له خنډ سره مخ کړي، پر طالب دغه بريدونه واړوي تر څو يې اولس کې باور کم سي، د خپل واک دوره اوږده کړي او داسې نور.....

خو يوه ورځ به ملت ته رسوا کيږي اوله شکست سره به مخ کيږي. ان شاءالله.

د کابل وحشي عسکر... که د امريکايانو تبرونه؟

هر كله چې اشغالګرو پرېو هېواد حمله کړې، نو هلته يې د وحشتونو او ظلمونو داستانونه او تاريخونه جوړ کړي دي.

او د اشغال شوي ملک کوم خائنان چې د اشغال تر څنګ دربدلي دي، هغو د خپل وطن پر خلګو تر اشغالګرو هم زيات ظلمونه او وحشتونه کړي دي.

د افغانستان د اشغال څخه بيا تراوسه کچيري مونږ د اشغالګرواود کابل دغلامانو ظلمونه او وحشتونه سره موازنه کړو، نو دابه راته معلومه شي، چې د کابل عسکرو تر اشغالګرو زيات ظلمونه کړي دي.

د بيلګي په ډول: امريکايان چې کله هم يو ځاى چاپه وهي، همدغه د کابل وحشيان ورسره وي، او چې کوم کورته ننوزي،مخکي همدغه وحشي ننوزي،او چې کوم مجاهد ته زولني اچوي، همدغه غلام عسکر يې ور اچوي،بس د دوی وظيفه همدغه ده چې امريکايان ددوی څخه د تبر او مارتول کار أخلي، دوی بس د امريکايانو تر حکم لاندي بلواکي وحشي ځناوران دي.

د اشغال په اوله لسيزه کي د اشغالګرو، اوګوډاګيانو ظلمونو،وحشتونو،چاپو د هـر افغـان د کـور دروازه وټکولـــه، اود ډيرومسجدونو،اومدرســــوطالباني ا شهيدان،اويا هم زندانونو ته واچول شول.

يو مجاهد طالب العلم د معراج الدين زابلي په نامه کيسه راته کوله:

چې هره اوونۍ به پرمونږ چاپه وهل کيده،چې کله به د داوونۍ په جريان کي چاپه رانغله، مونږ به ورته انتظار وو،هغه ويل:

چې کله به صرف امريکايانو چاپه وهله،مونږ دومره پرواه نه کوله،ځکه د دوی په خبرو او ښکنځلو مونږ نه پوهيدو، اود چاپې سره مونږ عادت و. اوچې کله به د کابل غلامانو،او وحشي خادیانو چاپه وهله نو هررنګه فحش ښکنځل، وهل، بې عزتي کول به پکښي وو، يعني د خپل وطن عسکرو بـه تـر امريکايانو زيات ظلم او وحشت راباندې کاوه.

کوم ظلم چې د کابل وحشي عسکرو څو ورځي وړاندي د زابل په أرغنداب ولسوالۍ کي د شهيدانو د جسدونو سره وکړ، هغه دنه بخښلو دی، چې د شهيدانو اندامونه يې په تبر ټوټه ټوټه کړل . اويا کوم ظلم چې د خلورو مجاهدو اسيرانو سره وشو،او ټوټه ټوټه شول دا هم د کابل وحشيانو ځناورو له خپلو پخوانيو بادارانو(فرعونيانو) څخه په ميراث اخستی دی.

داسي په زرګونو وحشتونه همدغه غلامانو زمونږ د مجاهد اولس سره کړي دي.

د کندهار په زرګونو بنائسته ځوانان د کندهار په ربګونو، اوشخصي بندیخانو کي ورک شول.

د قندوز نوراني حافظان په بمونو والوزول شول.

د سنګین عوام په توپونو وویشتل سول.

د روزګـان مخـور خلـګ بنـدیان، اود عوامـو خلګـو ږیري قچي کړل سوي.

د غزنـي د غیـوراولس د باعفتـه بنـځو بـي عزتـي وشوه.

د زرمت هر کورد شهیدانوپه وینو ورنګیده.

کچیري موږ د هر ولایت د عسکرو وحشت ته لاس په قلم شو، نو کتابونه به پرې ولیکل شي.

کفار هیڅکله دا نه غواړي،چي مسلمانان دي په آرام شي، اودوی دي د یو اسلامي نظام لاندي د ژوند شپې او ورځي د دین په رڼا کي تیرې کړي.

هغوی هیڅکله د مسلمانانو دوستان او خواخوږي نسي جوړېدلای،اونه به هیڅکله د مسلمانانو خځه خوشحاله سي تر څو چي مسمانان د دوی د باطل دین پیروي و نه کړي.

نن چي اشغالګر اود هغوی هم فکره تش په نامه افغانان د "بشري حقوقو، اساسي قانون، ملي ټولنه"او داسي نور شعارونه خپروي، په حقیقت کي د افغانانو خطا ایستل،او پرهغو باندي د غربه راوړل سوی بشر ضد قانون د اوږدي مودې لپاره حاکمول دي.

د دوی هغه بشري حقوق ولي د ګوانتانامو،باګرام، پل چرخي اود کندهارپه وحشي زندانونو کي نه منل کیږي:

د بندیانو ځړول، شکنجه کول او په نوم دتحقیق هررنګه وحشت وربانـدي کول،همدغه د بشري حقوقو اصول دي.

زما د سترګو لیدلی حال دی، په قندهار کي د یو مدرسې تنکی ځوان فضل احمد له مدرسې نه روان و د کور پر خوا،د قندهار وحشي، ځناور صفته عسکرو د طالب په نوم اول بندي کړ، او بیا یې په تحقیق کي زیات وهلی او شکنجه کړی و اوهم یې پنځه، شپږ ډبېه اوبه وربانديې په زور چکلې وي، تر دي حده ظلم ورسره سوی و او دومره وهل سوی و چي خپل پلار هم سم نه پېژانده.

دا د یو تنکي ځوان سره چي نه څه ثبوت، نه تحقیق بس وهل، ټکول، شکنجه کول دا یې د طالب والي ثبوت دی

.آیا همدغه بشري حقوق دي؟؟؟؟

آیا همدغه اساسي قانون دی؟؟؟

آیا همدغه د شلو کلو لاسته راوړني دي؟؟

داسي ډیر سوالونه سته چي د لیکلو بغیره هم د هر چا په ذهن کي راځي.

د أرګ تالي ځنډي چي د أرګ په چار دیواري کي سره راټول دي، دوی د مظلومو افغانانو په حالت څه باک کوي، دوی ته خپلې پیسې مهمې دي، ګځه هم د دوی ناموس د دوی مخته بې عزته کیږي، دوی په همدغه غلامۍ اوبې آبۍ فخر کوي.

دوی ته د افغانانو تاریخ مهم نه دی،دوی ته د محمود غزنوي شهامت پکار نه دی،دوی ته د احمدشاه ابدالي میړانه اهمیت نه لري،دوی ته د میرویس خان هوتک ریښتنولي د ارزښت وړ نه ده!!

هغه چي دوی ته اهمیت لري،هغه د اشغالګرو د یو څو ډالرو په بدل کي د هغوی په امر خپل ناموسونه خرڅول دي، خپله خاوره اشغالول دي، خپل اولس په وینو رنګول دي،خپل علماء په شهادت رسول دي،د کفارو زندانو دخپل مجاهد اولس څخه ډکول دي.

د خپل غیور ولس میړالونه اشغالګرو ته ورکول دي، بس همدغه د دوی لپاره هم جهاد دی، هم آزادي، هم خدمت او هم خپلواکي اود وطن خدمت دی.

☆ ☆ ☆

جایگاه علمی

أم المؤمنین عائشه رضی الله عنها

شیخ الحدیث ابو عمار زاهد الراشدی
ترجمه : حبیب زاده

این موضوع در حلقات دینی ما مورد بحث است که نصاب تعلیمی دختران چه‌طور باشد و در مدارس دینیه برای قشر اناث چه باید درس داده شود؟

از نگاه من، ذات گرامی ام المؤمنین عائشه رضی الله عنها درین باب بهترین اسوه و نمونه برای ما است، چون وی کامیاب ترین شاگرد درس‌گاه پیامبر صلی الله علیه و سلم و بزرگ ترین معلمه این امت بود. کمال علم و فضل وی به‌حدی رسیده بود که در باره‌اش گفته می شود «نصف دین را از وی باید آموخت». این نصف اگر از لحاظ کمیت نبوده، از لحاظ کیفیت یقینا است. زیرا تقریبا نود در صد زندگانی و تعلیمات خانواده‌گی رسول الله صلی الله علیه و سلم از وی روایت شده است. عائشه صدیقه رضی الله عنها از ۵ تن راویان بزرگ احادیث نبوی صلی الله علیه و سلم بوده و از میان زنان؛ بزرگ‌ترین راویه است. وی از ۷ تن مفتیان بزرگ در عهد خلافت راشده بود. ام المومنین عائشه رضی الله عنها هم فتوی می داد و هم بر فتاوای دیگران نقد می نمود، و حق اجتهاد را با تمام اعتماد به‌کار می‌برد. وی مفسره، قرآن بود و جایگاه امتیازی در بیان نمودن حکمت و فلسفه احکام اسلامی داشت. حتی بعضی محققین وی را بنیان‌گذار «علم اسرار دین» قرار داده اند یعنی وی از همه اول‌تر حکمت و فلسفه احکام شرعیه را بیان نمود و سپس درین عرصه، فاضلان عمده‌ای همچو امام غزالی و شاه ولی الله دهلوی رحمهما الله بنیاد فلسفه عظیم الشان دینی را گذاشتند.

حضرت عائشه رضی الله عنها از عنعنات، تاریخ و کلتور قبائل عرب آن‌قدر آگاه بود، که مردم از وی رهنمایی می‌خواستند. وی نسب‌نامه های قبائل عرب را نیز کماحقه به‌یاد داشت. همچنان سخن فهم و سخن شناس بود و اشعار شاعران عرب بر نوک زبان‌اش بود، به مزایای ادب و فصاحت آراسته بود و از خطبای بزرگ عهد خود شمرده می‌شد. وی بر علاوه از معاملات علمی و فقهی، در مسائل مردمی نیز به صراحت رای می‌داد و حتی خلفای راشدین هم در بسیاری امور از وی رهنمایی می‌طلبیدند.

ابوموسی اشعری رضی الله عنه فرموده است که ما اصحاب الرسول صلی الله علیه و آله و سلم

در چنان مشکلی گرفتار نشده‌ایم، که حل آن را نزد ام المومنین عائشه نیافته ایم.

ام المومنین عائشه رضی الله عنها به علم طب نیز دسترسی داشت. بزرگ ترین شاگرد و خواهرزاده اش حضرت عروه بن زبیر رضی الله عنه می گوید : من در عهد خود، کسی را بیشتر از عائشه رضی الله عنها، آگاه به معلومات طبی ندیده ام.

مسند تدریس حضرت عائشه رضي الله عنها تا نیم قرن در مدینه منوره آباد بود و صدها تشنه گان علوم ازان استفاده نمودند. تنها در احادیث نبوی صلي الله علیه وآله وسلم شمار شاگردان وی بیش از دو هزار تن بیان شده است، که شامل مردان و زنان بودند. این همه معلومات را سیرت نویسان در کتاب‌های مختلف بیان نموده اند، و بیشتر معلومات را علامه سید سلیمان ندوی در کتاب سیرت عائشه رضي الله عنها جمع اوری نموده است. هر زني كه ذوق علمي و ديني دارد باید آن را مطالعه کند.

سوال اینست که ام المومنین عائشه رضی الله عنها این همه را از کجا آموخته بود؟ وی آن‌گاهی که داخل حرم نبوی صلی الله علیه وآله و سلم شد نُه (۹) ساله بود، که بسیاری‌ها بر این اعتراض هم دارند. اما به باور من این عین مقتضای حکمت و دانش بود که یک زنی در چنان سن‌وسالی داخل حرم پیامبر صلی الله علیه وآله و سلم شود که آوان آموزش او باشد، و باید به حیث خانم داخل حرم شود تا در پرسیدن، دانستن و آموختن سختی، حجاب حائل نباشد و مسائل دینی درون‌خانه و روابط میان شوهر و زن بدون کم و کاست به امت برسد. برای این کار ذهن صاف و تازه‌ای می بایست و این اعزاز و افتخار نصیب ام المومنین عائشه رضی الله عنها شد. عائشه رضی الله عنها نیز به حیث نخستین و بزرگ‌ترین معلمه، امت اهلیت خود را ثابت نمود. وی هرگاه داخل حرم نبوی صلی الله علیه وآله و سلم شد نه ساله بود و هرگاه رسول الله صلی الله علیه وآله و سلم وفات نمود وی هجده یا نزده ساله بود، هویدا است که وی بخش اعظم علم و کمال را در خانه سرور کائنات صلی الله علیه وآله و سلم حاصل نمود و از آن چشمه صافی فیض‌یاب شد.

بار دیگر نگاهی بیاندازید به کمالات علمی ام المومنین عائشه رضی الله عنها، وی مفسره بزرگ قرآن بود، راویه و شارحه بزرگ احادیث نبوی صلی الله علیه وآله و سلم بود، عالمه‌ای بود که حکمت و فلسفه احکام و مسائل دینی را بیان می‌نمود، بر عنعنات، کلتور، نسب‌نامه‌ها و تاریخ قبائل عرب مهارت داشت و به ادب، شعر و خطابت آراسته بود، در افتاء به درجه مجتهد رسیده بود و به معلومات طبی نیز مجهز بود. وی این همه کمالات را از درس‌گاه نبوی صلی الله علیه وآله و سلم فراگرفته بود. بنا برین، به باور من؛ نصاب یک درس‌گاه دینی برای زنان همین است و ذات گرامی عائشه رضی الله عنها بزرگ‌ترین اسوه برای تعلیم و تربیه دختران مسلمان است .

چنانچه به شاگردان و به‌خصوص استادان علوم دینی عرض می‌دارم که با تمام اعتماد برای فراگیری علوم به پیش بروند. سیرت و کارنامه‌های علمی ام المومنین عائشه و دیگر صحابیات رضی الله عنهن را مطالعه کنند و ازین پروپاگند غرب هرگز متاثر نشوند که اسلام زنان را از حصول علم باز می دارد. زیرا گذشته، پر افتخار و تاریخ تابناک ما پیش روی ماست و خدمات و کارنامه‌های زنان اولوالعزم امت اسلامی جزو تاریخ درخشان ما است.

البته؛ لازم است که این همه در چوکات احکام دینی انجام یابد و بر قواعد و ضوابط شرعی کاملا پایبندی شود.

په لیبیا کې

د مصر او ترکیې مخامختیا

قاري حبیب

لیبیا د شمالي افریقا یو له مهمو اسلامي هیوادونو څخه دی. لیبیا چې یو میلیونه او اته لکه مربع کیلومتره زیات مساحت لري، نفوس یې څه کم اوه میلیونه تنو ته رسیږي. دا هیواد چې د نړۍ په سطحه په لسو ډیرو نفت لرونکو هیوادونو کې حسابیږي په اقتصادي لحاظ د ودې او انکشاف ګڼ فرصتونه لري. لیبیا له تیرو اتو کلونو راهیسې د کورنۍ جګړې په اور کې سوځي. تر جګړې وړاندې دا هیواد د افریقا په سطحه یو له پرمختللیو او ودانو هیوادونو ګڼل کیده. چې خلکو یې خورا مرفه ژوند درلود. د قذافي د واکمنۍ په وخت کې لیبیا هره ورځ د تیلو له صادراتو ۴۰ میلیونه ډالر ترلاسه کول. دې پراخو مالي امکاناتو او لږ نفوس حکومت ته توان ورکړی و چې د لیبیا خلکو ته تعلیم، بریښنا، اوبه، صحي خدمات او حتی د زراعت تر الاتو او تخمونو پورې په مفت ډول مهیا او توزیع کړي. چې دا د افریقا د وچې په سطحه بې ساري امکانات و.

خو نړیوال استعمارګر په خاص ډول د فرانسې، ایټالیا او امریکا په شان ځینې هیوادونه چې د لیبیا زیرمو ته یې سترګې پټې کړې وې، دې هیواد ته یې یوازې دومره بهانه غوښته چې څرنګه به په کې ګډوډي رامنځته او زیرمې به یې چور کړي. د عربو د پسرلي له پیل سره کله چې په ۲۰۱۱ م کال کې په لیبیا کې هم له بنغازي ښار څخه خال خال د اعتراض غږونه پورته شول.

اروپایي غلیمانو همدا وخت فرصت وګاڼه او د پراخو تبلیغاتو په توسط یې په لیبیا کې د نزاع اور ته لمن وهل پیل کړل. وروسته ناټو په لیبیا کې مخامخ پوځي مداخله پیل کړه. د لیبیا د هوایي ځواک په الوتنو یې بندیز ولګاوه تر دې چې د قذافي په وژلو سره یې هلته د یوه مضبوط حکومت تخته چپه او لیبیا د بې شمیره ډلو ډلو ټپلو رحم کرم ته پاتې شوه.

له بحران نه د وتلو په مقصد د لیبیا سیاسي ډلو په پارلماني ټاکنو هوکړه وکړه، چې د لیبیا د پارلمان لپاره لومړنۍ ټاکنې په ۲۰۱۲ میلادي کال کې ترسره شوې. د دې ټاکنو له مخې باید د پارلمان استازي تعین شوي وای او بیا همدې استازو باید حکومت ټاکلی وای. د لیبیا مؤمن ولس د اروپایي مداخله ګرو د مزاج خلاف اسلام ګرایانو او د اخوان المسلمین له ګوند سره تړلیو استازو ته رایې ورکړې او د پارلمان ډیرې څوکې د سیکولرانو او ملي ګرایانو په نسبت اسلامپالو وګټلې. همدې اسلامپالو سیاسیونو په طرابلس کې نوی حکومت تشکیل کړ چې د وفاق ملي یا مرکزي حکومت په نوم یې شهرت وموند او ځینې شرعي اصلاحات یې هم راوستل. دا حکومت چې ملګرو ملتونو هم په رسمیت پیژندلی اوسنی مشر یې فائز السراج دی خو د لیبیا اسلامپال سیاسیون په کې غالب قدرت لري.

کله چې د طرابلس مرکزي حکومت د اسلامپالو لاس ته ولوید او د سیکولرانو هیلې خاورې شوې نو د غربي مداخله ګرو په ټونګ د لیبیا سیکولرانو د طرابلس د حکومت د کمزوري کولو هڅې پیل کړې. لومړی یې په پارلمان کې جنجالونه، اتهامات او اختلافات پیل کړل او وروسته یې چې د پارلمان ناستې تحریم کړې وې، په کودتاوو او دسیسو یې هم پیل وکړ. دا چې د طرابلس حکومت او پارلمان تر ډېره اسلامي روحیه درلوده، غربیانو دوهم پلان په کار واچاوه او هغه په لیبیا کې د یوه موازي ځواک په حیث د جنرال حفتر تر نامه لاندې د یوه پخواني جنرال را ژوندي کول او مطرح کول و.

جنرال حفتر چې د قذافي د ځوانۍ ملګری و په وروستیو کې له قذافي سره مخالف و او په امریکا کې د سي آی اې تر وزر لاندې اوسیده. د امریکایانو په مرسته نوموړی لیبیا ته راغی او کرار کرار یې د لیبیا په ختیځ، بنغازي او او نورو سیمو کې د ځواک په تشکیل کار پیل کړ. دا وخت چې په لیبیا کې ځینې جهادي ډلې هم پیدا شوې وې امریکایانو د جنرال حفتر په شان یوه ملیشه ځواک ته اړتیا درلوده چې د خپلو اهدافو لپاره یې وجنګوي. جنرال حفتر په ۲۰۱۴ م کال کې د لیبیا د مرکزي حکومت په ضد اعلامیه صادره کړه او د جهادي ډلو په خلاف یې د پراخو عملیاتو اعلان وکړ. دا چې جنرال حفتر قانوني مشروعیت او پشتوانه نه درلوده، بلکې ملګرو ملتونو په طرابلس کې د لیبیا مرکزي دولت په رسمیت پیژاند. په همدې کال د استازو د مجلس په نوم د یو نوي شورى لپاره ټاکنې ترسره شوې چې په ناڅاپه ټول په کې ډېری خوکۍ سیکولرانو وګټلې. دغه مجلس د لیبیا د مرکزي دولت په ځای د جنرال حفتر ملاتړ اعلان کړ او د طرابلس په ځای یې د لیبیا په شرقي ښار طبرق کې خپل مجالس پیل کړل.

په دې ډول لیبیا عملا په دوو برخو وویشل شوه. لویدیځه خوا یې د پلازمینې طرابلس په ګډون د مرکزي دولت تر کنټرول لاندې وه چې اسلامپالو په کې برلاسې درلوده او دولت یې ملګرو ملتونو او ګڼو نورو هیوادونو هم په رسمیت پیژاند. د لیبیا ختیځه خوا د جنرال حفتر د ځواکونو او په طبرق کې د استازو مجلس تر واک لاندې وه. په دې خوا کې سیکولر او ملي ګرایان را ټول شوي و چې د ځینو خاصو هیوادونو لکه مصر، سعودي عرب، عرب امارات، روسیې او د امریکا ملاتړ ورسره وو او هڅه یې کوله چې حفتر او نور سیکولران د لیبیا د راتلونکو واکمنو په حیث قدرت ته ورسوي.

د مصر او ترکیې مخامختیا

د مصر پوځ په ۲۰۱۳ م کال کې د مصر منتخب ولسمشر ډاکټر مرسي په ظالمانه ډول له واک لرې کړ. دا په داسې حال کې و چې د لیبیا په مرکزي دولت کې اخوان المسلمین برلاس نقش درلود. له همدې خایه د لیبیا د مرکزي دولت او د مصر د پوځي واکمنو تر منځ هم دښمني پیل شوه. مصر د دې لپاره چې په لیبیا کې د اسلامپالو د ځواکمنیدو مخه ونیسي د سیکولر جنرال خلیفه حفتر ملاتړ یې پیل کړ. حفتر د مصر او ځینو نورو هیوادونو په ملاتړ د لیبیا د شرق، مرکز او جنوب ډېرې سیمې ونیولې او د لیبیا مرکزي دولت یې تر طرابلس او د ځینو غربي سیمو پورې محدود کړ. جنرال حفتر څو ځله هڅه وکړه چې طرابلس هم ونیسي خو مرکزي دولت یې په وړاندې کلک مقاومت وکړ.

جنرال حفتر ۲۰۱۹ م کال تر نیمایي پورې په لیبیا کې برلاس رول درلود او تمه کیده چې نوموړی به په ټوله لیبیا سلطه ترلاسه کړي. خو د تېر کال په نومبر کې یوه داسې پیښه وشوه چې په لیبیا کې یې د واک او ځواک معادله سرچپه کړه. د نومبر په میاشت کې د لیبیا د مرکزي دولت د کورنیو چارو وزیر فتحي باش آغا اعلان وکړ چې د طرابلس واکمنو له ترکیې سره امنیتي قرارداد امضاء کړی دی. له دې څو ورځې وروسته د ترکیې مشر رجب طیب اردوغان اعلان وکړ چې د لیبیا مرکزي دولت له ترکیې د نظامي مرستې غوښتنه کړې او نوموړي د نظامي مرستو د لیږلو طرح د ترکیې پارلمان ته لیږلې ده. د ۲۰۲۰ میلادي کال په جنوري کې د ترکیې پارلمان د ۳۲۵ رایو په توافق او ۱۸۴ رایو په اختلاف لیبیا ته د پوځ او نظامي مرستو د لیږلو طرحه تصویب کړه.

له همدې وخته اردوغان چې له دې وړاندې یې د منځني ختیځ په بېلابېلو سیمو کې د نفوذ پراخولو هڅې کړې وې، عملا یې د لیبیا د مرکزي دولت ملاتړ پیل کړ، لیبیا ته یې ګڼ شمیر پوځي مشاورین، نظامي توکي او په خاص ډول بې پیلوټه الوتکې ولیږلې چې په مټ یې د لیبیا مرکزي دولت د جنرال حفتر په خلاف ځوابي عملیات پیل کړل. د خلیفه حفتر ځواکونه یې د طرابلس له څنډو وشړل او پراخې سیمې یې ترې ونیولې. د ترکیې د مرستو په مټ په لیبیا کې د ځواک معادله سرچپه شوه. که پخوا جنرال حفتر په تهاجمي موقف کې و اوس د فائز السراج په مشرۍ د طرابلس مرکزي حکومت برلاس موقف خپل کړ او جنرال حفتر ځواکونه یې د لیبیا تر مرکزي سیمو شاتګ ته اړ کړل.

د لیبیا د مرکزي دولت پرمختیاوو او د جنرال حفتر مسلسلو ماتو تر هر چا زیات د مصر پوځي واکمن جنرال سیسي وبوږناوه. ځکه توموړي پوهیده چې که د حفتر ځواکونه شکست وخوري او د اسلامپالو له پراخ نفوذ څخه برخمن مرکزي دولت د مصر تر پولو وغځیږي. نو له اغیزو به یې مصر هم په امان پاته نه شي. له همدې امله و چې جنرال سیسي په عاجل ډول د لیبیا سره په پوله پوځي مانورې پیل کړې. وروسته له لیبیا سره نږدې یوې پوځي اډې ته لاړ او هلته یې مصري پوځ ته وویل چې په لیبیا کې د پوځي مداخلې لپاره ځان تیار کړي. جنرال سیسي د لیبیا د شمالي ښار سرت او مرکزي سیمو کې د جفره د هوایي اډې تر منځ سیمه د سرې کرښې په حیث تعین کړه او ویې ویل چې که د لیبیا د مرکزي حکومت ځواکونه له دې خط څخه د شرق خواته واوړي نو دا به مصر په خپل ملي امنیت تعرض وګڼي او د مصر پوځ به مستیقما په جګړه کې داخل شي.

د لیبیا له مرکزي دولت څخه د ترکیې پراخ ملاتړ او د جنرال حفتر په ننګه د مصر دریدلو دغه هیواد د مصر او ترکیې د رقابت په ډګر بدل کړی دی.

د ترکیې ولسمشر اردوغان چې د منطقوي نفوذ د پراخولو هڅه کوي. په عربي نړۍ کې اسلامپال خوځښتونه په خاص ډول د اخوان المسلمین سره تړلې ګوندونه د موجوده نظامونه ښه بدیل ګڼي. نو ځکه یې په سوډان، تونس او سوریه کې د اسلامپالو سره ملګرتیا پیل کړې ده. بالمقابل د مصر پوځي حکومت، عرب امارات او د سعودي واکمن بیا همدې ګوندونو ته د بالقوه خطر په نظر ګوري او اجازه نه ورکوي چې د لیبیا غوندې مهم هیواد کې قدرت ټینګ کړي. له دې علاوه ترکیه په لیبیا کې اقتصادي اهداف هم لري. همدا اوس ترکیه په مدیترانې بحیره کې د ګازو په ذخیرو پسې ګرځي او د خپل سمندري حق د ګټلو لپاره یې له لیبیا سره سمندري پوله مشخصه کړې او د مدیترانې بحیرې یوه لویه برخه یې په خپل نوم کړې ده.

دا چې د لیبیا نیابتي جنګ به د مصر او ترکیې په مخامخ ټکر بدل شي او کنه؟ کتونکي شک لري چې مصري پوځ به په لیبیا کې مخامخ مداخله وکړي. ځکه دغسې مداخله که څه هم محدوده او محتاطانه وي ډیر ژر به په یوه پایېدونکې ماموریت بدله شي او له وسلو او وسلوالو ډکه لیبیا چې پراخ مساحت لري د مصر پوځ ته په یوه ډوبوونکې جبه زار اوښتلې شي. دمصر پوځ چې په سینا دښته کې محدودو وسلوال نه شي مغلوبولای د لیبیا غوندې د پراخ هیواد کنترول به ورته ډیر مشکل وي. د مصر التیماتوم د اوس لپاره د مرکزي حکومت او ترکیې د پوځي پرمختګ مخه نیولې ده. معلومه نه ده چې دغه نسبي آرامي به څومره دوام وکړي.

☆☆☆

کړ ځوږ د تکبیر اړ کافر د کډې باریدو ته
دي لړې شیبې پاتې د شرعي ځواک جوړیدو ته

سرزوري ښائستونه درته پرمخې پراته دي
نخیري دې ښکلاوې سپین بیرغه رپیدو ته

کافر ختیځ توته پر زنګ وهلیو تبرګیو
لویدیځ دګر بایللی فدايي تلدو بریدو ته

هغه مې زورور ښتن کړل سر په ننواتو
چا کړې چې تکل وو زمونږ ملنګو ورکیدو ته

شوګیر دې شپه رنه کړه، ترورمې خمه سپیدو ته
ماتیږي تورتمونه دې د توري پرقیدو ته

یو چا پر سپینه توره له اشغال ورمیږ جلا کړ
وړي څوک د ازادۍ په پار ککرې ځاریدو ته

جهان به مې غړۍ ږدي روڼ دریځ ته منتظره!
زهٔ نه یم جوړ سرټیټي تنزل، تسلیمیدو ته

تش کچکول يې

پیرمحمد کاروان

تش کچکول یې ډک د استغنا له مرغلرو و
یو ملنګ، پاچا د محبت په دوو خبرو و

هې هې د ملنګ خبرې هیچا اوریدلې نه
هر سړی چیچلی د غرور تورو ېمبرو و

لوی بری یې و موند خو اخلاق یې د بري نه وو
تللی یې له لاسه په قمار د لندغرو و

نفس چې و، چینجی تر پښو یې لاندې نه کړ مار شو مار
و یې بایله جنګ چې نه د ټورو نه د زغرو و

لاس کې دې ګل نه و، چې دې مات په یوه خرپ سره
سر د یوه لال سړي په تیږو په ډبرو و

کله و یړدی دښته باران د رحمت کله و
سور په وینو شین بوټی د تږو مساپرو و

بده رلې راغله د نفاق او تړی تم یې کړ
ګل ددې وطن را شین په لوړو په ژورو و

تاج و د هغوی چې په پیچومي یې اوبه ختې
واک په دې وطن کې ته وا حق د زوروړو و

نیمه پیړۍ مخکې نظامونه ولې بد ګڼو
تړی په کې څوک دومره د امن د سندرو و

زړه دې په کې ګډ و د اخلاص له خوږلنې سره
ستا غزل کاروانه خوږ له شاتو له شکرو و

۱۳ سنبله ۱۳۹۹ هجري شمسي خوست

یو ملنګ و قلندر

چنار تکور

[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
دژوندون لـه سـتړي ښـاره ، پـه مـزل خـي ترسـهاره
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
[illegible]
ستا بچیان ستا له مسیره ، په ارمان پسې- روان شو
دافغـان وطـن غمخـور وو ، دزخمـي اولـس تکـور وو
دبـلال سـکنې ورور وو ، پـه اذان پسـې- روان شـو

د عقیدت نذراني

د حقاني صیب[رحمه الله]سپیځلې اروا ته

شاعر: م- الیاس فاتح

د سـېنې د پرهـــر ژبـه چـې ګـویا شي
کیـف د سـوبې تـه دردونـه پـه خنـدا شي
پـه اعـــزیو بـه خـــپرو د پـښو تنهـا کې
څـــو رالنـــدې د مـــنزل لارې رښـــتیا شي
د زخمونـــو جامـــې وغوانـــدئ ملـــګرو!
چـــې ســـپرلی د ازادۍ وطـــن تـــه راشي
د طالـــب رېښـــې پګـــړې تـــه بـــه ان شـــاءالله
پـر مـــلا ماتـــه مســـتکبره امریکـــا شي
حقانـــې! ســـتا پـــه تلـــپاتو قـــربانیو
د امـــت ورک عظمتونـــه بـــه پیـــدا شي
مـوږ د ویـنو ډېـوې بلـې کـړې فـاتحه
د بـــل نســـل د قـلـــم لار بـــه رڼـــا شي

د معلم مقام ته

نصرت

تـه ډیـوه د تورتمونـو تـه سـپوږمۍ د تـورو شـپو یـې
تـه رڼـا یـې تـه ښـکلا یـې تـه لارښـود د قـافلو یـې

معلومـه معلـم ای تـه د وخـت لویـه سـالاره
تـه د لـوړ مقـام څښـتن یـې مربـي مـو د فکـرو یـې

تـه استازی د سحر یـې د سـپېډو پـه لـور دې یون دی
یـې وارث د انبیـاوو، تـه خاونـد د عظمتـو یـې

پیغامونـه د الفـت دې د رڼـا لـه چـم نـه راوړل
پـه رښـتیا عظیم انسـان یـې تـه لایـق د تعریفـو یـې

د فطـرت ښـکلا رنګونـه، تـا د سـتورو پـټ رازونـه
پـه خپـل فکـر کـړل روښـانه تـه ښایسـت د زمـانو یـې

ســتا د سـوي زړه درزا کـې دیـرې هیلـې د رڼـا دي
تـه قاصـد د معرفـت یـې ځلانـد سـتوری د وختـو یـې

سـتا لاسـونو کـې قلـم دی سـیپارې د محبـت دي
تـه لمـر څـرک د سـباوون یـې تـه مشـال د تروږمـو یـې

تـه خـادم یـې د دې خـاورې تـه مالیـار د دې چمـن یـې
پلوشـې د علـم وېشـې لـوی رهبـر مـو د زلمـو یـې

تـا د نـور لـه کـاروانونو تـا د وړانګـو پـه لاسـونو
د عرفـان درسـونه راوړل تـه مـو میـر د کـاروانو یـې

د ګلونـو سـوداګر یـې د رنګونـو سـوداګر یـې
اې د مینـې لارویـه تـه سـپرلی ډک لـه وږمـو یـې

نګهتونـه خـورېږي سـتا د هنـر لـه دبسـتانه
تـه لـه جهـل سـره وران یـې تـه دښـمن د نفرتـو یـې

تـه یـو ګـل یـې د وختونـو تـه بلبـل یـې د وختونـو
تـه د ژونـد اوراورکـی یـې ډک د حسـن لـه جلـوو یـې

د نصـرت قلـم بـه سـتایي سـتا تلپـاتې خدمتونـه
تـه لایـق د تعریفـو یـې مسـتحق د تعظیمـو یـې

تاریخ جوړوونکی پلار!

د لیکوالو لپاره تر ټولو سخته کار د ځان په اړه لیکل دي. له همدې امله مې له ډېره وخته زړه کې و چې د والد صیب مرحوم په هکله یو څه ولیکم؛ خو بیرته به په دې پښېمانه شوم چې هغه ستا پلار دی او ستا خبرې به خلک د یو پلار په حق کې د خپل زوی مبالغه وګڼي .

نن مې د مرحوم والد صاحب په اړه یو څه لیکلو اراده ځکه وکړه چې اوس یې د دوستانو پر ستاینو سربېره د دښمنانو هم اوس په دې حقایقو سترګې خلاصې شوي دي، نو زه به ولې په مبالغه تورنیږم؟

یوه ورځ له یوه بهرني لوړ پوړي چارواکي سره ناست وو. ښه صریح غږیده. د نورو غوندې یې ژولنې سیاسي خبرې نه کولې بلکې سپین ځوابونه یې ویل.

کله چې موږ هغه ته معرفي شوو نو زیاته یې کړه چې: زه په دې ویاړم چې له داسي خلکو سره ناست یم چې هغوی تاریخ جوړ کړی دی، دوست او دښمن اوس په دې قائل دي چې تاسو تاریخ ساز خلګ یاست!

هوکې! دا ویاړ موږ ته خپل مرحوم پلار جان او نورو غیورو مشرانو رابښلی دی.

هغه پلار مې چې خپني ښاغلي یې تش له نوم اوریدو هم د ویرې احساس کوي. په دې اړه مې د زندان یوه ژوندۍ خاطره درسره شریکوم.

په زندان کې مې ځو ورځې وتلې وې، د ۹۰ ریاست په کوټه قلفي کې یوازې وم، د امنیت کار کوونکو به د بندیانو د تیر ایستلو په موخه د بشري حقوقو د ادراې والا په نوم یو د ساده جامو نفر بندیانو ته ورلیږه، په کومو کسانو به چې ظلم شوی و نو د مشکلاتو پوښتنه به یې ترې کوله، که چا به شکایت وکړ هغه به یې یوځل بیا سم وواهه، دغه تن په کوټو ګرځیده، خبر نه و چې په دې کوټه کې انس دی.

ماته هم راغی. دروازه یې ورو بنده کړه. دیوال ته یې دده ووهله، قلم یې راواخیست، وایي څه مشکل لرې؟

ځو ورځې کیږي راغلی یې؟

ظلم خو به نه وي دربانديې شوی؟

زه یوه شوم چې سړی هسې راخطا شوی؛ ځکه داسې کسان موږ ته نه راتلل چې موږ ورسره خپلې ستونزې شریکې کړو، ما ورته وخندل چې که زه کوم مشکل لرم نو ستا په وس به ونشي چې حل یې کړې!

ویل یې ته ووایه، زه کوښښ کوم.

اخیر مې ورته وویل چې نورې خبرې پریږده ما له خپل ملګري سره یوځای کړئ، موږ یې ولې جلا ساتلي یو؟

وایي هغه څوک دی؟

ما ویل حافظ رشید

وایي ستا جرم څه دی؟ ما بیا ورته وخندل ...جرم مې!؟

وایي هو!

ما ویل زه یې د پلار په سر تیولی یم، نور زه هیڅ دوسیه نه لرم.

ـ پلار دې څه کاره دی؟!

ـ هغه د امریکا او د امریکا د غلامانو دښمن دی.

ـ څه نومیږي؟

ـ جلال الدین حقاني.

تاسو په خدای باور وکړئ چې د سړي رنګ داسې شو لکه د مرګ تیره توره دې چې په مري ور ایښې وي، جګ ودریده، یو ځل به یې ماته په دار دار وکتل بیا دروازې ته.

دغسې په شا روان شو، له لیرې یې دروازې ته لاس اوږد کړ وایي هسې نه چې له شا را باندې راټوپ کړې، او نور دسترګو په رپ کې له دې صحنې غائب شو.

د ده دا عمل سخت وخندولم. په دې حال مې شکر اداء کړ چې د پلار له نومه دې د دین او وطن دښمنان داسې ویریږي.

کله چې د والد صيب مرحوم د وفات آوازه خپره شوه، زه د بګرام په جزايي تشنابونو کې وم. امريکايانو زما د خبرتيا لپاره زما ماما حاجي صيب مالي خان راوست کيسه اوږده ده، زما له خبرولو وروسته امريکايي ډګروال وويل چې حقاني اګر که زمونږ سر سخت دښمن و او زموږ خلګ يې وژلي دي؛ خو موږ په دې اقرار کوو چې هغه په خپله خاوره مين او ميړنی سړی و، هميشه د خپلې خاورې په دفاع کې جنګيدلی دی، هغه داسې جنګيالی و چې هيڅکله له خپل دريځ نه دی په شا شوی.

د والد صيب مرحوم په ژوندانه کی مو عجيب غريب شيان وليدل. موږ ته يې عملي روزنه راکوله. هر کله به چې ورغلو نو موږ ته به يی د علم او زده کړې تلقين راکاوه، ويل به يی چې که علم درسره وي نو حق او باطل تور او سپين بنسه پيژندلی شي. يوه ورځ يی راته ويل ځوانان جذباتيان وي، جنګ او سياست ته بيړه کوي؛ خو ګوره افغانستان کې چی کله هم سياست وغواړې پيدا کولی يې شې؛ خو د علم وخت د ځوانی وخت وي، تاسی يو ځل علم حاصل کړئ، بيا هر کار اسانه دی، خو له متصبونو نه ځانونه ليری ساتئ؛ ځکه په دنيا کی ستر امتحان په هغه چا راځي چی هغه د منصب خاوند وي.

له کفارو او تيری ګرو سره يې سخت عداوت او کرکه درلوده؛ خو د خپل ولس له پرګنو سره يې بې حده مينه وه، پلار جان مرحوم به ويل: د ولس خلک که هرڅومره لويې تيروتنې وکړي، تاسي د هغوی د اصلاح هڅه وکړئ، که څه هم هغوی ستاسي دوستان او خپلوان وژلي وي، خو چې اصلاح او پوهاويی يې شوني وي؛ نو په خپلو دردونو سترګې پټې کړئ، صبر وکړئ، خپل خلک خپل کړئ.

له يرغلګرو سره يې دومره سخت عداوت و چې يوه ورځ موږ څو تنه مابنام مهال ورغلو ده لمونځ کړی و او يوازې ناست و. سخت مريض هم و، له زړه يی سخت وژړل.

يوه ملګري تسلي ورکړه. بيا يې د ژړا لامل ترې وپوښت چې څه تکليف دی درته؟ مرحوم والد صيب ورته وويل، چې په دې ژاړم چی روسان مي په خپل لاس ووژل خو امريکايان مې په خپل لاس نه دي وژلي، زموږ په ولس يې سخت ظلمونه کړي دي، زموږ دين ته يې سپکاوی کړی دی، اوس په دې ژاړم هسې نه دوی ووځي، زه مړ شم او د هغوی په وژلو زړه يخ نه کړم.

ټول ناست کسان ورته حيران شول، يو ملګري د تسلي په خاطر په خندا کې ورته وويل:

حاجی صيب مه خپه کيږه!

ستا په امر او رهنمايي موږ دومره امريکايان ووژل چې شميرل يې ګران دي. او ته خو اوس هم کولای شې امريکايان ووژني او هغه په دې ډول چې موږ به دې په اوږو کينوو او ته به ورباندې پيرونه وکړې.

د دې خبرې په اوريدو ډير خوشاله او په خندا شو. بيا يې وويل چی نه د منصب شوق لرم او نه بل کوم د دنيا شوق

د آزادی مرحلې مې هم ليدلي دي، د دنيا خلکو کفارو د پاچاهي وړانديزونه راته کول، خو د ذلت تر سلطنت مې د عزت دغه د غرو خاورو په کوټو کی زندګي غوره وبلله، د افغانستان په مظلوم او خوريدلي ولس مې سخت زړه خوږيږي، بې حده زيات کړاونه يې وګالل، دا مې ارمان دی چې د اسلامی نظام تر چتر لاندې د افغانستان کړيدلی ولس يو ځل بيا د ارام او امن ساه واخلي، او د پرديو کفارو او خائنانو له پنجو نور خلاص شي.

د ده نږدې دوست او شاګرد شهيد احمد جان غزنوي ورته وويل چی تا مخکی وويل چی دنياوالو د پاچاهی ټپر راته وواهه، دا څنګه کيسه وه؟

والد صيب ورته وويل چې کله امريکايانو په افغانستان د تيری اراده وکړه، نو سرشناسو خلکو سره يې تماسونه نيول، موږ ته يې له مختلفو لارو څخه پيغامونه راليږل، خو کله چې اخيری ځل د سرحدونو وزارت د وزير په توګه له يو پلاوي سره زه پاکستان ته لاړم، هلته موږ مختلف مجالس وکړل، د امريکايانو له يو جګپوړی پلاوي سره مو هم وليدل. امريکايانو خپلې خبرې په داسې انداز پيل کړې لکه موږ چې د دوی دوستان وو، ما غوږ ورته نيولی و، امريکايي پلاوي وويل:

موږ اراده لرو چې د خپل امنيت او منافعو د ساتنې په موخه په تروريستانو او د هغوی په حمايت کوونکو پسې افغانستان ته راشو، دوی ظلم کړی دی دا نظام بايد ړنګ شي، د دې نظام پرځای بايد بل نظام رامنځته شي، اوس زمونږ پلان او زموږ د حکومت انتخاب دا دی چې ته د طالبانو ملګرتيا پريږده او زمونږ سره ملګری شه! ته يو ملی شخصيت يې افغانان په تا اعتماد کوي، د روس خلاف جنګيدلی يې او بيا د مجاهدينو ترمنځ د سولې په هلو ځلو دې ښه تاريخ پريښی دی ، زمونږ اراده دا ده چې د راتلونکی نظام زعامت تا ته درکړو، نور چی هر څه ته اړتيا لرې هغه مونږ ته ووايه!...

وايي ما له ځان سره فکر وکړ چې له دومره کلونو کلونو خواريو، جهادونو، زخمونو او هجرتونو وروسته اوس دا خلک تا په امتحان کې اچوي، ايمان مې له خطر سره مخ کوي، خو الحمدلله

په زړه کې مې د ډېر برابر شوق او میلان هم د دوی غوږو ورانديزونو ته پيدا نشو.

ما ورته کړه ستاسو خبرې پوره شوې، وايي هو!

نو ژر ژر يې کاغذونه رواخيستل ليکلو ته منتظر شول.

ما ويل چې تاسي څه فکر کوئ چې حقاني به د سلطنت په بدل کې خپل دين او ولس په تاسو خرڅ کړي؟!

د شهيدانو په ارمانونو به خاورې واچوي؟ دا هيڅ کله نشي-کيدلی، تاسو ته ښه په زغرده وايم ښه دقيق يې واورئ! کټ مټ همداسې يې خپلو مشرانو ته ورسوئ!

پر افغانستان د تيري اراده له زړو وباسئ! څکه دا به تاسو ته سخته په زيان تمامه شي د خيرو له لارې د ستونزو د هوارولو هڅه وکړئ، که چيرته تاسي په افغانستان تيرى وکړ نو دا واورئ چې زه به مو په هغه ټوپک ولم په کوم مې چې شوروپان ويشتلي وو.

د دوی رنګونه بيخي والوتل، حيران شول، ما هم نورې خبرې پرېښودې، دستي له خايه پورته شوم د دروازې په لور روان شوم، بيا مې له دروازې غږ وروکړ چې دا زما وروستی فيصله ده، هيله مند يم چې ښه به پرې پوه شوي وئ.

مياشت کم او زياته نه وه تيره چې زموږ د پکتيا مرکزونه يې په کروزو و ويشتل، له هغې نه پس يې په دې يوه لسيزه کې له مختلفو لارو پيغامونه رواليږل چې راشه هر څه چې غواړې، هغه به درکړو خو هر ځل مې غوښ ځواب ورکړی دی.

زه په دې شکر ادا کوم چې بچيان مې د امريکايانو په مرميو شهيدان شوي دي؛ څکه چې يو خو به مې خپلو شهيدانو ملګرو ته سترګې ټيټې نه وي، بل مې له کفارو سره نوره هم کرکه او عداوت زيات شوی وي.

د والد صيب مرحوم په حالاتو کې چې فکر کوم رښتيا يو لوی شخصيت و، په سخته ناروغۍ کې به يې هم عبادت نه پرېښود، موږ به ورته ويل ارام ته اړتيا لرې؛ خو چې بيا به مې کتو نو تهجدو ته به پورته شوی و.

د قران کريم تلاوت يې هيڅکله نه پرېښوده، تر دې چې په ورستيو وختونو کې يې د فلج مرض له امله يو لاس بې حسه شو، بيا به ملګرو په ټيپ کې تلاوت ورته چالان کړ، څومره عبادت چې هغه کاوه که قسم په رب وکړم حانث به نشم چې ما په خپل ژوند کې داسې عابد نه و ليدلی.

يوه ورځ زه له څو ورونو سره ورغلم نو لږ خپه معلوميدو، موږ ترې د حال پوښتنه وکړه نو ده وژړل موږ هم ورسره په ژړا شوو، مشر ورور ورته وويل چې ابا څه خبره ده؟!

ده وويل چې په دې ژړم چې خاتمه به مې څنګه شي؟ سبحان الله د دومره قربانيو او عبادتونو تکليفونو سره سره بيا هم د خاتمې ويره ورسره وه، موږ تسلي ورکړه خو ده ويل چې د تير جهاد د څنګ مشران ملګري چې ګورم چې د مرګ له ويرې او د دنيا د لاسته راوړلو په خاطر يې خپل غيرت او وجدانونه وپلورل او د کفارو تر څنګ ودريدل، نو زه وايم هسې نه الله تعالی زموږ خاتمې خرابې نه کړي، کاشکي زما د جهاد هغه پخواني ملګري اوس هم پوه شوي وای او د کفر له ملګرتيا يې لاس اخيستی وای.

د ده خبرې رښتيا هم حيرانوونکي وې. په زندان کې مې ډير فکر پکې وواهه، پس له ډيرې مطالعې دا راته معلومه شوه چې د الله تعالی نيک بندګان هميشه د خپلې خاتمې له ويرې ژاړي، سره د دې چې په خپلو نيکو اعمالو خير وي خو د خاتمې درک هيچاته نه لګيږي.

له ماسره به يې زياتره علمي بحث او مباحثه کوله، تعليم به يې ډير هڅولم، هروخت به چې ورغلم نو کوم کتاب به يې چې په کار و هغه به يې راته ياداشت کړ چې زما له کتابونو يې بل ځل درسره راوړه، حافظه يې دومره قوي وه چې د کتابونو رنګ به يې هم ياد و، د کومې مسئلې پوښتنه به مې چې ترې وکړه نو دستي به يې د کتاب نوم راته واخيست چې په فلانی جلد په فلانی باب کې يې وګوره!

وروستيو وختو کې يې موږ ته وويل چې زه تاسو ته په ميراث خپله کتابخانه پريږدم، زما د کتابونو او مدرسو خيال به ساتئ!

يوه هوښيار يوه ورځ راته وويل چې خلک خبر جوړوي او ځيني خلګ بيا تاريخ جوړوي، ستا ابا تاريخ جوړ کړی دی، د والد صاحب مرحوم دومره خاطرات راسره دي چې کتابونه ترې جوړيږي؛ خو:

ستا د ښايست ګلونه ډير دي

ځولۍ مې تنګه زه به کوم کوم تولومه

الله تعالی دې والد صيب مرحوم غريق رحمت کړي، هغه مرحوم موږ او ټول امت ته ډير لوی تاريخ جوړ کړی او هغه موږ ټولو ته درونډ مسؤليت په ميراث پرې ايښی دی، الله تعالی دې د ساتلو او پاللو توفيق راکړي. آمين

حقانیِ بزرگ؛

رادمردی از تبار قدسیان

ابو صهیب حقانی

اگر به شخصیت‌های معاصر جهادی نگاهی بیندازیم نامش درخشان، فداکاری‌اش نمایان، مبارزه‌اش تحسین برانگیز، دلسوزی و خیرخواهی‌اش مشهور، شهامت و شجاعت‌اش مثال زدنی، و داستانش سراسر حماسه و افتخار است؛ او با نام با مسمای (مولوی) «جلال‌الدین» حقانی یاد می‌شود و وقتی حکایت زندگی‌اش را به خوانش بگیری تنها چیزی که تو را شیفته و بیشتر ارادتمند آن مرد با خدا می‌کند قصه‌های پر حماسه از جهاد و مبارزهٔ آن دلیرمرد خستگی ناپذیر و فرماندهٔ قشون‌شکن جناب حقانی صاحب بزرگ است.

حقانی صاحب را همه از دوست و دشمن می‌شناسند منتها با این تفاوت که دشمن از نامش لرزه براندام شده و خاطرات تلخ شکست خود از دست آن مرد برومند را به یاد می‌آورد؛ و دوست که طبعا در یاد آن فرماندهٔ رشید کباب و در فراقش اشک می‌ریزد؛ بدون شک حقانی صاحب از شخصیت‌های ماندگار تاریخ معاصر افغانستان است تا آنجا که مشکل است از جهاد فرزندان غیور افغانستان در برابر دو قدرت جهانی (شوروی و امریکا) یاد شود و نام حقانی صاحب گرفته نشود و یا کارنامهٔ از کارنامه‌های آن مرد بزرگ ورق نخورد؛ و مایهٔ عزت و اعتبار به وارثان جهاد تلقی نشود و یا برای دشمنان درس عبرت و پند نباشد.

در دنیای معاصر که قهرمان سازی برای انسان‌ها خیلی راحت شده و هر ناکسی را قهرمان کرده و به دنیا معرفی می‌کنند و حتی بخشی از پروگرام‌های بلند مدت استعمارگران و مستشرقین در کشورهای مسلمان، همین ساختن قهرمان‌های خیالی، کاغذی و جعلی است و با استفاده از امکانات دست داشتهٔ خود و به وسیلهٔ جادوی رسانه‌ای خویش، سعی در بازتاب دادن چهره‌های دروغین، پوشالی و میان‌تهی بحیث قهرمان داشته و بسیار مواقع حتی دیده شده از افراد خاین، بدنام و کسانیکه دست شان در خیانت و خون کشور و فرزندان عزیزان آن دخیل بوده، و چهره‌های کاملا نوکر و وابسته‌اند، نماد و نقاب حُریت پوشیده، و در جوامع اسلامی از آنها در ذهن و فکر آیندگان، قهرمان می‌سازند، و چه بسا مردم ظاهربین و خوش‌باور را نیز تا حدودی بفریبند؛ در این میان، بودند و هستند الحمدلله بسی چهره‌های واقعی و آزادمردانی که لایق و زیبندهٔ القاب ارزشمند قهرمانی، اسطوره، پهلوان و شخصیت‌های ماندگار، تاثیرگذار و قابل فخر در امت اسلامی باشند و بر خلاف میدیای غرب و تبلیغات وسیع دشمنان چهره‌های که با دشمنان اسلام و خاک مسلمانان تا پای جان رزمیدند، فداکاری کرده و جان و مال خود را قربانی داده و بدون هیچ چشمداشتی از خود یک نام نیکوی ماندگار به آیندگان به میراث گذاشته باشند؛ و مولوی جلال‌الدین حقانی – رحمه‌الله – یکی از آن قهرمانان ارزشمند و ماندگار افغانستان معاصر است که تا همیشه نام آن بزرگمرد منحیث یک قهرمان واقعی و شخصیت ماندگار در تارک تاریخ خواهد درخشید.

الحاج مولوی جلال‌الدین حقانی مرحوم، تنها یک نام نیست بلکه یک تاریخ سراسر حماسه و افتخار بوده و هست، او مکتب مبارزه، جهاد، رشادت و مبارزه بود، یک منار از اخلاص و پایمردی و ایستادگی و جانفشانی در راه خدا بود. او از خودش، مالش، اولادش و همه چیزش برای سربلندی اسلام و عزت مسلمانان مایه گذاشت، هیچ چیز قلب بزرگ وی را آنقدر خرسند و خشنود نمی‌کرد مثل اخبار خوشی و مسرت مسلمانان، و هیچ چیز آن پیکر تقوا و شخصیت پاک نفس را خسته و اندوهگین نمی‌ساخت مثلیکه هرگاه اخبار غم و مصیبت، درد و فلاکت مسلمانان را می‌شنید.

حقانی صاحب مرحوم برای افغانستان کارنامه‌های بس درخشان از خود به یادگار گذاشته که کمتر شخصیتی در معاصر موفق به همچون افتخاراتی می‌شود، او چندین فرزند دلبند و نازنین خود را همانند اسماعیل ذبیح به مسلخ عشق فرستاد، و در عین حال خود همواره ابراهیم‌وار به جنگ دشمنان خون‌آشام اسلام و مسلمانان شتافت. ایشان هیچگاهی در راه عزت و آزادی کشور از هیچ چیز دریغ نکرده و در قیادت دو جهاد، سخت‌ترین روزها و مشکلات طاقت‌فرسا را به جان و دل خرید، و در تمام دوران مبارزه نهایت تلاش خود را به خاطر به دست‌آوردن و کسب رضای خدا به کار گرفت.

یکی از خصوصیات بارز مرحوم حقانی صاحب آن بود که هیچگاه به حرف و سخن اکتفاء نکرده و در راه مبارزه شعار نمی‌داد بلکه عملا جانفشانی کرده و مبارزه می‌نمود، از حرکات و وَجَنات آن بزرگمرد کاملا پیدا بود که دوست ندارد زندگی چند روزهٔ دنیا را مُفت سپری کند بلکه با انتخاب سخت‌ترین عبادت‌ها و جانفشانی‌ها ابراهیم وار در راه نیل به رضای حق گام برداشت.

خداوند متعال جای آن بزرگمرد را نکو، یادش را همیشه تازه، و راهش را همیشه پر رهرو نگاه دارد. آمین یا رب العالمین

حقانی صاحب بزرگ از نگاه یک جوان افغان

حسبی سمنگانی

از آنگاهی‌که کم‌کم با خود آشنا می شدم و با نزدیک شدن به آستانه نوجوانی، اوضاع اسفبار کشور را از زبان این و آن می‌شنیدم، شاید کم‌تر باری می‌بود که رهبران و فرماندهان جهاد بر ضد شوروی به اوصاف و القاب خوب نام برده می‌شدند، اغلبا مردم نفرین می‌فرستادند و از خیانت‌ها و معامله‌گری‌های شان می‌نالیدند. آن قهرمانان دهه شصت خورشیدی شاید دوره طلایی شان را سپری کرده بودند و اکنون با بار ملامتی‌ها سفر باقی‌مانده زندگی شان را می‌پیمودند. رسوایی بزرگ‌تر اینکه بعضی از آن مدعیان آزادگی و نظام اسلامی، به تازه‌گی به دست استعمارگران غربی دست بیعت داده بودند و با دار و دسته شان، با کمال بی مایگی دست و بازوی اشغال‌گران شده بودند.

از همین بود که برای همچو من زاده و پرورده خانواده علمی و جهادی هم، هیچ یکی از رهبران زنده، جهاد بر ضد کمونیسم، ایده‌آل نبودند، و هر قدری‌که از نقش ویران‌گرانه آن‌ها در سالیان پسین جهاد و به‌خصوص دوره خانمان‌سوز و ملوک الطوائفی جنگ‌های داخلی، بیش‌تر آگاه می‌شدم، از نقش رهبری آن‌ها بیش‌تر خسته و دل‌زده می‌شدم.

حقیقت تلخ‌تری که از دوره جهاد پیشین به یاد همگان مانده بود و بر زخم‌های افغان‌ها نمک می‌پاشید، زندگی آسوده و بی‌درد خانواده‌های رهبران جهادی بود. بر خلاف قربانی‌های چند ملیونی هموطنان ما، رهبرزاده‌های ما به‌دور از شهادت، جراحت، اسارت، در به دری‌ها و نابسامانی‌ها؛ در کشورهای همسایه و برخی شان در جامعه غربی عیش و نوش داشتند. در حالی‌که با همه کمک های فراوان مالی جامعه جهانی، زخمیان مجاهدین از اثر بی توجهی و بی پروایی تنظیم‌های جهادی، بو می‌گرفتند و جان های شان را از دست می دادند.

عقب نشینی امارت اسلامی پس از تهاجم وحشیانه چهل‌وچند کشور به رهبری امریکا و ناتو، رویداد دیگری بود که بیان از زبونی بخت ما داشت. آن زمان، جهان کفر و اسلام به هر صدای امریکا لبیک می‌گفتند و به هر اشاره امریکا می‌رقصیدند و حتی گمان ایستادگی و مبارزه دران جهان تک‌قطبی، بیهودگی و دیوانگی پنداشته می‌شد، گویا رویاهای آزادگی و وارستگی دران نخستین سال‌های قرن جدید میلادی، پیوندی با واقعیت‌های تلخ زمینی نداشت.

عجب‌تر اینکه نه تنها جهادی‌های آزادمنش دیروزی، بلکه خلقی‌ها و پرچمی‌های سخت‌جان کمونیست نیز گرد سفرهء بساط کرده امریکا جمع شدند و سوسیالیسم را بدرود گفته، از خوانِ پهن شده کاپیتالیسم بهره‌ور شدند. آنانی‌که به‌جای افغان‌ها، امریکا را عامل واقعی فروپاشی کمونیسم می‌دانستند، بیش‌تر و پیش‌تر از دیگران تلاش کردند محرومیت‌های چند ساله شان را تدارک کنند و زندگی شان را از سر نو بسازند. کمونیست‌های موسفید و کهن سالی را دیدم که برای ماموریت تازه کمر بستند.

در چنان شب و روزهای دشوار، که جهان با همه گشادگی اش برای طالبان بلکه هر افغان دیندار، مفر و مغاره ای نداشت، مبارزه استعمارشکن حقانی صاحب بزرگ، با ولوله تازه ای از شرق کشور آغاز شد و ندای ملکوتی «حی علی الجهاد» روح تازه‌ای را در پیکر ملت افغان دمید. مهم‌تر اینکه اکنون رهبری مبارزه را فرزندان رشید آن مرد سعید به زیر چتر امارت اسلامی، به دوش گرفتند و جهانیان را از دلاوری و فداکاری شان

بهت زده ساختند، مبارزه‌ای که به آستانه پیروزی نهایی رسیده، و خانواده فداکار و شهید پرور حقانی یقیناً نقش عمده ای را درین پیروزی تاریخی دارد.

اگر پس به عقب برگردیم و اندکی از صحنه‌های دردناک ایام عقب‌نشینی امارت اسلامی یاد کنیم؛ هرگاه مجاهدین صفحات شمال کشور به همراهی وزیران، والیان و قومندانان آن سمت، به لوگر رسیدند، و از آن جا نمایندگان شان برای مشوره نزد حقانی صاحب بزرگ به منطقه زنی‌خیل، خوست رفتند، مرحوم حقانی صاحب پس از شنیدن حرف های آن ها، برای شان گفت : «همیشه در خدمت مجاهدین بودیم و هستیم، و لو از هر قوم و زبان باشند، در زمان جهاد شوروی نیز من عُندی بنام سلمان فارسی رضی الله عنه داشتم، که در آن همه مجاهدین تاجک و ازبک از صفحات شمال بودند، اکنون هم همانند برادران در پهلوی همدیگر می‌باشیم، تشویش نداشته باشید، من برادر تان و در خدمت تان هستم».

در سیرت و کارنامه‌های حقانی صاحب بزرگ رحمه الله، مقالات زیاد و ارزش‌مندی به قلم رسای خبره‌گان و نخبه‌گان نبشته شده و تعریف و توصیفِ همچو ما نوآموزان، گرفتن چراغ در برابر آفتاب است، بناءً به‌جایی تذکر و یادآوری از رشادت‌ها و قربانی‌های آن سالار پر افتخار دو دوره جهاد، به نقل آن کلماتی اکتفا می‌کنم که خودش به‌مناسبت شهادت پسر- بزرگش شهید داکتر نصیرالدین تقبله‌الله به مسلمان‌ها ارائه نموده بود، کلماتی‌که حکایت از صفایی باطنی و یکرنگی قلبی وی دارد و هر دل حزین را طراوت بخش است. وی می‌گوید :

«شهید داکتر نصیر نه اولین شهید خانواده ما بود و نه هم آخرین، بلکه تمام خانواده حقانی خانواده جهاد و شهادت است، شهادت در راستای تحکیم نظام الهی و دفاع از حریم کشور، بزرگ ترین آرمان این خانواده است، من به شهادت هر شهید رشک می‌کنم که ای کاش این افتخار نصیب من می‌شد، من بخش زیادی عمر خود را به این آرمان سپری کرده ام که چه‌زمان افتخار شهادت نصیب ام می‌گردد. الحمدلله، ما و شما همه مسلمان هستیم و مسلمان‌ها شهادت در راه خدا را دوست دارند، چنانکه کافران؛ زندگی، لذت‌ها و نعمت‌های دنیا را دوست دارند».

بنده به‌حیث جوان مسلمان امروزی، هرگاه آمیختگی زیبای علم و عمل، دعوت و جهاد، و جود و فداکاری را در حیات زعیمانه حقانی صاحب بزرگ رحمه الله می‌بینم، با اینکه از کم‌تر سخنان دیگران متاثر می‌شوم، اما توصیه‌ها و فرموده‌های آن مرد نیکو خاتمه را برای معاصران خود، زاد راه می‌دانم. وی چه نیکو گفته است : «جهاد مدرسه ایست که انسان دران درس سعادت زندگی خود را می‌آموزد، این درس در دیگر مدرسه‌ها نظری اما در مدرسه جهادی عملی می‌باشد. تقوایش عملی، صداقت‌اش عملی، فداکاری اش عملی و ایثارش عملی. جنبه عمل در زندگی جهادی و تعلیمات جهادی آن‌قدر قوی است که کسی اگر آیات جهادی سوره‌های انفال، توبه و احزاب را تلاوت می‌کند و یا هم کتاب المغازی صحیح البخاری را می خواند، فکر می‌کند که عملا در سنگرهای بدر، احد، خندق و حنین قرار دارد».

چندی پیش، از پدر گرامی‌ام شیخ الحدیث قاری حبیب الله صاحب - اطال الله عمره و ادام علیه العافیه - خواهش نمودم سطور چندی در باره حقانی صاحب بزرگ رحمه الله، برای مجله سرک (څرک) بنویسند. آن‌ها در تاثرات خود نبشته اند:

«مرحوم حقانی صاحب و خانواده‌اش در چهار دهه اخیر، همواره مشغول جهاد و مبارزه بوده و در هر دو دوره جهاد ممتاز و پیشتاز بوده اند، از آغاز تا اکنون نه با شرقی ها معامله کردند و نه هم با غربی ها سازش کردند. کفار مستبد شرق و غرب واقعا از ایشان تکلیف دیدند و ناراحت شدند. اگر در گذشته از فعالیت های جهادی ایشان شوروی ها به ستوه آمدند، حالا امریکایی‌ها و متحدان شان داد و فریاد دارند. بدون تردد، زندگان این خانواده غازیان اند و رفتگان شان غازیان و شهیدان».رحمه الله تعالی.



ليکوال: الحاج خيربادشاه خدراڼ

د حقاني صاحب رحمه الله څو خاطرې او ياداښتونه!

د ستر مجاهد ورور مرحوم مولوي جلال الدين حقاني (رحمه الله) د باطني اوصافو درک يوازې الله ج ته معلوم دی، خو زه (ليکوال) چې ۷ کاله شاوخوا په سنگر، سفر او حضر کې، د جهاد له پيله تر عروج پورې، يعني هغه وخت چې پر هېواد د يرغلگرو سرو لښکرو د واکمنی شپې وې، قريباً شپه او ورځ ورسره ملگری وم، د منشي يا د احکامو د ليکوونکي په توگه مې ورسره ملگرتيا کوله، د ده د ژوند په ځينو برخو کې طبعاً يو څه اندازه معلومات او خاطرې لرم.

په همدې هوډ مې وغوښتل چې د هغه (رح) د دوهم تلين په مناسبت او له فرصت څخه په استفادې د نوموړي ځينې خاطرات او ځينې هغه اوصاف چې زما په آند بايد هر سياسي رهبر ، جهادي او نظامي قوماندان يې ولري له تاسو سره شريک کړم.

د روسانو پر ضد جهاد او د خوست فتحه:

د روسانو د شکست څخه وروسته د هغه وخت د کمونيستي رژيم زوال، الله ج د مرحوم حقاني په لاس ليکلی و.

خوست د افغانستان په سطحه لومړی ولايت و چې، د مرحوم حقاني صاحب په لاس فتحه شو.

که ووايو چې د تېر انقلاب ابتدا هم حقاني صاحب کړې وه، تېروتنه به نه وي، ځکه چې د ۱۳۵۷ هـ ش کال د ثور په ۷ مه نېټه خلقيانو د سردار داود خان پر حکومت کودتا وکړه او د حکومت واگې يې په لاس کې واخيستې. د همدغه کال او همدغې مياشتې د ثور په ۱۳ مه نېټه يعني شپږ ورځې وروسته د حقاني صاحب په قومانده مولوي عزيز خان دپکتيکا ولايت د زيروک علاقدارۍ چې اوس ولسوالي ده،فتحه کړه چې، زيات شمېر غنايم يې هم تر لاسه کړل. دغه تعرض د هماغه وخت د حکومت پر ضد لومړی نظامي پاڅون او خوځښت و، چې کمونيستان يې خورا وارخطا او کاواکه کړل.

د خبريال پوښتنې ته ځواب:

د اوسني انقلاب له پيلدو وړاندې کله چې امريکايانو د افغانستان ښکيلاک په پار تياری پيل کړ، د جرمني په بُن ښار کې د افغانستان په هکله غونډه دايره شوه. د بي بي سي يو خبريال له مرحوم حقاني رح څخه وپوښتل ،

که چېرته امريکايانو په افغانستان يرغل راووړ، ستاسو غبرگون به څه وي؟

حقاني صاحب په ځواب کې ورته وويل: که امريکايانو پر افغانستان يرغل راووړ، نو په هغه ټوپک به يې وولم، په کوم ټوپک مې چې روسان ويشتلي...

صبر او استقامت:

د اروښاد حقاني صاحب جهادي مبارزه، په خپلو مسئوليتونو کې اخلاص، تقوا، په سختيو او امتحاناتو کې صبر او استقامت به يې ښايي ډېرو ته معلوم وي، يا به يې اوريدلي او لوستلي وي، حتی سر سخته دوښمنان يې هم پر دغو ځانگړتياوو اعتراف کوي!

پر سنتو عمل:

د جهادي، سياسي، او قومي بصيرت برسېره مرحوم حقاني صاحب کوښښ کاوه چې، د ژوند هره کړنه او عمل يې، لکه خوب، خوراک، خبرې کول، خلکو سره چلند د اسلامي احکامو او د محمدي شريعت په چوکاټ کې وي.

په نفلي عباداتو کې هم ډېر جدي و، د شپې يې ۱۲ رکعته تهجد لمونځ کول معمول ګرځيدلی و، که به باد و، که باران، که به ساړه، او که د دښمن خطر، که به يې خوبه و او که به په سفر و، هيڅکله يې نه پرېښودل!

له ځان ښودنې کرکه:

کوښښ به يې دا و چې، هر نېک عمل له خلکو پټ وساتي. خو ځيني وخت به زه هغه وخت راويښ شوم چې، حقاني (رح) به په سجدې پروت و، له سينې به يې يو ډول له درده ډک دعاجزۍ او خاکسارۍ آواز راوت، عجيب کيف يې درلود. کله به هم چې دغه غږ زما تر غوږ شو، پوه به شوم چې حقاني صاحب (رح) د تهجد لمانځه ته پورته شوی.

ايثار او سرښندنه يې!

د جنګ په وخت کې به يې دخان پروا نه کوله بلکې د ملګرو حفاظت ته به يې اولويت ور کاوه، کوښښ به يې کاوه چې، ملګري يې ضايع نه شي، هغوی ته به يې د ځان ساتنې او پوره احتياط کولو سپارښتنې کولې.

که په جنګ کې به د مجاهدينو بريا په برخه وه او يا ماتې، خو دجنګ ميدان به يې ژر نه خالي کاوه، تر ډېره وخته به په ساحه کې پاتې کيده.

د فتحې پر مهال:

د فتحې پر مهال به يې د اسلام د ستر پيغمبر (صلی الله عليه وسلم) هغه ويناوې چې دمکې مکرمې د بدر او خندق په غزاګانو کې يې خپلو صحابه ؤ کرامو ته کړې وې، بار بار تکرارولې.

د غنيمت سره احتياط:

د غنيمت مال سره به يې دومره احتياط کاوه چې، د وېش لپاره به يې بل ملګری ټاکه. ځيني وخت به يې د وېش لپاره زه انتخاب کړم، د ده د ډېر احتياط له امله به له ما سره دومره وېره وه چې، خپله نيمه برخه به مې د تقسيم په مهال له لاسه ورکوله.

خو هغه (رح) به د خپلې خواخوږۍ او شفقت له مخې د ځان برخه ما ته راکوله تر څو د غنيمت په وېش کې عدل او انصاف مراعات کړل شي.

د جنګ پر مهال ملګرو ته پاملرنه:

کله به چې د اکمالاتو مسئوليت ماته را په غاړه و، د مجاهدينو د اکمالاتو په هکله به يې بار بار پوښتنې کولې:

فلانکي مورچې ته دې څه وليږل او کنه؟

فلاني قومندان ته دې څه وليږل؟

که څه هم په اکمالاتو به خبر و، خو بيا به يې هم د اطمينان او تسلی لپاره څو څو ځله پوښتنه کوله. د مجاهدينو په اکمال او پالنه کې به تل جدي و.

مورال يې:

د جنګ په ډګر کې د صبر او استقامت لوی منار و. تل به يې مورال لوړ و او د خپلو مجاهدينو د حوصلې د لوړوالي په خاطر به د جنګ په ډګر کې پخپله ګډون کاوه.

پلان او طرحه يې:

د جنګي پلان او طرحې په جوړولو کې يې خورا زيات مهارت درلود. تر دې چې د هغه وخت د کارمل د اداري فوځي جنرالان ورته ګوته په غاښ وو، په لږو مادي وسايلو به يې ډېر کار کاوه، خو تل به يې تکيه پر الهي نصرت و!

يو ورځ ترې يو انګريز خبريال وپوښتل: که تاسو د کارمل د حکومت لخوا قومندان وای دخمدرانو لاره (د خوست-ګرديز لاره) به مو د کوم پلان له مخې خلاصولی؟

حقاني صاحب رح ور ته په مسکا وویل: ایا ته غواړې چې زه خپل دښمن ته د لارې د خلاصول نقل ورکړم؟ هغه لار چې ما بنده کړې ده!

د بېوزلو سره خواخوږي،

د نیمه لېونیانو چې مونږ ورته په خپله محلي لهجه کې (پګلان) وایو ډېر محبت درلود، تل به یې هغوی نازول، د هغوی معصومیت یې ډېر خوښېده، تر خپلې وسې به یې له لېونیانو او بېوزلو سره مرسته کوله...

سخاوت یې:

په جهادي امورو کې به یې له زیات سخاوت کار اخیست، کومو ملګرو ته به یې چې اختیار ورکړ، هغوی ته به یې تل توصیه کوله چې، په مجاهدینو لاس مه موټی کوئ! هر څه چې په اختیار کې لرئ هغوی ته یې ورکوئ! ترې سپموئ یې مه! که مو ور نه کړل، په تاسو به زما له خوا بند شي او پر ما به د الله ج لخوا بند کړی شي! نو ګورئ لاس ازاد ساتئ!

له ولس سره یې برخورد!

تل به یې د لویو او وړو،خوانانو او بوډاګانو سره په ورین تندي خبرې کولې، ډېر خوش طبیعته و، په پیاده مزل کې له ډېرو مجاهدینو ګرځېدی و، د مزل په وخت کې یې داسې مجلس کاوه، چې ملګرو ته به پکې یو عبرت او درس پروت و.

خیرکتیا یې!

په انسان پېژندنه کې الله ج ډېره خیرکتیا ورکړې وه، انسان به یې ډېر ژر پېژانده، د هغه صورت او سیرت ترمنځ به یې توپیر ډېر ژر درک کولی شو.

د ملګرو خارنه او کړنو ته پاملرنه:

د ملګرو په ادلون بدلون کې خورا جدي و، که احیانا به له د کوم ملګري څخه داسې عمل صادر شو، چې جهادي صف ته به ترې زیان رسیده، ډېر ژر به یې له هغه ځایه بدلاو، په مجازات او مکافات یې باور درلود.

د مجرم په هکله به یې د هیڅا سفارش نه مانه، بلکې سفارش کوونکي ته به یې داسې قناعت ورکاوه چې، هغه به په خپل سفارش پښېمانه شو..

سیاسي دراندیشي او بصیرت یې:

ښه مې په یاد دي غالباً ۱۳۵۹ هـ ش کال و، د روسانو او د دوی د داخلي ملاتړو پر خلاف د جهاد د لومړۍ ورځې وې، مجلس مې ورسره کولو ، ما ویل چې د امریکا او ایران سیاسي وضع ډېره ترېنګلې ښکاري تاسو څه فکر کوئ امریکا به پر ایران یرغل ته زړه ښه کړي کنه!؟ خدای بخښلي یې په خواب کې له لږ سوچ وروسته راته وویل، چې هېڅکله نه ، خمیني د امریکا په لاس جوړ شوی پلاستیکي مار دی، غواړي عرب دولتونه لکه سعودي عربستان ، متحده عرب امارات ، قطر ، کویټ او داسې نور پرې وډار کړي. زما او ستا په ژوند به هېڅکله هم امریکا پر ایران یرغل ونه کړي، ځکه دغه ددوی خودساخته خطر دی. په دې سره غواړي عرب ممالکو ته وښیي چې تاسې په خطر کې واقع یاست او امنیت ته ضرورت لرئ، په دې ترتیب ترې د تیلو ذخایر لوټ او تالان کړي اوس چې کله هم امریکا ایران ته ګوتڅنډنه وکوي، ما ته د مرحوم حقاني صاحب خبره را یاده شي، چې دغه کشمکش د ځلورو لسیزو راهیسې روان دی.

شفقت او ترحم يې؛

کله به يې چې د جنګ په وخت کې د دوښمن عسکر ونيول يا به ورته تسليم شول، هغوی سره به يې ډير ښه سلوک کاوه او ښنبل به يې ، په داسې حال کې چې د نورو تنظيمونو اکثرو قومندانانو به چې په جنګ کې عسکر ونيول سمدستي يې وژل ، خو حـقاني صاحب به برعکس وطني لباس لکه کالي ، لونګۍ او څپلۍ ورته واخستل او ډېر به يې نازول. ويل به يې چې دغه خلک مجبور دي ، له څپلو کليو او باندو يې په زور کمونستان را ټولوي او عسکرۍ ته يې راولي. نو د دوی سره بايد سم وضيعت او ښه هرکلي وشي.

حتی څينو تسليم شويو عسکرو ته به يې له خانه يو ميل اسلحه هم د جهاد په نيت ورکوله. وروسته به يې د دغه کار حکمت هم ظاهر شو، چې الله ج به د هغوی څخه هم د جهاد په لار کې لوی کار واخيست ، هغه عسکر چې اوس ژوندي دي او زما دغه ليکنه لولي په دغه کړنلاره به يې هرومرو شاهدي ورکوي. دا د هغه داسې خانګړتيا وه چې د حقاني صاحب ملګري مجاهدين يې له نورو تنظيمونو بېلول.

د حقاني صاحب د ورور خليل الرحمن حاجي واقعه

مرحوم اتل حقاني صاحب نه يوازې خان بلکې خپل خپلوان او د کورنۍ غړي هم په تل د جګړې په اول خط کې ساتل ، ډېر وخت به يې بې ضرورته اجازه نه ورکوله، چې کور ته لاړ شي.

خو يو ځل چې ۱۳٦۰ هـ ش کال وو غالباً د قوس مياشت وه، د پکتيا په شاهي کوټ کې زمونږ مرکز وو. د ځدراڼو د دوو قومونو په منځ کې د کومې حقوقي مسألې په سر شخړه وه.

حقاني صاحب د څينو ملګرو سره د دغه مسألې د حل او فصل په نيت زمونږ له مرکزه لاړ ، او پر ځای يې د شاهي کوټ د مرکز د امر په توګه زه وټاکلم. دلته زمونږ سره تر ۳۵ پورې مجاهدين پاتې شول، چې کابو هر يوه يې په سنګر کې ۸ يا ۹ مياشتې وخت تير کړی وو او کورونو ته له ډيرې مودې راهيسې نه وو تللي ، په دغو کسانو کې د حقاني صاحب کشر ورور خليل الرحمن هم راسره پاته وو ، هغه ته يې چې په همدې شپو ورځو کې نوی واده کړی و؛ خو کور ته حقاني صاحب د ژر تګ اجازه نه ورکوله.

کله چې مونږ خبر شوو چې حقاني صاحب د سراني عمومي مرکز ته ورسيد، ما خليل الرحمن ته وويل چې اوس موقع ده او ته لاړ شه کور ته ، د حقاني صاحب اسپې او اسان هم درسره بوځه هوا يخه ده ته به کور ته هم پرې ورسيږې او حقاني صاحب ته به مو هم بهانه جوړه شي، چې که يې پوښتنه راته کوله چې خليل الرحمن ته دې ولې اجازه ورکړې ده. زه به ورته ووايم چې اسپې او اسان يې کور ته بيول؛ خليل الرحمن مې رخصت کړ.

کله چې مونږ مرکز سراني ته ور نقل کړ، د سترې مه شې نه وروسته حقاني صاحب راته وويل چې خليل الرحمن دې څه کړ؟ ما ورته وويل، چې هغه اساپې او اسان کور ته ورسول ، دلته مرکز کې ساړه هم زيات وو او د خوراک لپاره يې څه نه وو!

راته و يې ويل چې بل څوک نه وو، چې تا خليل ليږلو؟ زه يې خوابه شوم او له کوټې ووتم، او همدا وجه وه چې دوه ورځې يې خبري راسره نه کولې . .

اګر چې ما ډېري تېروتنې کړي دي خو هيڅکله يې زما په تېروتنو او سهوو دومره زړه نه دی بد کړی چې خبري راسره بندي کړي خو د خليل الرحمن په رخصتي باندې زما څخه ډير خفه شو ،که مې نورو لسو مجاهدينو ملګرو ته د تګ اجازه ورکړې وای بيا يې هم هيڅ پوښتنه نه راکوله .

چې ليکنه رانه اورده نشي، د مرحوم مشر حقاني صاحب د سولې د هڅو، مبارزو ، جهاد او قربانيو په اړه ډېر نور ناويلي خاطرات بل وخت ته پريږدم اوس به همدومره بس وي

پای....

☆☆☆

د فکري جګړې!

اصول، اهمیت اوضرورت!

لومړی محاذ: استشراق (ختیځ پوهنه) (ORIENTALISM)

وسلوال جنګ بایللو وروسته داروپا مفکرانو، سیاستوالو او مذهبي پوپانو په ګډه داپریکړه وکړه چې داسلام او مسلماتانوپرخلاف دمخامخ جګړې د دوام ترڅنګ له فکري عقیدوي،اونظرياتي محاذڅخه هم جګړې کولوته اړتیا ده؛هغه وچې دفکري جګړې دپیل اوپرمخ بیولو لپاره یې دجلاافرادو اوجنګیالیو په روزنه لاسون پورې کړل،دخپلوهیوادونو ذهین ځوانان یې عیسوي زده کړو ترڅنګ داسلامي علومو لوستلوته هم کینول،اوبیاددې لپاره چې مسلمانان فکري جګړه داسلام او مسلماتانوپرضد محسوس نکړي ولګیدل دفکري جګړې دلومړي محاذ جنګیالي یې «ختیځو پوهان اودختیځو علوموڅېړونکي ونومول»کومو ته چې په عربي کې مستشرقین وايي،مستشرق یا استشرق لفظ له «شرق» څخه وتلی دی،داروپایانوپه اند:شرق(oricnt) د دوه معنی ګانو لپاره کارول کېږي (۱) له کوم سمت یالوري څخه چې لمرراخیږي هغه شرق دی(۲)دروم سمندرګي نه رادېخوا هیوادونه.

لومړی معنی له لحاظه په مشرق کې یواځي اسیایي هیوادونه راځي،زکه داروپا ختیځ جهت ته واقع دي، او دویمې معنی له مخې آسیا نه علاوه داروپا په جنوب کې پرته افریقا هم په دې مفهوم کې راځي.

داستشراق اصطلاحي معنی یا تعریف:

عربي علماوو داستشراق تعریف دا کړي دی.

دِرَاسَةُ الغَربيين للشرق الاِسلامي،حَضَارَتَهُ وَاديَانه وَآدابهُ ولُغاتِه وتَاريخَه وَثَقافَاتَه وعَادَاته

دلویدیځوالو له لوري دختیځ اسلامي نړۍ دتهذیب، ادیانو، ادابو، لغاتو، تاریخ، ثقافت، اوعادتونو زده کړه کول

کوم خلک چې په یادوبرخوکې زده کړې اویا څېړنې کوي هغوی ته مستشرقین(ختیځ پوهان) ویل کېږي

حاصل داچې ختیځ پوهان هغه مغربي پوهان دي څوک چې د دیني تعصب له عینکومشرقي علوم خصوصاً اسلامي علوم وفنون مطالعه کوي څو داسلام په مصادروکې په ګډوډیوکولو اسلامي روح متاثروګرځوي او دهغه د داصل شکل وصورت په ورانولوسره دهغه پر عظمتونوداغ پورې کړي

دختیځ پوهنې(استشراق) تاریخ

تاریخ پوهان د ختیځ پوهنې تاریخ په ۶ دورو ویشي:

لومړی دور:دلومړي هجري قمري کال نه تر۷۰۰ هق کاله:

دا دور درسول الله صلی الله علیه وسلم لخوا مدینې منورې ته له هجرت کولوپیلیږي اودصلیبي جنګونوپه پای ته رسیدو سره پای ته رسي،دراشده خلافت دورکې،اموي دورکې دیهودي علماوو اوعیسوي پوپانو له لوري په خورا چل وهنر سره په اسلام باندې دنیوکو لړۍ روانه وه،خوهغه

مهال ورځخه مسلمانان قطعاً متاثرنشول،په هغه دورکې کافرانوپه طب، کیمیا، ریاضي،زراعت او ادب پشان علوموکې دمسلمانانو شاګردي غوره کړه په اروپاکې دمسلمانانولسګونه کتابونه غوره او وژباړل شول،بوعلي سینا،جابربن حیان، الفارابي او دابن رشد کتابونه په خپلي ژبوکې ځای کړای شول، ددې دورې په وروستي مرحله کې دلومړي صلیبي جنګ وروسته فرانسې، برتانیې،اتالیا او هسپانیې کې پوهنتونونه دود شول په کوموکې چې دعیسوي دین دزده کړو ترڅنګ قانون، طب، دانخورګرۍ زده کړې هم ورکول کېدي.

دوهم دور:۱۳۰۰از.نه تر۱۸۰۰از.پورې:

د«لوئیس نهم» له سوچ څخه اروپاکي بیدارې راغله، اروپایانو کې دپوهې اودحل وعقد خاوندانوپه علومو او فنونوباندې دلګیدلوغوتوپه پرانیستلولاسونه پورې کړل.

صلیبي جنګونوڅخه وروسته په ۱۳۱۲ زکې اروپایي پوهانوپه یوکانفرانس کې داطی کړه چې مشرقي علوم پخپلو تعلیمي نصابونو او تدریسي- اداروکې ورګډ کړي، ددې پریکړې لاندې پنځواروپایي پوهنتونوکې عربي واسلامي علوم تدریسول شروع شول،تر ۱۵مې او۱۶مې عیسو پیړی پورې تولې اروپاته دختیځ پوهنې(استشراق) دایره وغځېده اوپه ۱۷ مه عیسوي پیړۍ کې دفرانسې پاچا« لوئي څوارلسم»ختیځ پوهانوباندې عربي کتابونه وژباړل اوهم یې دعربوپه تاریخ باندې نوي کتابونه ولیکل،په کوموکې چې عربي ملت پالنه ستایل شوې وه، څودعثماني ترکانوپخلاف فضاجوړه کړي

ددغې دورې ځینوختیځ پوهانو دپخوانیوختیځ پوهانوپه کارونونیوکې هم وکړې اوپه اسلام باندې دهغوی لخواځیني شبهات یې کمزوري وګرځول او ددې ترڅنګ هغوی پخپله اسلام باندې نوي اعتراضات وکړل

دریم دور...۱۸۰۱ ز نه تر۱۹۲۴ زپورې:

داستشراق دریم دور هغه وخت کله داروپا لښکرو غوښتل اسلامي هیوادونه محکوم وګرځوي،او ختیځ پوهانو اروپایي سیاستوال دمحکوموقوموتو له علومو، تاریخ، جغرافیې،شعروادب او تهذیب وثقافت نه اګاه کړل، څو هغوی یې په اسانه لاندې کړای شي ،هغوی داسلامي تاریخ په ځای عربي تاریخ متعارف کړ اودغیر عربو په خاصه توګه دترکانو کرداریې مسخ کړ، د استعمارپخلاف جنګیدونکي مجاهدین یې بدنام کړل، حقیران اوناپوهان یې وړاندې کړل،په احادیثو، او داحادیثو په رویانویې حملې وکړې،داسلامي نړۍ دمختلفو دلوترمنځ شته اختلافات یې په نعرتونو بدل کړل اوپردې علاوه په زرګونو اسلامي کتابونه یې داروپا زیاترو مشهورو ژبوته هم وژباړل

تردې چې مستشرقینو په داسې موضوعاتوهم کاروکړ چې له امله یې مسلمانو علماوو هم دهغوی تعریفونه وکړل، ځیني نایاب اسلامي متون یې تلاش کړل اوبیا یې هغه دتصحیح سره خپاره کړل،څو ددې ترڅنګ یې یوشمیر مهمې نسخې هم داسلامي نړۍ خصوصاً له عربانوڅخه وپیرلې اوبیا یې خپلو کتاب خونوته په غلا ورسولې

څلورم دور.... ۱۹۲۵ ز نه تر۱۹۷۵ پورې:

په څلورمه دوره کې مستشرقینوپه اسلام باندې په نیوکو کولوسره دا هڅه وکړه چې داسلام کمزوره اوبې اصله ثابتولوپرځای دیونوي اسلام دایجادولو ناکامه هڅه وکړه،هغه داسې چې پخپله خوښه اولید یې داسلام تشریح کولو کوښښونه وکړل،څویو داسې نوی اسلام رامنځته کړي،چې لویدیځ ته دمنلو وړوي،داستشراق په شکل کې ددې لوی بدلون یو اهم لامل دکمیونزم ظهور و،ددې نوي محاذ په وجه مستشرقینو په مؤقته توګه داسلام باره کې خپله لهجه نرمه کړه

پینځم دور..... له ۱۹۷۳ زنه تر۲۰۰۰ز.پورې:

دلویدیځ دنړیوالوپلانونو او ارادوپر وړاندې دختیځ پوهنې مفهوم په محدودیدو سره په ۱۹۷۳ ز کې دفاریس کانفرانس کې لویدیځوالو خپله ختیځ پوهنې(استشراق) اصطلاح دترکولو پریکړه وکړه اوپر ځای یې دنړیوال نظام(عالمګیریت (Glodalization)اصطلاح وړاندې کړه،په

۱۹۹۱ زکې شوروي له شکست وروسته امریکا دتولې نړۍ دواک واګو نیولو لپاره رامخکې شوه، اوپه سرپرستۍ کې يې ختیځ پوهانو دراسخ العقیده مسلمانانوپرضد کمپاین شروع کړ

په اوسني دورکې..دامریکایي اویهودي استشراق کردار:

د۲۰۰۱ ز.دستمبر له۱۱مې را وروسته داستشراق تولې واګې دامریکا لاسو ته ورغلې،نن، استشراق یومخ امریکایې او یهودي استشراق دی،کوم چې دامریکایي یهودي لابي په سرپرستۍ کې چارې پرمخ وړي،له مشتریوڅخه نیولې تر«فري میسیزیانو» پورې دبې لارۍ او ګمراهۍ هرمظهرته دامریکایي استشراق مرسته حاصله ده

داستشراق اسالیب:

دمستشرقینو دڅیړنو او دهغوی دکړو وړوصورتونه درې دي:

۱ – داستکشاف اسلوب(تحقیقات او انکشافات)

پر دې سبک ورانـدې شـویو مـوادوکې پـه ښـکاره تحقیق،انکشـاف،او دعلـم اشـاعت مقصـود ښـکاري،له مسلمانانو یا مشرق څخه دکوم بغض اظهارنه بریښي، په دې وجه دلوستونکوزړونه دهغوی دڅیړنوپه لورمایل کېږي

داختلاط اسلوب(دملاوټ سبک)

تردې اسلوب لاندې شویو تحقیقـاتو اوکتـابونوکې پـه خورابـاریکۍ سره پـه اسـلامي مأخـذونو اومعتـبرو اسـلامي شخصیتونوباندې دمسلمانانو دعقیدت کمولو اودهغوی دباور مجروحولو هڅه شوې ده

دالعدوان الواضح اسلوب(دښکاره دښمنۍ سبک)

ددې سـبک پـه مـوادوکې اسـلام سره دښـمني داګـېـزه شوې،مستشرقین اسلامي عقایدو او محمدي صـلی اللـه علیـه وسلم شریعت باندې حملې کوي درسول الله صلی اللـه علیـه وسلم اوصحابه ووپه شان اود اسلامي شعایروپه اړه دطنزونو اوسپکاوي کولوله جسارت څخه هم دریغ نکوي

دختیځ پوهنې(استشراق) محرکات:

دمستشرقینو دهلوځلو لوی محرکات پنځه دي:

۱ – دصلیبیت محرک ۲ – سیاسي او اسـتعماري محـرک ۳ – دفاعي محرک۴ – تجارتي او اقتصادي محرک، ۵ – علمـي محرک

ختیځ پوهان ددیني تعصب په جوش کـې تـرسره کـړې څېړنـې داسـلام اومسـلمانانو پرضـددیوې وسـلې پـه توګـه استعمالوي او دنصرانیت دبرې او غلبې لپاره پراخ کوښښـونه کوي.

او هم د لاندې اهـدافو یـا موخـو ترلاسـه کولـو لپـاره ګرندۍ هڅې کوي :

۱,۱... اسلام له اوسني یهودیت او نصرانیت دواړونـه مأخوذ شوی دین ښودل...

یعني ختیځ پوهان اسلام وروستی او افاقي دین نه مني؛ بلکې دپخوانیو ادیانو یوه نقالي يې بولي (نعوذبالله)

۲,۲.... په نبوي رسالت کې شکوک پیدا کول

ختیځ پوهان درسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت په اړه شکوک وشبهات پیدا کوي وايي:محمد صلی الله علیه وسلم یو کامیاب قاید اومفکر و،مګر دالله تعـالی درښتوني پیغمبرپه توګه وریاندې باور نلري

۱...۳په قرآن مجید کې شکوک وشبهات پیدا کول:

عموماً ددې خـبرې پـه ثبـوت زور راوړي چـې عظـیم الشـان قـرآن دمحمـد صـلی اللـه علیـه وسـلم تصـنیف دی؛ اواسماني کتاب ندی (معاذالله)

احادیثو کې شکوک وشبهات پیدا کول:

دمستشرقینویو لوی هدف نبوي احادیث دي،هغوی پـه دې باره کې نیوکې لري،دکوموڅوابونه چـې ددینـي علـماوو لخوا ورکړل شوي دي.

۱,۵... ضعیف اوله ځانه جوړروایتونه خورول:

مستشرقین یولورته داحادیثوپه مستندومأخذونو نیوکې کـوي او بـل لورتـه ضـعیف اولـه ځانـه جـوړ روایتونـه پخپلوڅیړنوکې د دلایلوپه توګه استعمالوي او دهغو اشاعت کوي

۱,۶... په اسلامي فقه برید:

اسلامي فقه کې دنیمګړتیاوو ویستو سربیره هغه د رومي قانون څخه مأخوذه بولي

۱،۷دتنصیر(تثلیث عقیدې خپرول)

دمستشرقینو اکثریت چې عیسویان دي،نړۍ عیسوي ګرځول یې لوی هدف دی، ددې لپاره دتثلیث عقیدې داثبات بیساري کوښښونه کوي.

سیاسي او استعماري محرک:

دزیاترو مستشرقینو دکوښښونو محرک سیاسي او استعماري دی. دهغوی لوی شمیر داستعماري خواکونو لپاره کارکوي،چې اهداف یې په لاندې ډول دي:

۲،۱... اسلامي عادات اوټولنه مطالعه کول:

مستشرقین داسلامي ټولنې تهذیب،کلتور، ادب،او ارزښتونه باقاعده زده کوي څو له زمکنیو حقایقو سره سم دخپلو حکومتونو رهنمائي وکړي

۲،۲.... داسلامي هیوادونو ژبې یادول:

مستشرقین داسلامي هیوادژبې زده کوي څو دسیاست،سفارت،تجارت،اوجاسوسۍ کولو لپاره یې استعمال کړي

۲،۳....په عربي ژبه برید:

مستشرقین ددې لپاره چې مسلمانان دخپل دین څخه لرې کړي،عربي ژبې سره دهغوی رشته له منځه وړل غواړي،هغوی دعربي په فصاحت باندې دنیوکوکولو سربیره هغه کې داروپایي ژبو دالفاظونویستو اوداصلي حالت دړنګولو کوښښ یې کوي

۲،۴...په عربي نړۍ کې پخوانۍ متروکه ژبې بیا دودول:

په عربوکې هلته پخوانۍ اومتروک شوې ژبې بیا ژوندۍ کول غواړي څود عربو پېژندګلوې لمنځه یوسي.

۲،۵...کفري ژبواوبازاري لهجوته پاملرنه ډېرول...

هندوستان اوبنګله دیش کې دمسلمانانودژبو(اردو اوبنګالي) په مقابل کې هندي ژبې ته دترقۍ ورکولو کوښښونه دوی روان کړي او هم دمیډیا له لارې داسلامي ژبو په مقابل کې کفري ژبو دترقۍ لپاره کارونه کوي

۲،۵.... اسلامي نړۍ کې د اروپایي ژبو خورول:

مستشرقین په اسلامي نړۍ کې اروپایي ژبې عاموي،په مراکش کې هسپانوي،الجزایرکې فرانسوي، لیبیا کې اټالوي،پاکستان، هند،بنګال،افغانستان اونوروو اسلامي هیوادوکې انګریزي ته فروغ ورکوي چې له امله یې دمسلمانانوځایي ژبې له سختوګواښونو سره مخ دي.

۲،۷... د مسلمانو قبایلو،هیوادونو،حکومتونو او ډلوټپلو ترمنځ دنفرت اوورونه بلول:

مستشرقین داسلامي نړۍ دبېلابېلو ډلوټپلو، نسلونو،ولسونو، اوهیوادونو ترمنځ دنفرتونو خورولو لپاره له میډیا اورسنیوڅخه بیدریغه کار اخلي،ځکه چې مسلمانان پخپل منځ کې په اختلافاتو اوکورنیوجنګونوکې ښکېل وي نود سیاسي پلوه متحد او پیاوړي کیدای نشي

۲،۵... مغربي تهذیب اوژوندته مصنوعي ښکلا ورکول:

مستشرقین مغربي تهذیب اوژوند ته په مصنوعي ښکلا ورکولو سره غواړي چې عام مسلمانان دکمترۍ له احساس سره مخ کړي،اوهغوی پخپله،خپله ټولنه یوه حیواني ټولنه وګڼي،اوداسې وانګیري چې بس انسان یواځې په اروپا کې مندل کېږي،مستشرقین ددې ذهنیت په جوړولو سره مسلمانانوته ترغیب ورکوي چې دیني ژوند له دایرې څخه دې ځانونه رابهرکړي ،دمغرب پیروي دې وکړي او دفرنګي تهذیب دې ومني اوهمداسې کول دې ځانو عزت او سرلوړي وبولي.

۲،۹.... له طبعي پلوه مسلمانان کمزوري اوناپوهان ګرځولواو دکمترۍ په احساس کې دهغوی مبتلی کول:

اکثرمستشرقین مسلمانان دهمدردۍ په لهجه غواړي قصداً نهیلي کړي، او له طبعي پلوه یې کمزوري او ناپوهان ښیي،ددې مواد او اولیکنوپه لوستو عام مسلمانان داسې احساسوي چې دنیاکې دوی کوم خاص حیثیت نلري او

مسلمانان دقوم په حیث داصلاح ورنه دي اودا دکمترۍ احساس هغوی بیکار اومعطل ګرځوي.

۲٫۱۰...دجهاد ناسم تاویلات کول:

مغرب همیشه دمسلمانانو دجهادي جذبې څخه وار احساسوي، د دې لپاره مستشرقین زیار باسي چې مسلمانان دجهاد څخه لرې کړي،او ددې لپاره ډول، ډول تاویلات وړاندې کوي.

۳ – دمستشرقینو دکړو وړو بل محرک له ځانو دفاع کول دي،او ددې لپاره داسلام څخه دخلکو متنفرکولو لپاره مواد خپروي اوهغه کوم خوانان چې داسلام په لورمیلان یا رغبت لري دهغوی مخنیوی کوي څو هغوی که پخپل دین باندې کلک پاته نشي اولږترلږه له اسلام څخه به لرې شي.

۴ -تجارتي او اقتصادي محرک:

دمستشرقینو دهلو څلوترشاسوداګریزمقاصد هم دي،مغربي خپرندویه ټولنې دسوداګریزو ګټو وټولپاره په مشرقي موضوعاتو باندې تصنیفي اوتحقیقي چارې ترسره کوي اوبیا په ټوله نړۍ کې هغه کتابونه پلوري اوله لارې یې پریمانه دولتونه ترلاسه کوي.



۵ علمي محرک:

ځیني مستشرقین علمي ذوق هم دیته مجبورکړي دي چې مشرقي موضوعاتوباندې څېړنې وکړي،دهغوی دتصنیفونواوڅېړنو معیار له عامو مستشرقینوڅخه جلا او غوره دی، دهغو تصنیفونوګټه پر خپل ځای خو په مسلمانانوکې دعامومستشرقینو دګمراه کوونکو کتابونو د خوریدو سره هم مرسته کوي لکه پښتانه وایي: ستا له خیره مې توبه ده: سپي دې رانه ګړي کړه! اوس دهغومستشرقینو بې اوګټورې څېړنې هم ددې متل مصداق دي ...

دمستشرقینو دوه موخې:

۱ – داسلامي عقایدو اوشریعت لمنځه وړل

دهغوی دکوښښونولومړی اواهم ترین مقصد اسلامي عقاید،او اسلامي شریعت لمنځه وړل دي

۲ – مغرب داسلام څخه لرې ساتل:

دهغوی دویم اهم هدف دمغربي نړۍ خلک داسلام څخه لرې ساتل دي

داستشراق وسائل:

عموماً داستشراق وسائل په دوه ډولونو ویشل کېږي:

۱ – مخامخ ذرایع

۲ - بالواسطه ذرایع

۱ – دمخامخ ذرایعو لاندې کوم وسایل چې راځي هغه ډیر اهم دي اوپه لاندې ډول دي:

۱ – کتابونه۲ – تراجم ۳ مجلې، اوونیزې، ورځپاڼې اونور...۴ – کانفرانسونه، سیمینارونه اوکنوانسیونونه ۵ – دائرة المعارف (انسایکلو پیدیا)۶ – برښنایي میدیا (راډیو، سینما،تلویزون،انټرنیټ، موبایل اوخواله رسنۍ)

په بالواسطه ذرایع کې لاندې وسایل دیادولو وړدي:

۱ دمستشرقینوپوهنتونونه

۲ - دلویدیځوپوهنتونو اسلامي اومغربي فاکولتې۳ – دمستشرقینوشاګردان

دختیځ پوهانو(مستشرقینو) دبحث معیارونه:

۱ – ختیځ پوهان ترټولو دمخه تحقیق دیوهدف لپاره پیلوي.

۲ دهغه وروسته مناسبه موضوع غوره کوي.

۳ – دقــران وحــدیث نــه واخلــه ترتــایخي،ادبي، شاعري،اوسفرناموپورې کتابونه لولي اوله هغونه داړونده موضوع لپاره مواد ترلاسه کوي اوبیا تـرې دخپلـې مطلوبـه نظریې دتعمیر نقشه تیاروي

۴ – یوه بې اصله خبره دملمع کارۍ په ذریعه په داسې راښکونکې سبک کې وړاندې کوي چې په هـر لوسـتونکي زیات تاثیرفریباسي

دختیځ پوهانو (مستشرقینو) د بري رازونه:

دمستشرقیودبري رازونه په لاندې ډول دي:

۱ -مستشرقینو ته دهرډول وسایلو او اسانتیاوو پریمانـه شتون

۲ -حکومتونو او ادارو لخوا دهغـوی پـوره سرپرسـتې کیدل

۳ – دمسلمانانو ناپوهي

۴ – انګریزي څخه دمسلمانانومرعوبیت

۵ – دمسلمانانو دعلمي طبقې چوپتیااو داستشراق فتنې نه پیژندل

۶ - داستشراق پخلاف دکارکوونکو علمي کـدرونو لپاره مناسب کـاري مـاحول نـه برابـرول اودهغـوی ترغیـب اوتشویق نه کول

دختیځ پوهانو موضوعات:

ختیځ پوهــانوپخپلو کتــابونو، مقــالو، وینــاوو، او لیکنوکې عموماً لاندې موضوعات تر بحثونو لاندې نیسي:

۱-دالله تعالی ذات ۲- درسول الله صلی الله علیه وسلم رسالت۳ -قرآن مجید۴ - داحادیثو زخیره ۵ – اسلامي فقه ۶ – لغة القرآن، عربي۷ – درسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت۸ – اسلامي تاریخ ۹ – الفرق الاسلامیه ۱۰- الدّول الاسلامیه ۱۱ – اسلامي خوځښتونه اونهضتونه.

داستشراق مقابله څنګه کیدای شي؟

داستشراق د مقابلې لپاره پـه اوسـني دورکې اسلامي پوهانو او علماووکوم وړاندیزونه مرتب کړي دي دهغـو تولو لنډیز دادی:

۱ -داسـلامي نـړی پـه تعلیمـي نصـابونو کـې دي « الغزوالفکري» ځای کړای شي

۲ – داستشراق دمقابلې لپاره دي مستقلې اداري جوړې کړای شي یا لږترلږه په دیني اوعصري تعلیمي اداروکې دي ددې لپاره تخصصي څانګې جوړې کړای شي

۳ – په اهمو موضوعاتودي دومره معیاري کـار وکـړای شي څو دمستشرقینوکارختثا کړای شي

۴ – دتحقیقي کارلـه لارې دمستشرقینو دسیسو،ناسمو برداشتونو او دهغوی په جهالتونو ناقابل تردید دلایل ښکاره اووړاندې کول.

دځو مشهورو مستشرقینوپیژندګلوي:

ولیم میور :(۱۸۱۹-۱۹۰۵)

دایوپـادري و،دوه کتابونـه یـې« دمحمـد حیـات» او« القرآن تالیفه وتعالیمه» ډیر مشهوردي،په «حیات محمد» کې ځای پر ځای یې په رسول الله صلی اللـه علیـه وسـلم بانـدې نیوکې کـړې او دنبـوي رسـالت مشـکوک ګرځولو ناپـاک جسارت یې هم کړی دی

اګنازګولډیزیهر(۱۸۵۰ ۱۹۲۱)

دا یو متعصب یهودي مستشرق و،تردې چې داستشراق پـه مجـددینوکې شـمارل کیږي،داسـلامي عقایـدو،شریعت اوقرآن پاک او احادیثوپه اړه یې متعصبانه لیکنې لیکلې،چې پـه هغـوکې دادیـانو تـاریخ، التفسیرالاسـلامي او العقیـدة والشریعة دیرمشهور دي

تامس آرنلد(۱۸۶۴ز-۱۹۳۰)

دا په معتدلو مستشرقینوکې شمارل کیږي، دده کتاب «د اسلام دعوت» ډیر زیات مشهور دی.

استنلي لین پول(۱۸۶۹-۱۹۳۱)

په سلطان صلاح الدین ایوبي بانـدې دمعتـدل تـاریخي کارکولو په وجه اسلامي نړی کې مشهوردی، اوبنـده صـلیبي جنګونوپـه لیکلـوکې دده لـه کتـاب څخـه ګـڼ اقتباسـات اوشواهد راوړي دي

پرنس لیون کایتاني:(۱۸۶۹-۱۹۳۱)

په عربي اوفارسي دواړوکې ماهر اټالوی فروفیسرو او مشهورکتاب یې « حولیات الاسلام» کوم چې په لسو ټوکونوکې دی او داسلامي تاریخ په اړه دمستشرقینو عمده مأخذدی.

هنري لامیس(۱۸۶۲-۱۹۳۷)

دعیسوي پوهنتون بیروت دامستشرق دمشنریانو سرکرده غړی او داسلام په باره کې زیات متعصب و،په راشدینو خلفاوو اوبنو امیه وو باندې په نیوکو کولو کې یې کمی ندی کړی

ای جي وینک:(۱۸۸۲-۱۹۳۹)

ده « المعجم المفهرس للحدیث النبویه»او دهغه تلخیص« مفتاح کنوزالسنة» په لیکلو یې داسلامي له علماوو څخه داد ترلاسه کړی، خو دده په نورو کتابونوکې له اسلام سره تعصب اوحسد ښکاره اوجوت دی

سمویل زویمر۰(۱۸۶۷-۱۹۵۲)

ددې امریکایي پادري اسلام دښمني ضرب المثل ده هغه مشنریانوته داسلام پخلاف د دلایلو پیداکولو لپاره په درجنو کتابونه لیکلي دي.

این میري شمل:(دجرمني دانومیالی مستشرق، عمرانیات،لسانیات،اوداديانو دتاریخ ماهر و او د اقبال او مولانا روم سره یې ډیره علاقه وه،له فارسي،اردو اوترکي ژبوڅخه منتخبه شاعري په جرمني او انګریزي کې ترجمه کړې ده

برنارډ لویس(۱۹۱۶ز)

دا اوسني دور ترټولو لوی یهودي مستشرق دی په اسلامي تاریخ،اسماعیلیه،حشاشینو اود عربي نړۍ په مسائلو او اسلامي تحریکونو په اړه یې هم ګڼ‌کتابونه لیکلي دي

اوس رازو دمستشرقینو ددې کوښښونو اوعلمي زیار پایلوته،داسلامي نړۍ ثقه اومعتمد دیني عالم اومفکر مولانا سید ابو الحسن علي ندوی رحمه الله لیکلي:

دموجوده اسلامي نړۍ دمشرانو او واکمنو(چاچې عموماً په لوړومغربي پوهنتونوکې زده کړې کړي دي،اویایې داچې په مغربي ژبوکې یې اسلام مطالعه کړی دی) په دماغوکې یې داسلامي ماضي په اړه بدګوماني،او دهغه دحال نه بېزارې او دمستقبل نه نهیلي،داسلام وداسلام دپیغمبر او اسلامي مأخذونو په باره کې دشکوکو اوشبهاتو پیداکولو او« ادیانو اصلاح» او «داسلامي قانو اصلاح» په هغه طرزکولوته اماده کول دي چې بېلګې یې وړاندې راوړل شوې، ډیره لویه برخه دهغو مغربي علماوو ده چاچې داسلامیاتو دمطالعې لپاره خپل عمرونه وقف کړي دي او وړ ته په عامه توګه مستشرقین ویل کېږي کوموته چې دخپل عملي تبحر،تحقیقي ژورتیا،او مشرقیاتوسره دژوربلدیت په وجه دمغرب ومشرق کې په علمي اوسیاسي حلقوکې په احترام کتل کېږي او تردې چې داسلامي مشرق داسلامي مباحثوپه اړه دهغوی څېړنې او نظریات وروستی حرف اوقول فیصل ګڼل کېږي.

مولانا ندوي رحمه الله وړاندې لیکي:

مستشرقین عموماً په مشرق کې دمغربي حکومتونو او دهغوی دواک لومړی ټولګی پاته دی،مغربي حکومتونوته علمي کومک اورسد رسول دهغوی دنده وه،هغوی خپلو حکومتونو ته دمشرقي قومونو او هیوادونو درسمونو، رواجونو اوادبیاتوباره کې داروپوهنې او دهغوی دجذباتوپه اړه سهي او تفصیلي معلومات ورکوي، څو پر هغوی دمغربیانو لپاره حکومت کول اسانه وي، ددې ترڅنګ هغه حالات، تحریکونه، عقاید اواندونه څېړي کوم چې دمغربي حکومتونو لپاره دپریشانۍ اواندېښنوباعث ګرځي، او کوښښونه کوي چې هرځای داسې علمي فضارامنځته کړي چې د ځایي مغربي حکومتونوپرخلاف چا سره دمخالفت تصور هم پیدا نه شي او د دوی دتهذیب او خدمتونو دومره قدرداني وکړي چې په ځایي خلکوکې داصلاح او ترقۍ په پلمه دمغرب په نقش قدم دتګ داسې جذبه راپورته شي چې هلته دمغرب دمخامخ واک لرې کېدو وروسته هم له ذهني اوکلتوري پلوه دمغرب راج پاته وي. نور بیا...

ترکان، تر عثماني خلافته!

لیکنه: عبدالغني میوندي

ترک قوم ته "بنو قطورا" هم ویل کیږي،قطوراد ابراهیم علیه السلام وینځه وه، ترکان د هغې اولاد دی.

د ترکانو ځمکه د ختیځ خراسان څخه بیا د چین لوېدیځ پورې،د هند د شمال په منځ کې واقع ده.

د تاریخي روایاتو مطابق د حضرت نوح علیه السلام د زوی یافث په اولادونو کې دیوه نوم "ترک" وو،د نومړي اولاد دمشرق په ښارونو،منګولیا،چین اوداسې نورو سیمو کې آباد سول، بیا د ترک بن یافث بن نوح په اولاد کې د "النجه خان" په نوم یو سړی وزیږېده،دهغه دوه زامن وو:

(۱) مغول. (۲) تاتار.

د دوی څخه د مغول او تاتار قومونه پیدا سول،چې په تاریخ کې د"ترک، مغل، تاتار او ترکمان" په نوم پېژندل کیږي.

د ترک بن یافث داولادنو په قبیلو کې یوه قبیله د "سلجوقي" په نوم وه، تر ټولو لومړی همدې قبیلې اسلام قبول کړ.

دغه قبیلو په غرونو کې دوحشیانو په څېر ژوند کاوه، دهر ډول حیوانانو غوښه یې خوړله، خپل د استوګنې ځایونه یې بدلول، خپل منځي وژنې یې کولې،په شپږمه هجري پېړۍ کې تاتاریانو پرټوله اسلامي نړۍ ظلم او قتل پیل کړ،دختیځ څخه تر لوېدیځه ورسېدل،په لکونه خلک یې قتل کړل،ډېر آباد ښارونه یې د خاورو سره برابر کړل، تر دې چې په ځینې ځایونو کې یې حیوانان هم قتل کړل.

په (۵۴۹) هجري کال چې د (۱۱۵۴) میلادي سره سمون خوري،چنګیز خان وزیږېده، د نومړي اصلي نوم "تموجن" وو، پلار یې د یو قبیلې سردار وو،خو تموجن د (۱۲) کلو وو، چې پلار یې مړ سو، نورو سردارانو د نومړي د سرداری څخه انکار وکړ،خو چنګیز خان د حوصلې،صبر اواستقامت څخه کار واخیست،د ټولو سردارانو سره یې جګړه پیل کړه،د زور په کار یې ټول خپل پیروی ته اړ کړل، بیا یې پر نورو ښارونو قبضې وکړلې، په لنډه موده کې یې پر ټول چین قبضه وکړه، چې په ترڅ کې یې د تاتاریانو یو لوی سلطنت جوړ سو.

د ترکستان سیمه د ډېر ښه پاچا سلطان علاؤ الدین خوارزم شاه په لاس کې وه، چنګیز خان تر اوسه پر اسلامي خاوره حمله نه وه کړې،د سلطان علاؤ الدین خوارزم شاه سره یې خپلې تجارتي اړیکې ساتل، خو یوې دردناکې پېښې دا اړیکې په دښمنۍ بدل کړل،هغه دا چې د تاتاریانو یوه قافله د خوارزم شاه په سیمه کې تېرېده،د "اترار" حاکم د جاسوسۍ ګمان پرې وکړ اود خوارزم شاه په اجازت سره یې قتل کړل، مالونه یې ور څخه لوټ کړل، ددې پېښې خبر چې چنګیز خان ته ورسېد،نو خوارزم شاه ته یې قاصد(استازی) ولېږه، چې زموږ د خلکو قصاص او تاوان راکړئ!خو خوارزم شاه قاصد(استازی) هم قتل کړ، چنګیز خان په ډېر جوش اوجذبې سره د ترکستان پر لوري د حملې کولو کوښښ پیل کړ، پرهرات، بلخ، بخارا، سمرقند اوداسې نورو تاریخي ښارونو یې قبضه وکړه، وروسته یې داسې قتلونه پیل کړل چې ژوندي ځیز یې پر ځمکه نه پرېښود.

والد صیب محترم یو ورځ راته ویل: پر بلخ چې چنګېز خان حمله وکړه نو ټول خلګ یې قتل کړل، حیوانات یې هم ټول قتل کړل او په ټول بلخ کې ذی الروح څیز پاته نه سو.

کله چې خوارزم شاه وفات سو نودهغه زوی جلال الدین یې ځای ناستی وټاکل سو، نوموړی خپل سلطنت پرېښودی اوهندوستان ته یې کوچ وکړ، تاتاریانو هم دا موقع غنیمت وګڼله، په ترڅ کې یې پرغزني او غور حملې وکړې او دخاورو سره یې برابر کړل، د منځني اسیا، خراسان، فارس، آذربایجان او داسي نوري سیمي یې تر پښو لاندي کړلې، تر روسیې پوري یې دا سیمي ونیولې، په دغه وخت کې چنګېز خان مړ سو،د ده وروسته بیا د نوموړي زوی اکتائي خان ځای ناستی وټاکل سو، وروسته یې لمسي منګوخان ځای ناستی سو.

دا وخت په بغداد کې د خلیفه مستعصم حکومت وو، منګوخان یو ورور برکه خان د شیخ شمس الدین هاخوري پر لاس ایمان راوړی و، نو ځکه تاتاریانو پر بغداد د حملې کولو هڅه نه کوله. په همدې وخت کې د عراق په ښار کې خلک د اسماعیلانو څخه تنګ راغلي وه، نو منګوخان خپل ورور هلاکو خان د ایران باچا وټاکه، چې په عراق کې امن راولي، هلاکو خان باطنیانو ته د شکست ورکولو وروسته پر قلعة الموت باندي قبضه وکړه، نوموړی د منګوخان وروسته د هغه ځای ناستی وټاکل سو.

په دغه وخت کې عباسي خلافت ډېر کمزوری سلطنت و، ځکه چې د سلطنت واګې یې د نااهل باچاهانو په لاس کې وې اوخپلو خواهشاتو لپاره یې مسلمانان استعمالول نو هلاکوخان د بغدادد نیولو په فکر کې سو، دا وخت پر خلافت عباسي باندي د نااهل باچا مستعصم باچاهي وه، نوموړي خپل ټول اختیارات یو وزیر ابن علقمي ته ورکړي وه، چې هغه د هلاکوخان جاسوس و،هلاکو خان ته یې د حملې کولو دعوت ورکړ،په دې وخت کې ټول مسلمانان په اتفاق نه وه، پر ډېرو فرقو او ډلو سره ویشل سوي وه، په مذهبي مناظرو سره بوخت وه، دشیعه،سني،حنبلي اوحنفي په نامه سره اخته وو، نوموړي د یو بل مرګ ته ناست وه، دغهو خطروهیڅ احساسات یې نه درلودل.

مستنصردتاتاریانودحملې کولو لپاره د پوځ پوره تدابیر کړي وه، خو ابن علقمي خائن مستنصر ته وویل: چې دومره پوځ ته ضرورت نسته، دا پر ملکي خزانې بوج هم راولي، نااهله خلیفه هم د وزیر خبره ومنله، دبغداد د پوځ غټه برخه یې ختمه کړه، دنغدومعاشونو پر ځای یې پوځ ته حکم وکړ چې د عام اولس څخه محاصل راجمع کړئ،خپله یې ولګوئ، د عام اولس او پوځ په منځ کې نفرت پیدا سو.

هلاکو خان دغه حالت د حملې کولو لپاره اړین وګاڼه، نوپربغداد یې حمله وکړه،ابن علقمي د پوځ اکثره برخه ختمه کړې وه، نو ځکه د بغداد پوځ ډېر مقاومت ونه کړ، ډېر ژر یې ماته وخوړه، په لکونو مسلمانان یې قتل کړل، په بغداد کې د مړو د جسدو څخه غونډۍ جوړې سولې، دا پیښه په اسلامي تاریخ کې ډېره زوروونکې وه، غم یې مسلمانان ډېر زهیر کړل.

د مستنصر د قتل وروسته ټول مسلمانان د مرکزي خلافت څخه محرومه سول.

بیا په ۶۸۷ هجري کال کې مسلمانانو ته بل خلافت "عثمانیه" خدای پاک په نصیب ورکړ.

د خلافت عثمانیه بنسټګر عثمان غازي نیکه "سلیمان شاه" د هامان (بلخ ته نږدې) څخه د چنګېز خان د ظلم او ستم څخه کوچ وکړ، د روم خوا ته یې اراده وکړه، هلته د اسلام یو سپېڅلی سلطنت "سلجوقية" په نوم قائم وو، کله چې آذربائجان ته ورسېدل نو هلته یې د کافرانو سره جګړه پیل کړه، په میرانه یې مقابله وکړه، ډېر غنیمتونه یې وموندل، بیا چې حلب ته ورسېدل نو جعبر قلعه مخته فرات سیند کې سلیمان شاه غرق سو او هلته وفات سو، اوس یې هم قبر هلته دی.

(الفتوحات الاسلامية: ۱۱۰)

د سلیمان شاه د وفات وروسته د نوموړي زوی ارطغرل غازي یې د قبیلې مشر سو، د صلیبیانو او تاتاریانو سره یې په ډېرو جنګونو کې برخه واخیسته چې تل به یې شکست ور کاوه، کله چې نوموړي سلجوقي سلطنت ته ډېرې ځمکې فتحه کړې نو د هغه وخت سلطان علاؤ الدین کیقوباد ډېر مخ ورکړ او خپل سلطنت کې یې لویه ونډه ورکړه،خو کله چې ارطغرل غازي په ۱۲۸۱م کې وفات سو، نود نوموړي ځای ناستی د ارطغرل غازي زوی عثمان غازي وټاکل سو،نوموړي کله چې په سلجوقي سلطنت کې دتاتاریانو لاس وهنه ولیده نو خپل ځان ته یې په ۱۲۹۹م کال کې مستقل خلافت اعلان کړ، چې مسلمانان او اسلام احکام ډېر پکښې خوندي سول، دار الحکومت یې "بروصه" ښار اعلان کړ،د عثمان غازي د وفات وروسته په یوه پېړۍ کې عثماني خلافت د مشرقي روم سمندرګي اوبلقان پوري ورسېد،د نوموړي خلافت د ۱۹۲۴م پوري قائم وو، وروسته د انګریزانو او خپل منځي جاسوسانو لخوا رنګ سو، ددې خلافت د رنګېدلو وروسته مسلمانان ډېر کمزوري سول، ټول د خلافت سیمه یې په کوچنیو، کوچنیو هېوادونو وویشله او ټولو ته یې د غلامي زنځیرونه په غاړه کړل، نن ورځ یې موږ او تاسو په رڼو سترګو ګورو چې موږ اکثره مسلمانانو د انګریز قانون منلی دی او د الله قانون مو پرېښی دی، له همدې امله ټول د ذلت سره مخ یو.

د الله په دربار کې دعا کوم چې ای الله! بیا په دې ملت کې داسې غیرتي انسانان پیدا کړه چې د انګریز دقانون مقابله وکړي اود الله سبحانه قانون پلي کړي.

حافظ ابن کثیر رحمه الله لیکي: "چې په ۶۹۴ هجري کال د چنګیز خان کړوسی "قازان"(چې د تاتاریانو پاچا وو) د امیر توزون په لاس په ښکاره توګه ایمان راوړو، اکثره تاتاریانو هم اسلام قبول کړ، قازان خپل نوم "محمود" کېښود،د جمعې په خطبه کې یې ګډون وکړ، بتان یې مات کړل، په خپلو سیمو کې یې عدل او انصاف پیل کړ، کله چې خلکو د تاتاریانو په لاس کې تسبیح ولیدلې، نو د الله شکر یې ادا کړ.

مفتي ابویاسر

دمحرم فقهي مسایل

مسله : دمحرم میاشت دغم اوخفقان میاشت ګڼل ګناه ده . همداراز په دغه میاشت کې ودونه نه کول ، اوښې اوغوره جامې نه اغوستل یوداسې عقیده اوعمل ده چې په اسلام کې جواز اوګنجایش نه لري . فتاوی الرحیمیه . والفتاوی المحمودیة ۲۰۱\۱۲ افسو س چې ډیر پښتانه په دې عمل اخته دي ،

مسله :ځرنګه چې دغه میاشت او په ځانګړي ډول دمحرم لسم تاریخ دخاص فضیلت موسم ده نوځکه په دغه میاشت کې ودونه ، کوبړدن اونوردخوښۍ مراسم سرته رسول غوره دي، په دغه میاشت کې په واده کولو کې برکت وي. احسن الفتاوی ۳۸۹\۱

مسله : ځینې عوام هغه ماشوم منحوس ګڼې چې دمحرم په میاشت کې زیږیدلی وي داسې عقیده غلطه ده (او ناروا ده) ځیني خلک بیاواده اونورې خوښۍ په دغه میاشت کې ناسمي بولي دغه عقیده هم بالکل غلطه ده .قاله حکیم الامت رحمه الله تعالی في اغلاط العوام \ص ۱۸۴)

مسله : ددغې میاشتې فضیلة له وړاندینی زمانې ځخه ده ، ځینې خلک چې داعقیده لري چې ددغې ورځې اومیاشتې فضیلت دحضرت حسین رضی الله تعالی عنه دشهادت له امله ده بلکل غلط ده ، بلکه ددغې میاشتې فضیلة له وړاندي ځخه دموسی علیه السلام په امت کې و و، ځرنګه چې موسی علیه السلام ته ددغې میاشتې دلسم په ورځ دفرعون دظلم ځخه نجات حاصل شوی وو ، نوځکه دغه ټوله میاشت دوی ته محترمه وه ، نوځرنګه چې دغه میاشت اوپه ځانګړي ډول دلسم ورځ یې دډیرفضیلت ځښتنه ده ، نو ځکه په دغه میاشت کې زیات نیک اعمال سرته رسول په کاردي .احسن الفتاوی ۳۸۹\۱ ملخصا . البته ځرنګه چې لوی خدای ته دحضرت حسین رضی الله شهادت په دغه مبارکه ورځ خوښ وو نو دهغه شهادت یې هم په دغه ورځ کې مقدرکړ ځویې مراتب اودرجات لا زیات شي . فتاوی رحیمیه ۳۸۱\۲ اوفتاوی محمودیه ۱۲۳\۶)

مسله : دمحرم په لمړي لسو ورځو کې دشهادت یادونه کول ، غم اوژړا کول (همدا راز توري جامې په غاړه کول ، یا نوي جامې نه اغوستل ، سرونه نه وینځل) دروافضوسره دمشابهت له امله منعه او حرام دي فتاوی الرشیدیه ص\۱۳٦/ومثله في الفتاوی المحمودیه ۲۰۱\۱۲)

له اسلام سایټ ځخه په منته

....په تيريسي
م: شمس....

غامديت...

داوسني عصر لويه فتنه...

کفارو خلاف دجهاد او قتال نه انکار!

مجاهد ته دجهاد وسله اونور ضروري توکي ورکول هم جهاددی، دپورپرته دشهيد ټول کړي ګناهونه ببنل کيږي.

دفاعي او اقدامي جهاد:

اسلام مسلمانانوته دخپلې دفاع لپاره دجهاد اجازه ورکړي،اوهم کله چې مسلمانان دځانونو پخلاف هر ممکنه خطرمحسوس اويا کشف کړي په وړاندې يې داقدامي جهاد اعلان هم کولی شي، په دې باره کې په عظيم الشان قرآن او احاديثوکې واضح تصريحات اواحکام راغلي دي

کافران چې کله دمسلمانانوپه سيمه حمله وکړي په دې صورت کې اسلام خپلومنونکوته(مسلمانانو) ته ددفاعي جهاد حکم کوي اوديته دقتال فی سبيل الله يعنې دالله تعالی په لارکې دجنګيدو نوم هم ورکوي، په نبوي سيرت کې ددفاعي جهاد مثالونه، بدر،اُحد،خندق اونوردي،او دفاعي جهادکول هيڅ شرط نلري، په هرحال اوهرصورت کې يې کول واجب دي البته اقدامي جهاد لپاره ځوشرايط شته دي.

اسلام دځان پرخلاف دخپلو دښمنانو لخوا دممکنه خطرونو محسوسولوپر مهال مسلمانانوته داقدامي جهاد حکم کوي، په مبارک سيرت کې دداقدامي جهاد مثالونه:

١ - دمکې مکرمې فتح

٢ - حنين غزوه

٣ – طائف غزوه

۴ – تبوک غزوه

اوپردې علاوه دراشده خلافت په زمانه کې دايران اومصرپخلاف جنګونه داقدامي جهاد مثالونه دي

غامدي نه وړاندې هغه مهال چې په هندوستان انګريزان واکمن وو،هغوی ددې لپاره چې د دوی دواک پرضد مسلمانانوکې دجهاد روحيه له منځه يوسي،خپل يو ګوډاګی اوخدمتګار مرزاغلام احمدقادياني وهاخاوه چې په دروغه دنبوت دعوه وکړي، هغه دعوه وکړه چې ورته وحي راځي او

دانګریزانو په غوښتنه یې جهاد حرام وګرځاوه اوپه شعرکې به یې ویل:

اب چهوړ دو جهاد کا ای دوستوخیال

دین کی لی حرام هی اب جنګ اور قتال

څنګه چې موږ وویل چې قادیاني تحریک لـه آراه دانګریزانـو پـلان ګـذارې او دهغـوی لخـوا ددې لپـاره مـردود جسـارت وچـې مسـلمانانوکې دجهـاد جذبـه ووژني...

خـو دشابسـي مسـتحق دي دبرصـغیرعلماء چې هغوی دانګریـزي اشـغال اووحشـتونوباوجود مرعـوب نشـول اودقادیـاني د درواغجـن نبـوت پـه وړانـدې پـه جرئت سره پورته شول دهغه دنبوت دعوه یې وننګوله اوخلکوته یې ثابته کړه چې هغه یوکذاب او دجال دی، اوپه بري سره یې دهغه په دجالي لوموکې دنښتلوڅخه مسلمانانوته نجات ورکړ اوټوله فتنه یې په نطفی کې خنثا کړه .

نـو پـه اسـلام بانـدې پـه مخـامخ بریـدونوکې دشکست خوړوورسته انګریزانو اوپه ټوله کې مغرب خپله ستراتیژې تغیرکړه او هغه داچې خپلومفادپرستو خدمتګارانو ته یې داسلام پخلاف دمخامخ ټکر کولـو پرځـای داسـلام پـه جامـه کـې داسـلام ترنامـه لانـدې داسـلام ضـد سازشـونو جوړولـو اوداسـلامي شـریعت احکامو مسخ کولـو پـه موخـه نـوی طرزونـه او طریقـې وروښودې، دغامدي اوهندوسـتاني وحیـد الـدین خـان پشان خلک یې راوړاندې کـړل خـو داسـلامي مطالعې او تحقیق په عنوان داسلام په اصولوکې ضعیف نکات راوباسي،او مغربي تهذیب او دهغه دژونـد سره اسـلام هم آهنګ وړانـدې کړي،لومړی هغـه پـه مسلمانانوکې داسلامي عالم یا داعي په نوم مشهورکړي،بیا دهغـه پـه واسـطه کـرار، کرارمغربـي تهـذیب اودهغـه ایـډیا مسلمانانوځوانانوته وړاندې کوي مثلاً مغربیـان وایـي: پرده ظلم دی(معاذ الله) غامدي هم وایي شـریعت کـې دپـردې حکـم نشـته،غربیان غـواړي مسـلمانان دجهـاد وقتال نه کینوي اوپه اړه یې دا انګیرنـه ورکـوي چـې پـه اسلام کې خو دهرچامال وځان اوابرومحفوظه ګرځـول شوې ده اوپه جهاد سره دانسانانو مالونو، سرونو او... زیان رسیدای شي(معاذالله) نوجهاد وقتال داسلام لـه روح سره مناسبت نلري(معاذ الله)

خـو دیاد ځـای دادی چـې تراوسـه د هغـوی ټـولې هڅې ناکامه شوې دي،اوپه مسلمانانوکې دجهادجذبـه ترپخـوا زیاتـه ژونـدۍ اوځپانـده ده، لـه نیکمرغـه چـې دجهـادي جـذبې اوروحیـې پـه بیـا ژونـدۍ کولـو کـې دافغـان مجاهـد ملـت بیدریغـه قربانیواساسـي رول اداء کړچـې پـه یـوه پیـړۍ کـې یـې دوه لـوی طـاغوتي زبرځواکونه مات کـړل، لـومړی دافغانـانو پـه لاس الله تعـالی شـوروي ښـکېلاک داسـې مـات کـړ چـې ټـول غروریـې خـاورې شـو اواوس یـې دنړۍ یوبـل مغـرور ښکېلاک (امریکا) ماته کړه اوهم یې دهغې ټول رعب اودبدبـه خـاورې ایـرې کړه،حقیقـت دادی چـې د دواړوشکست د۲۰مې پیړۍ دوه لویې معجزې وې چې الله تعالی دخپل غوره دین (اسلام) دسرلوړۍ لپاره ښکاره کړې.

دشهید فضایل

اسلام کې نه یـواځې دجهاد وقتـال پـه اړه ګـڼ ایاتونـه اولـوی شـمیر احادیث راغلـي دي بلکې هغـه ځـوک چـې داسـلام دسـرلوړۍ لپـاره پـه جهـادکې کافرانوسره په جنګ کې خپـل ځـان قربـان کـړي،خپلې پاکې وینې توی کړي اودخپل ایمـان دریښـتنولۍ ثبـوت ورکـړي هغـه پـه (شـهید) بلـل کیـږي، دقرانـي ایاتونواونبوي احادیثوله مخې ډیرلوی فضیلت اوسـتره مرتبه ورته حاصلیږي.

په قرآن مجیدکې« شُهدآء» لفظ په صورت کې په ګڼوځایونوکې راغلی دی،دشهدآء لفظ تصریح امام ابن جریـر طبـري پخپـل تفسـیرکې اوامـام بغـوي پخپـل

تفسیر«معالم التنزیل» کې داسې کړې ده چېترې مرادهغه مسلمانان دي کوم چې دالله تعالی په لارکې شیهدان شي.

«وَمَنْ يُطِعِ اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَأُولَٰئِكَ مَعَ الَّذِينَ أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِمْ مِنَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ وَالصَّالِحِينَ وَحَسُنَ أُولَٰئِكَ رَفِيقًا» (الآية ٦٩، سورة النساء)

اوځوک چې دالله او درسول اطاعت وکړي هغه به دهغو خلکوسره یوځای وي،په کوموچې الله انعام کړی دی، انبیاء،صدیقین،شهداء اوصالحین اوڅومره ښه ده دهغوی ملګرتیا

دوهـم مقـام دسورة ال عمـران۴۱ م ایـت دی « وَيَتَّخِذَ مِنكُمْ شُهَدَاءَ » اوهغه الله چې ځیني له تاسي شهیدان کړي

ددې په تفسیر کې هم دشهدآء څخه مراد هغه کسان دي چې دحق په لارکې شهیدان شي څنګه چې امام قرطبي لیکلي دي:

اَی یُکرِمَکُم بالشـهَادَةِ، اَی لِیُقتَـلَ قَـومٌ فَیَکُونُـو اشُهَدآء عَلَی النَّاسِ بِأعمَالِهِم(قرطبي ۴ټوک ۲۱۸مخ)

یعنې تاسـوته بـه دشـهادت ویـاړ دروبښـي،ځیني کسان به شهیدان شي او دخپلواعمالوپه وجه به په خلکوګواهان وي.

شیخ احمد مصطفی مراغی لیکلي:

اَی وَلِیُکرِمَ نَاساً مِنکُم بِالشهَادةِ والقَتلِ فِی سَبِیلِ الله (تفسیر مراغی ۴ټوک ۸۰مخ)

بل ایت دی الله تعالی فرمایي:

ولا تقولوا لمن يقتل في سبيل الله أموات بل أحياء ولكن لا تشعرون (البقرة: ۱۵۴)

اوځوک چې دالله په لارکې شهیدان شي ، هغوی تـه مړ مه وایۍ،هغـوی ژونـدي دي مګر تاسوپرې نه پوهیږئ!

دیته ورته ګڼ شمیر ایاتونوکې داسلام دسرلوړۍ په لار کې دوژل شویو شهیدانو لوړه مرتبه اومقام بیان شوی او ورڅخه ښکاره کیږي چې:

۱ – شهید تـه بـه دقیامت پـه ورځ دانبیاء علیهم السلام او دصدیقینوپه څنګ کې ځـای ملاویـږي،او دملګرتیابه ورته نصیب کیږي .

۲ – اللـه تعـالی دهغـو ایمانـدارو ځـان اومـال دجنت بـه بـدل کې االخلي ځوک چې داللـه تعالی پـه لارکې جهاد وقتال کوي غازي کیږي یا شهید کیږي .

۳ – پـه اخرت کې دشهید اعمـال ضـایع کېږي نـه ورتـه خاص رزق ورکول کیږي .

۴ – څوک چې داللـه تعـالی پـه لارکې ووژل شي هغوی تـه مړه مه وایۍ بلکې ورتـه شهیدان وایۍ.

۵ – مجاهد بـه یا غازي کیږي یا شـهید، پـه دواړو صورتونوکې دلوی اجر مستحق ګرځي .

۶ – دشـهیدانو ګناهونـه ښنـل کېـږي او دجنـت حقدار ان ګرځي .

پـه نبـوي احادیثوکې هـم دشـهیدانو ګڼ فضـایل راغلي دي او د هغوی لوړې مرتبې بیان شوي دي چې دلته ځونبوي احادیث راوړو:

عن ابی هریرة قـال: قـال رسـول اللـه صلـی علیه وسلم :والَّذِي نَفسِي بيدِهِ ، لولا أنَّ رِجالًا مِن المؤمنينَ

لا تَطيبُ أنفسُهُم أن يتخلَّفُوا عنّي، ولا أجِدُ ما أحملُهُم عليهِ ، ما تخلَّفتُ عَن سريَّةٍ تغزُو في سَبيلِ اللهِ ، والَّذي نَفسِي بيده، لوَددتُ أنِّي أُقتَلُ في سبيلِ اللهِ ثمَّ أُحيَا ، ثمَّ أُقتَلُ ثمَّ أُحيَا ، ثمَّ أُقتَلُ ثمَّ أُحيَا ، ثمَّ أُقتَلُ

له حضرت ابوهريرة رضي الله عنه نه روايت دی : رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي:سوګند په هغه ذات چې دچاپه لاس کې زما روح دی، که ماته داخيال نه راتلی چې ځيني مسلمانان به داسي وي کوم چې له ما وروسته پاته کيدل نه خوښوي، مګر زه دهغوی لپاره دسورلۍ بندوبست ونکړای شم، نوزه به هيڅکله هم دداسي لښکروروسته نه پاته کېدم کوم چې دالله تعالی په لارکې دجهاد لپاره درومي په هغه ذات سوګند،دکوم ذات په واک کې چې زما ساده ده زه داخوښوم چې دالله په لارکې دي شهيدشم بيا دي ژوندی شم بيا دي شهيدشم، اوبيا دي ژوندی شم،بيا دي شهيدشم،بيادي ژوندی شم اوبيادي شهيدشم.

۱ – ترټولو لويه داده چې پخپله رسول الله صلی الله عليه وسلم بيا، بيا دشهادت ارزوکړې ده.

۲ – شهيد جنت ته دتلو وروسته به دوهم وار دنيا ته دراتلوارزوکوي څو دوهم ځل شهيد شي اوپه جنت کې ورته لوړمقام نصيب شي .

۳ – دشهيد لپاره دجنت وعده ده،اودشهات صله جنت دی.

۴ – دشهادت درجه دټولې دنيا دمال ودولت څخه زياته ګرانبيه ده.

۵ – دشهادت په وخت شهيد دومره تکليف هم نه محسوسوي څومره چې ديوميږي په چيچلو يې يوانسان محسوسوي

۶ – شهيد ته به قبرکې دهغه دجنت ځای وښودل شي.

۷ – شهيد به دقبرله عذاب نه محفوظ وي.

۸ – شهيدبه دقيامت دلوی ډارنه په امن وي.

۹ – دقرض پرته دشهيد ټول ګناهونه ښنل کيږي .

۱۰ – شهيد ته به په اخرت کې دعزت او وقار تاج ورپه سرشي.

نو هر کله چې په قرآن وحديث دواړوکې دجهاد وقتال او د شهادت په باره کې دومره نصوص او ښکاره احکام شتون لري او ورباندې پخپله رسول الله صلی الله عليه وسلم او دهغه ملګرو(صحابه وو) راشدينو خلفاوو رضی الله عنهم او دهغه را وروسته په هردورکې مسلمانانو عمل کړی دی نو غامدی څوک دی چې هغه ددومره ښکاره منصوصي حکم څخه انکار کوي؟ او چې کله هغه انکار کوي نو د قادياني په څيره دی هم داسلام له دايرې څخه خارج ګڼل کيږي.

افغانستان ته داشغال دسيوري لاندې دغامدي دکتابونو دراوړو،اوبيا دژباړلوڅخه موخه همدا ده چې غواړي ځوانانوکې ددينې احکامويه اړه شته جذبه اوعلاقمندي ووژني په خاصه توګه دجهادجذبه وژل غواړي! هغه جذبه چې له امله يې امريکا دپنځوس شاوخوا هيوادونوپه ملګرتيا ونشوای کړای برې ترلاسه کړي،نو ددې جذبې دوژلو لپاره يې ځيني ملحدين وګومارل څو هغوی دهيوادپه پوهنتونو اوتعليمي اداروکې دغامدي الحادي فکر وغځوي او افغاني ځوانان دهغه دګمراهيوپه دام کې ونښلوي، نوموړ په ټولو باسواده افغان ځوانانو غږ کوو چې ورونو! دغامدي دنويو ژباړل شويو کتابونو له مطالعې ځانونه لري وساتي اوغامدي عقيدةً دالحاد اوګمراهۍ له پولو هم اوښتې دی، هسې نه تاسوهم دهغه په پيروۍ کې دايمان له رڼا څخه محروم شئ .

لړۍ دوام لري ...

د شهيد مولوي قاري سيد اغا «يعقوب» تقبله الله

ژوند ته لنډه کتنه

ابوبکر خطيب

اسلام پر ټولو مذهبونو عالي، لوړ او غالب دی، جهاد ته بيا د اسلام لوړه څوکه ويل شوې او عملا د اسلام په تاريخ کې مسلمان ملتونه د جهاد له لارې لوړ برم ته رسېدلي، د اسلام، مسلمانانو او د هغو تر سيورې او رهبرۍ لاندې د بشر بشريت لوړوالی، برم او عزت په همدې جهاد کې نغښتی دی، د بشريت په تاريخ کې او په ځانګړې له رسول الله مبارك صل الله عليه وسلم را وروسته چې کوم مسلمان رهبران، رهبري او واکمنۍ ستايل شوې ټول يوازې د دوو لاملونو (جهاد+عدل) له وجې او دا دوه د ټول بشريت د شېرازې کلك ضامن هم دي، خو که ورتهيو له بل سره تړليو د وو ځانګړو دېنې فريضو ارزښت هم ورکړو او د هر راز قربانيو غوښتنې يې ور پوره کړو، موږ افغانانو پر ميليونونه شهيدانو دا وياړ خپل کړی او په نږدې راتلونکې کې به د همدې جهاد او ورسره تړلي عدل پر ضمانت د يو ستر نوښت او بدلون شاهدان و اوسو، لاندې د دې لارې يو ستري شهکار مجاهد ياد را اخلو، هو ! د مولوي قاري سيد اغا «يعقوب» د لومړي تلين پر وياړ د هغه پر ژوند ګرځو.

زوکړه او زده کړې: شهيد مولوي قاري سيد اغا يعقوب تقبله الله د مرحوم ملا عبدالرحيم صاحب زوی پر ۱۳۵۶ لمريز کال د ميدان وردګ ولايت مرکز ميدان ښار اروند عثمان خېلو سيمې د هلال خېلو کلي په يوه دېنداره، جهاد پاله او شهيد پروره کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستې وې.

لومړنۍ دېنې زده کړې يې له خپل والد صاحب څخه پيل او بيا يې څه يې د کلي له ملا امام څخه ترسره کړې، نږدې ۱۲ کلنۍ کې پر ۱۳۶۸ لمريز کال خپل مشر ورور شهيد فضل الرحيم د پېښور خالص بابا په نوم د کډوالو پند غالي امير حمزه دارالحفاظ ته داخل کړ، د ۳ کالو په موده کې يې حفظ تکميل کړ او ورپسې د ميدان ښار په مشهوره (مدينة العلوم) مدرسه کې د حفظ د استاد په حيث وګومارل شو او درې کاله يې دوام ورکړ.

په نږدې ۲۱ کلنۍ کې يې يوځل بيا د درس نظامي کتابونه پيل کړل، د اسلامي امارت د واکمنۍ پرمهال يې د ننګرهار درونټې مدرسې په ګډون د هېواد ځينې نورو مدرسو کې زده کړې وکړې، د اسلامي امارت له سقوط وروسته يې په لومړي ځل د هجرت لاره ونيوه، د پېښور بازه ګښت سيمې ته لاړ او خپلو دېنې زده کړو ته يې دوام ورکړ، د پېښور رنګ روډ دير کالونۍ له زبيريه مدرسې، د يکه توت غوثيه مدرسې، د ماشوخېلو محمديه مدرسې، د ګنج بازار نعمانيه مدرسې او ګڼو نورو مدرسو څخه يې خپله علمي تنده خړوبه کړه.

پر ۶-۵-۲۰۰۵ زېږديز کال چې له ۲۸-۱۴۲۷ سپوږميز سره په سمون کې وه د پېښور نمکمنډۍ په دارالقراء مدرسه کې يې له مرحوم شيخ الحديث سراج الدين صاحب رحمه الله څخه وره دوره ولوستله او ورپسې يې د پېښور صدر په امدادالعلوم درويش مسجد کې له وتلي عالم او سياسي څېرې شيخ الحديث مولانا حسن جان شهيد رحمه الله څخه لويه دوره ولوسته، پر ۲۰۰۷ زېږديز کال چې له ۱۴۲۹ سپوږميز او ۱۳۸۷ لمريز کال سره برابر وه د يو ممتاز عالم په حيث يې د ملايې پګړۍ وتړله او کور يې د پېښور بورډ بازار تاج آباد ته نقل کړ چې تر شهادته هملته پاتې شو.

دا چې نوموړی له ۳ کاله راسې له وقفې پرته په جهادي فعاليتونو بوخت او دوه غبرګې ډلګۍ يې درلودې، له بل لورې يې له دېنې زدکړو او عربي ژبې سره يې کچې مينه لرله، نو پر ۲۰۱۰ زېږديز کال چې له ۱۴۳۱ سپوږميز سره سمون خوري هغـه شخصـاً خپلـه جهـادي بوختيـا محدوده کړه او په پېښور کې د عربي ژبې معهد (کلية الامام ابي حنيفة للغة العربية) ته داخل شو، له همدې ځايه د عربي له دوه کلن نصاب څخه په بريالي توب فارغ او د پېښور بورډ بازار په دارالعلوم تاج آباد کې د استاد په توګه وګومارل شو چې د شهادت تر ورځې يې هماغلته پرلپسې ۶ کاله تدريس وکړ.

د جهاد پيل او فعاليتونه يې: شهيد قاري صاحب تقبله الله په يوه جهاد پروره کورنۍ کې ترعرع کړې او پر جهادي روحيه يې عملي او تقليدي پالنه شوې وه، مشر ورور يې فضل الرحيم د شوروي پر وړاندې يو برجسته مجاهد و او د نجيب کمونيستي دور کې په شهادت ورسېد، ورپسې يې دوهم ورور ملا سيدرحيم او بيا يې دوه نور ورونه يو وراره شهيد عبدالرازق، شهيد قاري ګل اغا او شهيد قاري محمداغا د اشغال پر وړاندې جهاد کې شهيدان شوي وه، له همدې هغه يو بارز جهادي شخص او د قربانيو سابقه يې تر ډېره ليرې رسي، په پيل کې د شر او فساد پر وړاندې د اسلامي امارت له غورځنګ سره د مولوي کفايت الله صاحب تر مشرۍ لاندې په سپين بولدك کې يو ځای شو، له هغه ځايه د کندهار او بيا روژګان جهادي فعاليتونو کې برخوال شو، همداسې د زابل، غزني، ميدان وردګ، لوګر، کابل، تخار، کندز او ...ولايتونو کې يې ګڼ شمېر فعاليتونه وکړل چې په تخار کې د مشهور جهادي مشر شهيد قاري فياض رحمه الله له نږدې ملګرو څخه و.

د اشغال له پيل او د اسلامي امارت له سقوط وروسته شهيد سيداغا تقبله الله د خپلو پاتې زدکړو پوره کولو تر څنګ له کلنيو او ځينې نورو رخصتيو څخه پر استفادې په هغه خال

خال عملیاتو کې برخه اخیسته چې د اسلامي امارت مجاهدینو د اشغال پر وړاندې په نوې بڼه پیل کړي وه، وروسته د وخت او امکاناتو پر تناسب چې څومره دغه عملیات پراخېدل هغومره د قاري صاحب فعالیت زیاتېده، ترڅو عملیات په اوج کې او ګڼ پرمختګونه رامنځته شول، پر همدې مهال هغه بسته دوه ډلګۍ مجاهدین پر ځان را ټول کړل او درې کاله یې له ژمني وقفې پرته په پرلپسې ډول جهادي فعالیتونه ترسره کړل، خو د معهد ویلو او وریسې د تدریسي بوختیا له أمله یې فعالیتونه یو څه محدود شول چې بیا یې ترشهادته له کلنیو رخصتیو پر استفاده وسلوال فعالیتونه کول.

شهید سیداغا تقبله الله د خپلې مبارزې په اوږدو کې بهرني او کورني دښمن ته خورا زیات زیانونه واړول، د ۱۳۸۸لمریز کال د ګرمۍ موسم کې یې د شهیدانو سیمې حفیظ کوڅې ته څېرمه د اشغالګرو پر دوو ټانګونو یو استشهادي برید ترسره کړ چې په ترڅ کې یې دواړه د یوې لوړپوړې امریکايي شخې په ګډون ورکې سپرو سره په بشپړ ډول له منځه یووړل، نږدې دوه میاشتې وروسته یې د نرخ ولسوالۍ په سره پله سیمه کې هم د اشغالګرو پر ۲ټانګونو دېته ورته یو برید ترسره کړ چې له سپرو سره بشپړ له منځه لاړل، پر همدې کال د میدان وردګ مرکز میدان ښار اړوند سیمه کې د بهرنیو او کورنیو وحشتګرو ګډې عملیاتي قوې ته مجاهدینو له ملاخېلو تر عثمان خېلو د جګړې یو اوږد خط واچاوه چې رهبري د شهید سیداغا تقبله الله په غاړه وه، پرلپسې-۳ورځې جګړه وشوه او د ګډ دښمن قوه د درانه مالي او ځاني زیان پر لیدو له ماتې سره مخ شوه.

پر ۱۳۸۹لمریز کال جوزا په میاشت کې د ده پر قومانده د میدان وردګو ولایت مرکز اړوند کولخمار سیمه کې د اشغالګرو امریکایانو لومړنی ټانک منفجر او له سپرلي سره ټوټه ټوټه شو، وریسې پر ۱۳۹۰لمریز کال هم د مرکز اړوند شهیدانو سیمې حفیظ کوڅه کې د فرانسویانو پر یوه ټانګ چاودنه ترسره کړه چې له۶تنه سوارلي سره بشپړ له منځه لاړ، پر ۱۳۹۱لمریز کال یې د مرکز مربوط ملاخېلو او کوټه عشرو سیمو کې د اشغالګرو درې نور ټانګان چې مهم امریکایان پکې وه پر ماینونو پورته کړل، دا چې چاودنې ډېرې زوروې او تخریب یې زیات کړی وه د ازادۍ راډیو د راپور پر بنسټ د امریکا کانګرس یې په اړه اندېښنه ښکاره کړه او د طالبانو له لورې په چاودنو کې کارول شویو موادو یې تبصره وکړه.

پر۱۳۹۶لمریز کال یې په کابل کې د فهیم په نظامي پوهنتون۲سکریبس میزائل وار کړل، د ۱۳۹۷ کال په رومبیو کې یې۳نور د میدان ښار په أمنیه قوماندانۍ او د۱۳۹۸لمریز په لومړیو کې یې۲نور د لوګر پر خدر کمپاین وتوغول چې ټول پر نښه شویو اهدافو دقیق ولګېدل او دښمن ته یې د مالي زیان ترڅنګ درنه مرګژوبله واړوله، له دې پرته یې پر بهرني او کورني دښمن سلګونه واره او لوی بریدونه یې پرې ترسره کړي اوپه مخامخ بریدونو او د لارې غاړې چاودنو کې یې د هغوی تر۵۰زیات نقلیه وسائط له منځه وړي.

پر دې سربېره یې د اسلامي امارت په اداري تشکیلاتو کې یو لړ مسئولتونه هم سرته رسولي وه، چې پر۱۳۸۹لمریز کال پر دریو محاذونو د ولایت وېشل کېدو سره د مرکز میدان ښار سمت محاذ مسئولیت، پر۱۳۹۶لمریز کال د کابل مرکز مسئولیت چې ورسره د چریك بریدونو مسئولیت هم ور له غاړې و او وریسې پر۱۳۹۷لمریز کال د میدان وردګو ولایت مرکز میدان ښار مسئولیت د یادونې وړ دي چې ورسره هممهاله په میدان وردګ او کابل دواړو کې د چریك بریدونو مسئول هم و او د ژوند تر پایه یې په خورا ښه توګه منظم چریك فعالیتونه ترسره کړل.

شهید قاري سیداغا تقبله الله د جهاد په لاره کې ډېرې سرې تودې هم ګاللي وې، د اشغال پر وړاندې د دریو وروڼو او یو وراره په ګډون د۵۰تنه ملګرو شهادت، له اشغال څخه هجرت، ورسره علمي بوختیا، د کور سرپرستي او پر ملا مات د کور اقتصاد هم هغه څه و چې د جهادي فعالیتونو د تګنې کېدو لامل کېدلی شو، همدارنګه پر۱۳۸۸لمریز کال میدان وردګو ولایت ته د امریکایانو له راتلو وروسته د هغه پرسر د جائزو اعلان، د ملي أمنیت په تور لیست کې د هغه اچول او پر هغه پرلپسې چاپې هم په جهادي مسیر کې ورته خنډ نه شوې، بلکې لا څومره چې ستونزې لوړېدې هومره د قاري صاحب تقبله الله د عزم او ارادې صلابت زیاتېده.

شخصیت‌یې: د شهید سیداغا تقبله الله د بارز شخصیت له امله د هغه د ژوند د کېسو پر ځای یواځې پر هغو مواصفات پر بسنه کوو چې دغه کیسې یې ترې سرچینه اخلي، قاري صاحب تقبله الله د جذابي او خندنې څېرې، غښتلو متو، صلب وجود، نیکو أخلاقو او غوره چلند، لوړ احساس او جهادي فکر څښتن ریښتونی، زړور، بهادر، شاهکار او فداکار مجاهد و، تقوا، متانت، لوړه حوصله، غښتلی أمید، د خپلو چارو پر ښو پایلو ټینګ باور، توکل، اخلاص، سخا، میلمه پالنه، استغناء، او... یې ترې نه بېلېدونکي مواصفات و، د هېواد د ازادۍ او دلته د اسلامي نظام حاکمیت په لاره کې له هیڅ راز قربانۍ او فداکارۍ څخه مخ نه ګرځاوه، الله تعالی پرې ښایسته خوبیونه، د زړه راښکونکي تعامل او چلند ملکه، د یو داعي نرمه ژبه او د یو ریښتوني دیني عالم سپین زړه پېرزو کړی وه.

ټینګ هوډ، په هرڅومره سختو حالاتو کې نورمال اوسېدل او هیڅ شرائطو ته نه تسلمېدل، د خپلمنځي یووالي او انسجام د غښتلتیا، د جهاد د ودې او ولس د ښېرازۍ لپاره پرلپسې هڅې او...یې ځینې نور هغه صفات و چې پرې هر ځای یې ولسونه او مجاهدین پر ځان را ټول کړي وه او یو د لوړې سوبې بریالي مجاهد یې باید ولري، د خوی او عادت، ساده ټولنېز او انفرادي ژوند او په هغه کې تخنیك پوهنه، جهادي هلو ځلو، ایثار، د دښمن له مړو او اسیرو افرادو، خپلو ملګرو او ولسي وګړو سره په زړه پورې برخورد او د هغوی ترمنځ محبوبیت، له مشرانو سره اړیکو او هغوی ته یې درناوي، جګړه ابزې ورتیا او بصیرت، جرأت او مېړانې، د جهاد په لاره کې ستړو او خواریو، جهادي اهدافو ته وفا او تعهد، د مشرانو او لائحوي لارښوونو ته یې احترام او التزام په اره که ډېرڅه و وایو هم لږ به وي.

شهید سیداغا تقبله الله که له یوې خوا له هرځومره مسکنت سره مستغني مزاجه هم و، خو له بل لوري چې څه یې درلودل تر ځان ارمنو خلکو ته به یې ورکول او ځان ته یې تر هغو تېښ ژوند خوښاوه، له دا ډول اخلاقو یې خلك زیات متأثر کېدل، د زرورتیا یې دا حال وه چې دښمن ته زیات مطلوب کېدو سربېره یې د زنبورك غرونو (د اشغالګرو کمپاین ته نږدې موقیعیت کې چې هر وخت یې تر برید لاندې نیوی شو) په یوه خبمه کې درې کاله تېر کړل او له همدې ځایه یې پروګرامونه ترتیب او بیا تطبیقول.

مولوي محمدعمر وایي: قاري صاحب تقبله الله سره مې د طالبی۵کاله تېر کړل، کتاب ته یې زیات ادب درلود، له اوداسه پرته یې نه ور اخیسته، درس او مطالعې ته به ښه دروند او له پوره توجه سره ناست وه، ۴ازبك ملګرو سره به یې درسونه تکرارول، له خلکو سره یې تعامل او چلښت په خوښې او ورینه تندې و، پر چا د رشخند، د چا د غیبت یا ورته د تندي او ستغې خبرې او داسې نورو تمه ترې نه کېده، خو په ناروا او پارونکي کار به زیات خفه او خواشینی کېده، رنګ به یې نغیر وکړ او له ورایه به سرې پرې پوهېده، د ملګرو پر هر اړخیزه شرعي، عقیدوي او جګړه ایزه روزنه ډېر حریص و، معسکراتو ته به یې لېږل او له لیرې سیمو به یې استادان ورته را وستل، شرعي دورې به یې ورته ترتیبولې، جهادي اړیکې او ملګرتیا به یې تر خپلې وسې پراخوله ترڅو خپل روحیه او احساس بدایه کړي او هم نورو ته ګټه ورسوي، د شرعي مالوماتو ترلاسه کولو، له نورو سره شریکولو او په خپل سر له پرېکړې په ډډه کولو کې زیات جدي و.

مولوي نورالحق صاحب وایي: د طالبانو اسلامي غورځنګ سره د مولوي کفایت الله ګروپ چې سیداغا تقبله الله یې یو وه او د مدرسو د طالبانو ځینې واړه ګروپونه په سپین بولدك کې یوځای شول، د مشر ملاصاحب له امر سره سم له دې ګروپونو ۲۰۰کسیزې ډلګۍ جوړې او مشران یې معرفي شول، د مولوي کفایت الله ګروپ زموږ د ډلګۍ برخه شو، کابل لا نه و فتحه د جګړې یو خط په جلرېز کې وه چې وروسته موږ ته را حواله شو، دلته قاري سیداغا تقبله الله ۱۲تنه د مدرسو تنکي طالبان له ځان سره راوستي وه، ملا مشر آخند زموږ د خط کتو ته راغی، ورسره د ملا محمدیونس آخند یو معاوین تنکیو طالبانو ته پر کتو وویل دا خو ډېر واړه دي، ملا مشر د قاري صاحب او یادو طالبانو د حوصلې لوړولو په پار ورته کړه چې دوی واړه، خو زړونه یې له ما او تا غټ دي چې د جګړې لومړۍ کرښې ته راغلي.

قاري عبدالرحمن وایي: هغه مهال چې زه یې معاوین وم د أمریکایانو له لوري په یوه چاپه کې ونیول شوم، د قاري صاحب د ملګرتیا له وجې یې پر مرګ ګواښلم، د تور جبل په نوم بلاك کې د تحقیق پر وروستۍ ورځ محقق وویل چې ته به باګرام ته ځې، ته د یو داسې چا ملګری یې چې موږ ترې ښه خاطره نلرو، په تول میدان وردګو کې مو مشران ورځخه تنګ دي، په ګرمه او چکر نشي وتلی، دبوال ته به یې سوك ورکړ او ویل به یې ته به تر هغه دلته یې چې سیداغا مو له منځه وړی او یا نیولی نه وي، همدارنګه د سیداغا د قد وقامت، لباس او د تګ راتګ لارو په اړه یې پوښتنې کولې، هغه مهال چې د سید اغا وړور عبدالرازق شهید شو دوی یې عکس العمل ته وار خطا و او له مایې پوښتنه کوله چې سیداغا د خواشینۍ پر مهال زموږ پر وړاندې کوم اقدام کوي؟ ځکه ته مو ترې ونیوې او وړور مو یې ور وواژه، اوس زموږ د را پورونو پر اساس هغه راته خواشینی دی.

شهادت یې: بالآخر دغه سر سپارلی مجاهد د الله تعالی په لاره کې په سترې ساه او ستومانه وجود له یوې نرۍ سپېځلو ارمانونو سره د۱۳۹۸لمریز کال سرطان میاشتې پر لسمه د چهارشنبې پر ماښام ۸بجې د میدان ښار مرکز ته نږدې شهاب الدین سیمه کې د یرغلګرو أمریکانانو په ډرون برید کې له خپلو څو تنه ملګرو سره د خپلو شهیدانو ۵۰کسیزې قافلې او د شهادت لوړ مقام ته ورسېد انا لله و انا الیه راجعون، د نوموړي د جنازې مراسم پر همغه ورځ ترسره شول، لمونځ یې د قاري حفیظ الله په امامت ادا شو او د خپل پلرنې کلي په هدیره کې د نورو شهیدانو ترڅنګ خاورو ته وسپارل شو.

د شهادت کیسه یې: جواد مجاهد

وایي: د فعالیت له ساحې د کور پر لور وخوځېدو، قاري صاحب د معمول مطابق د خپل تګلورې ښودلو ښودلو پرته له ډېرو خلکو رخصت واخیست، په چرګلا سیمه کې یې یوه ملګري ته خپله وسله ورکړه، وروسته ېرته پرې را وګرځېد او بخشش یې ترې وغوښت، د دښمن تر ساحې په یوه فرعي لاره په موټر کې راغلو، دوه ملګري د ترصد لپاره سرك ته ورغلل، موږ هم ورپسې تر سرك واوښتو او په خپل موټر کې د ورځې شاوخوا۹بجې ابراهیم خېلو ته راغلو چې ساحه او (کابل کندهار) سرك هم د دښمن تر کنترول لاندې وه.

د دغې ساحې له مجاهدینو مو لاره او رهبري وغوښته، هغوی تر ماښامه معطل کړو ترڅو له تیارې په استفاده له سرکه واورو، ماښام د ساحې د دوه تنه مجاهدینو په ملتیا سرك ته نږدې راغلو، په خونډي ځای کې مو له سرك څخه د اوښتو ترتیب جوړ او ترې واوښتو،یو بل پنا ځای ته راغلو دلته ډرون الوتکې زیاتې او تیتې ګرځېدې، خو قاري صاحب ویل توکل پر الله تعالی حرکت کوو، له خوځېدو سره سم ډرون لومړی وار پر قاري صاحب وکړ او هغه شهید شو، دوهم وار یې پر پاتې ملګرو وکړ چې یو زه او یو د همدغې ساحې مجاهد چې زموږ رهبري یې کوله ځخمیان او نور ټول په شهادت ورسېدل، سهار مهال مجاهدینو د قاري صاحب جسد له یوې فرعي خوندي لارې نقل کړ او نور شهیدان بیا د کابل کندهار پر لاره نقل شول.

دا چې قاري صاحب تقبله الله اشغالګر دښمن ته زیات مطلوب و، له ځمکې او فضاء یې د هغه لارې څارلې، نو له اوږدو خواریو او ستړیاو وروسته یې د هغه پر شهادت خوښې هم څرګنده کړه، نوموړي تر شا مورکۍ، درې ورونه، د۶زامنو پر ګډون۱۱اولادونه، تورسرې او یوه سل کسیزه جراره ډلګۍ پرېښوده، روح یې ښاد او یاد یې تل ژوندی اوسه.

☆☆☆

دسوداګرۍ او اقتصادي ودې په اړه

د اسلامي حکومت واکونه اومسؤلیتونه

٥ مه وروستۍ برخه
م: ش: منصور

داسلام داقتصادي نظام راتلونکی!

دلیکنې عنوان دی، داسلام داقتصادي نظام راتلونکی!که نن سبا په یواسلامي هیوادکې مسلمانان داوغواړي چې په اوسني نړیوال چاپیریال اونني سیاق وسباق کې داقتصادیاتو،مالیاتواومعاشیاتوپه باب اسلامي لارښوونې په بشپړدول نافذې کړي،نوعملي بڼه به څه وي؟په نتیجه کې یې چې کوم مسائل پیداکیږي دهغودحلولو په اړه به څه ډول ګامونه پورته کول مناسب وي؟

په دې لړکې موږ دوه لوی عنوانات راوړو،چې دیوعنوان په اړه یواځې په لنډه اشاره کولوبسیا کوواودبل عنوان په اړه تفصیلي معلومات وړاندې کوو.

لومړی عنوان دی:هغه حکومتي تدابیراوتجربوي معاملات چې دهرهیواد داقتصادي ودې،انتظامي اوتدبیري چارو څخه عبارت دي،داقتصادي ودې اوترقۍ په برخه کې یوډیرلوی دپام وړ لوری هغه دی کوم چې یومخ ترېشري تجربوپورې اړه لري،داوسني دوریوډیرمثبت ابتکاردادی چې داقتصادي ترقۍ اودمالي پرمختیاوپرچاروپه ژورعلمي لیدسره غورکیږي، مختلف مسائل څیړل اوارزول کیږي،بحثونه اونقدونه پرې کیږي،او دزرګونوبلکې دلکونو انسانانو لخوا داوږده غور،سوچ اودولسونودتاجربوله مطالعې څخه داقتصادفن په داسې بڼه ترتیب مومي چې ورڅخه دعامو خلکو لپاره هم استفاده ډیره اسانه وي

په دې لړکې ترهرڅه دمخه داخبره په یاد لرل پکاردي چې دکومومعاملاتو په اړه شریعت انسانان ازادخوشې کړي دی،په هغوکې چې انسان کله دخپلې تجربې او مشاهدې څخه ښه نتایج ترلاسه کولی شي هلته دنوروانسانانو له تجربوڅخه هم ګټه پورته کول اړین دي،داسلامي شریعت له اساسي اصولوڅخه چې تر ټولو غوره دي،هرمسلمان خبردی داده چې دحکمت اوپوهې خبره دمسلمان ورک مال دی، هرځای چې یې ومومي، پکارده ترلاسه یې کړي، نو ددې لپاره داقتصادي تجربوپه باب کې له پخوانیواواوسنیو،دمشرقي اومغربي تجربو څخه ګټه پورته کول پکارده

فقهاووهمدا خبره په خالصه قانوني اواصولي ژبه کې بیان کړې چې«اَلأَصلُ فِی المُعَامِلاتِ اَلاِ باَحَةُ»(تکوین الملکة الفقهیه۱/۹۹، التطبیقات الفقهیه الفصل الرابع۸/۳۱، تیسیربعض احکام البیوع۱/۴۱) په معاملاتوکې اصل دادی چې جایزدي،مګرداچې شریعت کومه معامله صراحةً یا اصولاً ناروا ګرځولې نه وي!

نو په دې وجه دمعاملاتو څومره صورتونه یا شکلونه چې نن سبا رایج دي،له هغو ټولونه پوره ګټه اخیستل پکاردي،په هغوکې چې کوم ځیزله شریعت سره متعارض ښکاره شي،دهغه تعارض لرې کول دي،اوله هغه تجربې نه ګټه پورته کول دي

دوهم عنوان چې په اړه يې لږ په تفصيل سره معلومات وړاندې کوو،هغه دادی چې داسلامي اقتصادياتوپه نوم چې کوم فن له تيرو نږدې سل کلوراهيسې مرتب شوی دی اوس هغه فن يا علم ته نوره پراختيا ورکول اړين دي،داوسعت اوترقي له يو پلوه پخپله راځي خومره چې داسلامي اقتصادياتو په اړه تجربې کيږي، ورسره يوځای په هم هغه رفتارسره دافن خوريږي،په خاصه توګه داسلامي بانکداری چارې چې څومره پراختيا مومي، پراسلامي بانکداری څيړنې او ارزونې هم په هغه رفتارترسره کيږي،اومخ ته راځي،داسلامي تکافل څومره اداری چې جوړيږي په هم هغه حساب دتکافل اونورو په اړه اسلامي تحقيقات جريان غوره کوي

ددې پخپله روان علمي زيارترڅنګ داهم ضرور ده چې څيني دعلم خاوندان ځانونه ديته وقف کړي اوځيني تحقيقي اداري اودتعليم وتدريس مراکزدا اهتمام وکړي چې داسلامي اقتصادهغه لوری دتحقيق اودپام وړ وګرځوي کوم چې في الحال په سوداګری اويا بازارکې غوښتنه نلري،زکه دکوم څيز چې غوښتنه کيږي دهغه رسد هم پخپله راځي، خوګڼ معاملات داسې دي چې عملاً اوس دهغو غوښتنه څوک نه کوي،خوپه نظري،فکري اوعملي اعتبارمسلمانان ضرورت لري چې دهغوی په اړه هم دشريعت موقف او د اسلامي فقهاوو څيړنې اوداسلامي ايمه وو اجتهادات د نن ژبې داقتصادياتوپه اسلوب اودمعاشياتوپه اصطلاح کې بيا ن اوځای کړای شي

بله اهمه خبره داده چې اسلامي اقتصاد ديوپراخ اوجامع نظام برخه دی،داسلامي لاربنوونو له مخې دژوند دنوروبرخوڅخه يوجلا اومستقل بالذات څيزندی،بلکې د اسلامي ژواندانه هغه تصورياطرز دی کوم چې نويواسلامي مفکرانو« دژوندبشپړقانون»په بامعنی اوبليغه اصطلاح سره تعبيرکړی دی،نوبناً هرکله چې هم داسلامي اقتصاد په باب قوانين اوقواعد جوړيږي، نوپه داسې شکل به جوړيږي، چې هغه يولورته دمسلمانانو اقتصادي اړتياوې اوغوښتنې پوره کړای شي اوبل پلوته دمسلمانانودژوند دنورو خواوو سره هم اړيکې قطع نکړي لکه سيکولراقتصادي نظام چې ورسره اړيکې قطع کوي،داسلام اقتصادي نظام به له اسلامي ټولنې سره هم آهنګ وي اوهم به دنړيوالو اړيکوسره سمون لري، اوهم به دمسلمانانو دسياست،ديني ارزښتونواودمسلمانانو دسوچه اسلامي ژوند په معيارونو برابروي

دمسلمانانوپه سوچه اسلامي ژوندکې ډيرداسې احکام شته چې هغه په اسلامي ټولنه ژور اغيز پريباسي، لکه کفارات،زکات،واجب صدقات اونورې مشالونه دي، ددې ټولوښکاره اقتصادي پايلې راوزي،وقف يوډول عبادت دی،بل پلوته يوه اقتصادي او اجتماعي اداره هم ده،ترډې پورې چې په اسلامي قوانينوکې څيني داسې احکام هم مندل کيږي چې پرهغوباندې دعمل کولوپه نتيجه کې دخالص جزائي معاملاتو اقتصادي اثرات هم ښکاره کيږي او ترڅنګ يې مذهبي اوديني جهت هم؛ لکه ديت؛يا دقتل عمد کفاره اونور،که څه هم خالص جزائي معاملات دي،خوکله چې کفاره اداء کولی شي،نوغريبانوته به ورکولی شي،دهغوپه اړه به قواعداوقوانين شتون لري، خوهغه قواعد اوقوانين به داسلام دجزائي قوانينواو احکامو تابع وي،داسلامي عباداتو له احکاموسره به هم تعلق لري،اوهم به دهغو احکامو اقتصادي جهت هم وي، له دې وجې داسلامي اقتصادياتوپه برخه کې دا ټول په پام کې نيول پکار دي.

په دې سره داسلامي اقتصاديوبل خصوصيت هم ښکاره کيږي اوهغه دادی چې اسلامي اقتصاد يومتناسق اقتصاد دی،دکوم چې ټول اړخونه له بل سره په بشپړ ډول هم آهنګ دي،او په ټوليزه توګه دټول بشري ژوند سره هم آهنګ دي په اسلامي اقتصادکې دهيڅ يوښتنې داسې څواب نشي ورکول کيدی، چې داسلامي لاربنوونوسره دي هم آهنګ نه وي، يا دې داسلامي ژوند له غوښتنو سره متعارض وي،يعنې چې داسلامي ثقافت اوتهذيبي له ارزښتونوسره تناقض ولري، نوپه دې وجه داسلامي اقتصاد پخپله دخپل ذات په حق کې هم متناسق

اومتکامل دی او دژوندله نورواړخونوسره هم دبشپړې هم آهنګۍ لرونکی اوغوښتونکی دی

پردې سربیره داسلامي اقتصاد بله ځانګړتیا دا ده چې دژوندپه تصورمبني دی،په یوه نظریه مبني دی،داکوم خودرونظام ندی،څنګه چې په لویدیځ کې پیداشوی دی دکوم محرکات چې وقتي مفادات وي،په اسلامي اقتصادکې دکومې سیمې دوختي اقتصادي مفاد ترلاسه کولو لپاره ګامونه، نه پورته کیږي،چې دځو تجربو وروسته وړاندې دیونظام بڼه غوره کړي،دلته دا کیفیت ندی دلته د لومړۍ ورځې نه یوه اساسي نظریه په وړاندې ده،دکومې اساس چې په ځینوقواعدواواساسي اصولو باندې صورت نیسي،دهغواصولو په رڼاکې ټول اړخونه مرتب کیږي، په هغوکې اقتصادیات هم راځي،نوپه دې وجه دایو اخلاقي اقتصادي نظام همدی،نن سبا چې داخلاقیاتواواقتصادې اتو ترمنځ رشته لویدیځ قطع کړې ده اوله امله یې ډیرمنفي نتایج مخ ته راغلي دي،احساس یې نن دهغوحساس مغربي پوهان محسوسوي،او په اړه یې غږونه پورته کوي،کوم چې وخت په وخت لویدیځ کې اوریدل کیږي په اړه یې داسې لیکنې خپریږي، چې په اخلاقیاتوویرونه کوي، نن د دوه درې سوه کلوله تجربو وروسته چې مغربیان دکوم څیزپه لټون پسې سرګردان دي هغه په اسلام کې له وړاندې څخه شتون لري. الحمد الله

اوبردې هم علاوه داسلام اقتصادي نظام خالص بشري نظام دی،چې دانسانانو داړتیاووپوره کولو لپاره ورکړای شوی دی،دانسانانودمادي اړتیاوودتکمیل پخاطر یې احکام وضع شوي دي،چې انسان،دانسان په توګه ترې استفاده کولی شي،احکام یې دکوم نسل،یا توکم دفایدې لپاره ندي،په دې نظام داګنجایش نشته چې دیومعلوم قوم دمفاد پخاطردې د بل قوم مفاداتوته زیان ورسول شي،نه دکوم فرد، دمصلحت پخاطر دبل فردمصلحت قربانوي،دا زکه چې دانظام واقعیت خوښونکی نظام دی په نړۍ کې چې کوم څه کیږي، یا د انسانانو چې کوم،کوم قسم مزاجونه دي،یا انسانانو دننه کې چې کوم ډول کمزورۍاوخامۍ دي،دهغوټول په اړه له لومړۍ ورزې اګاه دی،بلکې عظیم الشان قرآن د انسانانودننه خوبۍ هم په ګوته کړې او کمزورۍهم،د دې لپاره چې کوم خالق ذات دانظام ورکړی دی اوپه اړه یې کومې لارښوونې کړې دي ، هغه ددې ټولوڅخه خبردی دانسانانو له خوبیوهم واقف دی اوله نیمګړتیاووهم، نوپه دې وجه په دې نظام کې په مکمله توګه دحقایقواو واقعیتونومعیارونه په پام کې نیول شوي دي

مهمه داده چې دواقعیتونودادراک ترڅنګ،اسلام کې لوړمقاصد په وړاندې نیول شوي، نوپه دې وجه همیشه باید دمسلمانانومقاصد لوړوي،دیولارښود مسلمانان په اړه علامه اقبال ویلي«دهغه امیدونه باید قلیل اومقاصد یې جلیل وي»په دې وجه دمسلمان ذاتي خواهشات باید محدود وي،خوهغه باید کلي مقاصد اوملي اهداف لري اواجتماعي تصورات باید تل لوړوي،همدا داقتصادي نظام ځانګړتیاده چې یوطرف ته فردقناعت کوونکی دی بل لورته یې دااحکام هم ورکړي دي چې دټولنې دترقۍ لپاره چې څه کولی شي باید کړای شي، هوادخپلې فایدې لپاره نه؛ دنورودفایدې لپاره؛ البته چې هغه هغه کار ستاپه وس کې وي؛تردې پورې که دیوې ونې لګولو لپاره ناست وي،اودقیامت شپیلۍ وغږیده؛ نولومړی ته هغه ونه نهال کړه؛ اوبه ورکړه اوبیا وګوره چې شپیلۍ

غربيږي،اوخه پکارديږ دازکه چې اسلام يومتوازن نظام دی،پکې دژوند دټولوخواوو ترمنځ پوره توازن منډل کيږي چې هيڅ يوې برخې ته په بله باندې کومه برتري نشته،هرې برخې ته چې دخومره وزن ورکولو اړتیاده، شريعت ورته په هغومره وزن کتلی دی.

داسلام داقتصادي نظام دتدوين وتشکيل،تعميل وتنفيذ لپاره ځيني لازمي شرايط شتون لري،څوهغه چې رعايت اوپوره شوي نه وي، ترهغه پورې دانظام په وجودکې نشي راتلی،ترټولو لومړی شرط فکري ازادي ده،څوچې دمسلمان قوم بالعموم او دمسلمانانو د مشرانو او قيادتونو بالخصوص په فکري توګه ازادشوي نه وي او دلويديځ دبې ځايه فکري اوکلتوري مرعوبيت څخه يې نجات نه وي مندلی ترهغه وخته داتوقع نشي کيدی چې هغوی به داسلامي شريعت له حکمونوسره سم داقتصادي نظام تشکيلولوته تيارشي،ددې فکري ازادي ترلاسه کولولپاره دتعلمي نظام جوړولو اړتياده، څوچې دتعليمي نظام نوی جوړښت يا تشکيل نه وي شوی، څوچې داسې نظام په وجودکې نه وي راغلی په کوم کې چې داساس يا بنياد حيثيت داسلامي شريعت احکامو اواسلامي ارزښتونو ته نه وي په برخه اوټول علوم اوفنون په داسې بڼه برابر کړای شوي نه وي چې دهغو زده کړه اولوست دشرعي احکاموسره سم داهدافوترلاسه کولو زريعه وګرځي ترهغه پورې ازادي نشي ترلاسه کيدی اوکه ترلاسه هم شي خودوامداره به نه وي.

دنوي تعليمي نظام دترتيبولو سره يوځای په اسلامي اقتصادياتوکې دکارپوهانو روزلو ته اړتياده، اوددې کارپوهانو د روزلولپاره اوږدمهال پلانونه پکاردي، کوم چې دنوي تعلمي نظام اونصاب جوړولو برخه وي، ددې ترڅنګ دلنډې دروانيې لپاره داسې پروګرامونه جوړول هم ضروري دي چې هغه دسملاسي اړتياوو پوره کولو لپاره په کارواچول شي،اوپه هغوکې داسلامي بانکدارۍ په برخه کې دخلکوروزنه،د تکافل ادارو چلولو لپاره دافرادي څواک روزل اړين دي، داسلامي اقتصادياتوبرخه کې دکارپوهانو د روزلو لپاره په سملاسي ډول پروګرامونه شروع کول ضروري دي .

په دې لړکې دېوحکومت مسؤليت دادی چې هغه دټولو هڅو ترمنځ هم آهنګي راولي،ځکه که دټولو کارونواوادارو ترمنځ هم آهنګي پيداشي نو د هغو ثمرات اونتايج مثبت راوتلی شي حکومت داکار هغه وخت کولی شي چې کله دحکومت په مسؤلينوکې ذهناً اوفکراً بدلون راشي.

علامه اقبال ليکلي دي دمستقبل ټاکلو لپاره فکر تعميرضروري دی، او دفکري تعمير لپاره فکري تطهير ضروري دی، بناً د نظام اوحکومت دچارواکو دفکري تطهير او ذهني تطهير ته سملاسي اړتيا ده اوکله چې تطهيرراشي له هغه وروسته بيا تعمير په اسانۍ سره پورته کيږي، په هغه ځمکه کې چې زهرجنو بوټو ځای نيولی وي،هلته په اسانه ګل وګلزارنه جوړيږي،بزګر يا بڼوال به لومړی دزمکې تطهير کوي اوټول زهرجن بوټي اوګياګانې به ورڅخه لرې کوي بيا به دهغه وروسته په صفا زمکه کې تخم ته سره ورکوي اوپالنه به يې کوي، ابياري به يې کوي، ددې مراحلوطی کولووروسته به ګلِ ګلزار کيږي،اودافکارو په تعميرکې له دېنه هم زيات زياراومحنت ويستلوته اړتيا ده.

داکار هغه مهال کيدای شي چې کله داسلامي اقتصاد په حق کې عامه اراء په پوره توګه بيداروي،اوس مهال واقعه داده چې دحلال وحرام په باره کې شعور شتون نه لري،کوم چې يو وخت داسلامي ټولنې ځانګړتيا ګڼل کيده دامسؤليت څنګه چې درسنيو، قلموالو او د تعليمي ادارو دی همداسې ددينې علماوو هم دی چې هغوی په دې اړه عام خلک خبرکړي اوپه هغوی کې دحلال وحرام ترمنځ دتميز شعور پيدا کړي کومه خيزونه چې حرام ګرځول شوي دي په خاصه توګه سود، قمار، غرراونور دهغوخرابۍ ترخلکو ورسوي ځکه چې څو چې دمحرماتو خرابۍ دخلکوپه اذهانوکې ناستې نه وي ترهغه نه وړاندې په هغوی کې تري دځانوژغورلو جذبه پيدا کيدل ناشونې ده . نوربيا ...

په قلم د لیکلو ګټې

سعد کتوازی

دا چې په اوسني وخت کې تنې دره (کیبورډ) د قلم د ټولو ډولونو پر ځای کارول کېږي که څه هم په لیکنه او چاپ کې یې د پام وړ اسانتیاوې راوستلې، خو یو لړ روحي، رواني او فزیکي ستونزې او ستړیاوې هم له ځان سره لري، چې قلم د دې سرچپه صحي او ځیني نورې ګټې لري، نو اړینه ګڼو د قلمي لیکنو پر ځو ګټو په لنډو ټکو کې و غږېږو.

د مطالبو او اهدافو لیکل د هغوی د ترلاسه کولو لومړی پړاو دی، قلم کولی شي خپل لیکلي اهداف پر واقعیتونو واړوي او د قلم پر مټ کولی شو خپل هرڅه په خپل واك کې و لرو، په اروا پوهنه کې د ذهني ارامښت لپاره خپل افکار پر قلم لیکل یوه ساده خو تر ټولو اُغېزمنه لاره ده، قلم د لیکلو پر مهال زموږ د انګېزې د پرمختګ لامل ګرځي، په خپل ژوند کې قلمي لیکنې ته دومره وخت ورکول چې پکې د ورځنې ژوند تجربو، موخو، فعالیتونو او ذهن ته راتلونکو فکرونو اړوند ځیني مطالب ولیکو زموږ ژوند ته بشپړ بدلون ور ښښلی شي، دا چې ولې خپل افکار ولیکو او څرنګه به زموږ ژوند ته بدلون ورکړي لاندې ورته لنډه پاملرنه کوو.

۱:- څه چې په دماغ پورې اړه لري او هغه مصروف ساتي ټول په دماغ کې د(Rac)یا(Activating Center Reticular) پرنوم مرکزي برخې څخه فیلټر کېږي، قلمي لیکل دغه برخه فعالوي او د اړوندې موضوع اهمیت ته مو لازیات متوجه کوي، چې دا په حافظه کې د مطالبو د پاتې کېدو او له هېرې یې د ژغورلو تر ټولو غوره لاره ده.

۲:- قلم د لیکوال لیکنیزه پیاوړتیا غښتلې کوي، چې له أملا یې اوس هم زیاتر خلك له تنې درې زیات پر قلم لیکل غوره ګڼي، پر۱۹۹۵زېږدیز کال د سوزان سانتاګ پر نوم لیکوال له (Paris Review) نشریې سره په خبرو کې وویل هر وخت لومړی لیکنه پر قلم باندې کوم، په عامه توګه چې په قلم لیکلو کې کومه ارامتیا، تأملات او پاملرنې وي زماډېرې خوښېږي، همدارنګ پر۲۰۰۹زېږدیز کال د واشنګټن پوهنتون له لورې ترسره شوې څېړنې ښودلې چې د لومړنیو زدکړو هغه شاګردان چې پر قلم لیکنه کوي تر نورو اوږدې لیکنې کولی شي، د لیکنو جملې یې بشپړې وي او مطالب زر لیکلی شي.

۳:- ځیني روغتیا پالان پر دې اند دي چې پر قلم باندې لیکل د دماغ خوځنده فعالیتونو، حافظې او پېژندکارۍ ته خواك ببښي، تبه/خاطر هشاش بشاش او د ماغ ځوان ساتي او عمر زیاتوي، نو ویلی شو چې پر قلم باندې لیکل د دماغ یو ډول ورزش دی، د هغې څېړنې پر بنسټ چې پایله یې پر۲۰۰۸زېږدیز کال (Cognitive Neuroscience) مجلې خپره کړه ښودلې چې که یو څوك چیني جملې یا د ریاضیاتو ښېې پر قلم ولیکي په راتلونکې کې یې د تنې درې تر لیکلو ډېر زر پېژندلی شي.

۴:- یو غربي لیکوال وایي: په ورځنې ډول ټولې دندې، ترسره کړې فعالیتونه او هر پلان چې تاسو یې باید ارائه کړې ولیکئ، هره دنده چې تاسو فکر کوئ له لیکلو سره به یې ستاسو ذهن تر دې زیاتو اړینو موضوعاتو ته فراخ شي ویې لیکئ، همدارنګه یو بل غربي وایي: هغه څه چې ستاسو په ذهن او زړه کې ګرځي هر سهار مهال درې مخه چې۷۵۰ټکي ولري ولیکئ، په دې ډول به د ورځې تر ټولو لومړی کار چې تاسو وکړئ پر نورو اړینو ورځنیو کارو به د فکر کولو لپاره ستاسو د ذهن صفا یې وي، په دې ډول پر قلم باندې لیکل ذهن د لوړي سوبې فکر ته تیاروي.

۵:- که پر ورځنې ډول پر قلم یوه وړه لیکنه وکړو او په ترتیب خپل احساسات ولیکو، نو له هغو تجربو چې ښایي ډېرې زر یې هېرې کړو د تل لپاره یوه داسې د استفادې وړ ټولګه جوړه کړو چې نه یواځې لوستل به یې جالب وي، بلکې زموږ د فکري رویې او عاطفي ژوند په اړه به غوره بصیرت او احساس هم را کوي، هغه شیبې چې ښایي واقعي یې هم هېرې کړو که زر وي که پر ځند خو یوځل بیا به یې احساس کړو او د منل کېدو سطحه به مو لوړېږي.

۶:- ورځنې قلمي لیکنې مو پر ځان باور هم زیاتوي چې په هغو کې خپل تېر ته ځیر شو چې څرنګه له دومره بریالیتوب سره اوسنې رتبې ته را رسېدلي یو، څه ډول مو له پېچلو پلانونو او سختو شرائطو سره کار لرلی دی او په دې سره په راتلونکې کې پر ځان لازیات باور لرلی شو، که په ورځنې ډول یوه قلمي څېړنیزه لیکنه ولرو دا به زموږ لپاره د خوښې

خای وي چې په لیکلې بڼه خپل افکار او احساسات لرو، د دا ډول لیکنو په پای کې موږ متوجه کېږو چې د بېلابېلو افکارو او احساسونو یو کتاب لرو، نو نه یواځې پر کومه ځانګړې موضوع د کتاب لیکنې بلکې د ژوند په ټولو برخو کې د ورتیا یو نوی احساس را ښښي.

۷:- له ورځنیو قلمي خپرنیزو لیکنو سره مو د برلاسۍ او بریالیتوب احساس پراخېږي، ورتیا مو لوړېږي او استفاده مو غښتلې کوي، که هغه کارونه چې په څو ورځو او اونیو کې یې سرته رسوو ولیکو، وروسته یې په لړلیك کې له یوې یوې څخه تېرېدو پر مهال یو ډول خوښي احساسوو چې زموږ د استفادې ودې لامل ګرځي او همداسې مو فکري لید لوری پراخوي، تر شته لوړو اهدافوته مو پام اړوي او یوه ارزښتمنه سلسله رامنځته کوي.

۸:- زموږ رواني نارامۍ کولی شو پر قلم لیکلو سره له منځه یوسو، اړینه نه ده چې ووېنو په نړۍ څه ممکن دي، څه تېرېږي او څه پېښېږي، قلمي لیکلنې د کولو پر مهال پر نړۍ د ناممکنو بلکې لا د یوې ناممکنې نړۍ کړکۍ راته پرانېزي، پر خپله انګېزه د پاتې کېدو لامل کېږي او د خپلو محدودو باورونو له ګرداب څخه د خوندېتوب چانس دی، په ذهن او زړه کې د شته فکرونو او فلسفو لیکل د انسان بصیرت زیاتوي او د ځان پېژندنې تجربه پرې لوړېږي، لیکنه د ځان پېژندنې د ودې او د ارام ښونکې ورتیا لوړولو غوره لاره ده.

۹:- هغه څه چې په ذهن کې مو ګرځي لیکل یې زموږ پر دننه تضاد یا پر یو ځانګړې موقیعت زموږ د احساساتو پر تمرکز د کنټرول لپاره غوره لاره ده، دا داسې وي لکه موږ چې کوم نږدې همراز ته خپل د زړه درد ویلی او زړه مو ورته تش کړی وي، د لیکلو له لارې په نامستقیم ډول د خپلو احساسونو ښکارول د ذهني تضادونو په له منځه وړلو او په ذهن او زړه کې شته نړۍ پېژندلو کې خورا اغېز لري، د ذهني کشمکشونو لیکل له ځان څخه ناخبرې چې د انسان سیوری بلل کېږي او موږ یې هیڅ وخت نه منو د موندنې لامل ګرځي او ډېرې رواني ستونزې وررسره له منځه ځي، څېړنې ښیي چې پر ذهني فشار د برلاسۍ فن او لیکلو ترمنځ ټینګ تړاو موجود دی، څرنګه چې د یاد فن د تخنیك له مخې شخصي پرمختګ او معنوي رشد او ودې ته لاس رسي کېږي، د لیکلو له لارې هم یو ډول ذهني بیداری ته رسېدلی شو.

۱۰:- یو غربي روان شناس او د سپورت پروګرامونو جوړونکی وایي له ډېرو ناستو او پروګرامونو او ګڼ شمېر نظر پوښتنو وروسته دې پایلې ته ورسېدم چې د ورځنیو هېلو او اُمیدونو، غوښتنو، انتظارونو او فعالیتونو لیکل د رواني آرامۍ او د روحي کیفیت د ښه والي یو تخنیك ګڼلی شو چې د خوښۍ د احساس په پیاوړي کولو کې مرسته کوي، په حقیقت کې لیکنه د ذهني نګرانۍ یو تخنیك بللی شو چې پر مټ یې معنوي ورتیا او لوېدلې روحیه بېرته را ژوندي کېږي او سړی د ځان غوښتنې له منګولو خلاصوي.

نوموړی وایي هره ورځ یو ځل سترګې پټې کړئ، څو واره اوږده سا واخلئ او پر سا اُخېستو تمرکز وکړئ، کله چې مو ذهني کشمکشونه پای ته ورسېدل او ارامۍ مو احساس کړه، نو پر خپل ټول توان لیکل پیل کړئ او لومړی څه چې پام ته درغلل هر اړخیز یې ولیکئ، اړینه نه ده چې دغه فکر ستاسو د پېنځه دقیقې وړاندې کړنې محصول یا د وړوکتوب له یادښتونو څخه وي، یواځې خپل ټول احساسات ولیکئ او بیایې پایله وګورئ.

هغه وایي: په زغرده ویلی شو چې د خپل ژوند په اړه لیکنه د رواني حالت د درملنې یوه لاره ده، د فردي او شخصي ستونزو په اړه لیکنه د انسان ذهني اندېښنې او د زړه درد اراموي او ټولنیز او شخصي لیدلوری یې بدلولی شي، زیاتوي: زیاتر خلك ځان پېژندنې ته چې د انسان د لوړ ارزښت سیوری ورته وایو لاس رسي نه لري، وران/چپه یادښونه او غریزې د ذهن په تر ټولو تیاره برخه کې وي، وېره، عیب جویي، سختي، تند چلند او ټولې هغه ځانګړنې چې خلك یې نه خوښوي هم همدغه تارېکه کې وي چې د لیکلو له لارې یې پېژندلی او له منځه وړلی شو.

هو! دا ټولې ګټې پر قلم باندې لیکلو پورې ځانګړې دي او په تنې دړه (کیبورد) کې دا ګټې نه بلکې لا ځینې ضررونه هم شته، تجربو ثابته کړې او اوس هم هرڅوك تجربه کولی شي چې پر قلم باندې لیکلو او کاغذ باندې لوستلو کې یو عجیب خوږ کیف او خوند وي چې له بل هیڅ لارې لیکلو او لوستلو کې نشته، که په دې لسو مادو کې غور وکړو، نو دا به په څرګند ډول جوته شي چې د خپلو افکارو او احساساتو لیکل څومره او ولې مهم دي؟ او دې پایلې ته رسېږو چې پر قلم باندې لیکل رښتیاهم زموږ ژوند ته بدلون ور کولی شي، هغه چې بله لاره او چاره نشي ور کولی.

له قلم سره د ځوان کول او نوي نسل د بلدتیا او مینې په هیله

مات غرور

حافظ بدرالدین

اوښکې پاکوه یتیمه! خوله باندې خنداکوه
سوپر دې غلام کړلو، نور یې تماشه کوه

اوښکې دې که توی شوې انتظار د خوشالۍ کوه
وینې دې که توی شوې افتخار په قربانۍ کوه
دا د ایمان توره باندې فخر په دنیا کوه
سوپر دې غلام کړلو، نور یې تماشه کوه

دا خیالي قوت و، د بشر یې قصابي کړله
سره یې وو لاسونه په بشر به یې مستي کړله
ستا په ځنځیرونو کې اسیر شو تقاضا کوه
سوپر دې غلام کړلو، نور یې تماشه کوه

جوش دی، ولولې دي د نړۍ په هره خوا باندې
بلې سرې لمبې دي مرې به نشي ارمانیا باندې
پرېږده ارمانیا، کابل، کېسې د بخارا کوه
سوپر دې غلام کړلو، نور یې تماشه کوه

پاتې یې هډوکي شول په غرونو کې لېوانو ته
بیا به د غرور سر اوچت نه کړي افغانانو ته
دا د فتحې زېری په عمر او مرتضیٰ کوه
سوپر دې غلام کړلو، نور یې تماشه کوه

او وایه نغمې د ازادۍ په هندوکش باندې
وایه انفارمیشن کورباچوف او جورج بوش باندې
ځوکو د پامیر نه، بدرالدینه ! دا وینا کوه
سوپر دې غلام کړلو، نور یې تماشه کوه

shahamat



خوست کې د شيخ جلال الدين حقاني رحمه الله
له لوري جوړ شوی جامع جومات